# افغانستان څنګه جوړېدای سي؟

## (د نظر د خاوندانو نظرونه)

Download from:aghalibrary.com

**راټولوونکی:**

پیرمحمد "باوري"

**کال:** ۱۳۹۰ل.ل.

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب د چاپ او خپرېدو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.

# د کتاب پېژندنه:


- ϖ د کتاب نوم : افغانستان څنګه جوړېدای سي؟ (د نظر د خاوندانو نظرونه)
- ϖ راټولوونکی : پیرمحمد "باوري"
- ϖ خپرندوی : نارنج خپرندویه ټولنه-کندهار
- ϖ کمپوز : نارنج خپرندویي ټولني تخنیکي څانګه
- ϖ لومړی چاپ : ۱۳۹۰ل منی-۲۰۱۱ز
- ϖ د چاپ شمېر : ۱۰۰۰ټوکه
- ϖ چاپ لړ : ۴۱
- ϖ ګرځنده شمیره : ۰۰۹۳۷۰۰۳۰۳۲۵۱



**برېښنا لیکونه:**

afghan_saq@hotmail.com
narenj_saq@yahoo.com
afghan.saq@gmail.com

# فهرست


| شماره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه ...............پیرمحمد باوري | ۵ |
| ۲. | یک راه جدید برای معضلهٔ افغانستان ....... افغان جرمن انلاین | ۸ |
| ۳. | وحدت ملی یگانه راه مطمئن مبارزه.............امید وحدت | ۱۳ |
| ۴. | آیا می توان بحران افغانستان را حل نمود ............ پیتر فلیپ | ۱۹ |
| ۵. | آیا زموږ د هیواد ناورین پای لرلای سي؟ .... جنرال خطاب جانباز | ۲۲ |
| ۶. | پاکستان په افغانستان کي د خپل .........حبیب الله غم خور | ۲٦ |
| ۷. | یک ستراتیژی جدید برای افغانستان ......... دکتور عاصم اکرم | ۴۹ |
| ۸. | د سولي په لور د لار نقشه........... دوکتور م، ع، روستار تره کی | ٦۰ |
| ۹. | صلح، امنیت، بازسازی و ترقی در افغانستان ....دکتور شاه ولي | ٦۸ |
| ۱۰. | په افغانستان کی حالات ............ډاکټر صلاح الدین سعیدي | ۸۳ |
| ۱۱. | د افغانستان وضع د اندېښني وړ ده...... ډاکټر محمد حسن کاکړ | ۹۹ |
| ۱۲. | د سیال افغانستان د ژغورني پلان ............ډاکټر نبي مصداق | ۱۱۴ |
| ۱۳. | راه برونرفت قرار ذیل است!............صبور الله سیاه سنگ | ۱۲۰ |
| ۱۴. | .... ضیا شهریار (بی بی سی) | ۱۲٦ |
| ۱۵. | د افغانستان د ژغورلو ستونزي ............عبد الباري جهاني | ۱۳۰ |
| ۱٦. | راځئ چي سره یو سو ..................ګل احمد تیمار | ۱۴۰ |
| ۱۷. | .... محمد اسحق نګارګر | ۱۴۳ |
| ۱۸. | مسئول بحران افغانستان کیست؟ ........محمد اعظم سیستانی | ۱۴٦ |
| ۱۹. | افغانستان څنګه د دې وضعی نه وتلای سي؟ ..... محمد اقبال وزیري | ۱٦۷ |
| ۲۰. | افغانستان څنګه آباد سي؟ ............ محمد ظاهر افق | ۱۸۲ |
| ۲۱. | د افغانستان ترقي څنګه امکان لري؟........محمد نسیم سلیمي | ۱۸۹ |
| ۲۲. | د افغانستان د لانجې د حل په منظور وړاندیز .. منشي عبد القیوم | ۱۹۸ |
| ۲۳. | افغانستان څرنګه له روان بحران څخه وژغورو؟ ..... ولي عبد الله | ۲۱۰ |

# سریزه

ښه ډېر کلونه پخوا د ښاغلي عبدالجبار "ثابت" په نوښت "افغانستان چا وران کړ؟" تر نامه لاندې د هیواد د نامتو لیکوالو او سیاست پوهانو د نظریو یوه ټولګه چاپ سوه، چې موضوع او په تېره بیا عنوان ئې بې دلچسپۍ نه وو. ما ته له هماغه وخته دا تلوسه را پیدا سوه، چې د هیواد د پوهانو، تجربه لرونکو مشرانو، درنو سیاست والو او د نظر د خاوندانو مخ ته دا پوښتنه، چې "افغانستان څرنګه جوړیږي؟" کښېښودل سي تر څو د دغه ډېر مهم او اساسي رسالت د سرته رسولو له پاره لږ تر لږه د یوې ژوري او هر اړخیزې څېړني ارزښتناکه کار پیل سوی وي.

د هیواد د ورانولو پوښتنه مهمه ده خو زما په اند لومړی خو "ورانول" او "ویجاړول" د "جوړولو" او "ابادولو" په پرتله څو-څو ځلي اسانه کار دئ او نو ځکه ډېره تجربه نه غواړي.

له بلي خوا ګران افغانستان، چې اوس وران سوی او ټوټه-ټوټه په وینو لړلی را پاته دی که هر څونه زیات پر وژاړو ډېره ګټه به ونه لري. په پښتو کي یو متل دئ: پلار دې سپرو مړ کړ که پلو؟ "زما د ښې ئې وایست، سپاره وو، که پلي".

"د افغانستان د ورانولو" تاریخي تجربه هم هغه وخت ډېره ګټوره بلل کېدای سي، چې "د افغانستان د جوړولو" او یا "بیا-جوړولو" د ستر رسالت له پاره وکارول سي.

له بل پلوه یوه بله ستره او د ډېر اهمیت وړ خبره دا ده، چې د "ورانۍ" او "ویجاړۍ" د پوښتني را پورته کول سره له دې، چې

ډېر–ډېر مهم دي خو په هر صورت د علتونو په هکله ئې بې احتياطه او يا بې مسئوليته شننه د هيواد د پرګنو او روښانانو تر منځ د بې اتفاقۍ او اختلاف اور ته لمن وهلای سي او دا هغه کار دئ، چي د افغانانو خورا ډېر خوښيږي. په دا سي حال کي، چي د هيواد د جوړولو او آبادۍ خبره بېله شکه د هيواد د اکثريت اولس په تېره د هغه د روښانه برخي: ډاکترانو، انجينرانو، سياستپوهانو، استادانو، حقوقپوهانو، ملي سوداګرو او داسي نورو له بشپړيو والي او تر ځان تېروني نه پرته له سره امکان نه لري.

البته، په دغه تلاښ کي زه په هيڅ توګه د کوم ټولنيز جادوګر د "سحر" او "معجزې" يا د يوه ټولنپوه ډاکتر د کومي "نسخې" په لټه کي نه يم، چي دغه وران سوی هيواد په يوه دردنګ جوړ کړي، بلکي زما موخه دا ده، چي د ټولني ټول سالم قوتونه د يوه اوږده ډله ييز–بنسټيز کار د سر ته رسولو له پاره لږ تر لږه خپلي نظري او عملي هڅي را پيل کړي.

د دغه کار لومړنۍ ستړه داوه، چي اړونده پوښتني، تر هغه ځايه، چي زما په توان کي وه، بېله هيڅ ډول توپير او تبعيض څخه، د امکان تر حده د ټولو هغو پوهانو او د نظر د خاوندانو مخي ته، چي ما پېژندل او يا د هيواد په دننه او د باندي ميډيا کي مطرح دي، ايښودل سوي دي. خو په خوښۍ سره بايد ووايم، چي ټولو دغو ښاغلو په يوه مهربانه ږغ دغه غوښتني ته هر کلی ويلی دئ.

د مقالو ليکونکي هم له هري ډلي، اوسني او پخواني، د سياستوالو خبره "ښې"، کينڼ" او د "منځنۍ" سياسي او ټولنيزو تمايلاتو او نظريو خاوندانو له منځه غوره سوي دي.

موږ په بشپړه توګه پوهيږو، چي دغه هڅه يوازي او يوازي د يوه مهم کار (پيل) کېدای سي او بس.

کـه د پـاک خـدای ﷻ توفیق او د ګرانو پوهـانو او څېړونکو مرستـه را سره وه د نظریاتو د راټولولو او خپرولو دغي لړۍ ته به دوام ورکړو. د نظر ټول مینه وال خاوندان کولای سـي، چي خپلي لکیني او څېړني په هغه پته، چي د کتاب په پای کي سـته را ولېږي او موږ به ئې بیله هیڅ ډول لاسوهني څخه خپري کړو.

د ګران هیواد افغانستان د ودانولو په هیله

الاهی تـو آن کـن کـه پـایـان کـار
تو خوشنود باشی و ما رستګار

پیر محمد "باوري"
لندن، (۲۰۱۱ع)کال

مترجم: افغان جرمن انلاین
المان: ۲۰۰۸/۱/۱۲ م

# یک راه جدید برای معضلۀ افغانستان

نوشته لخضر براهیمي نماینده خاص قبلی سر منشی ملل متحد برای افغانستان

نمایندگان سیاسی افغانستان تحت نظارت موسسۀ ملل متحد، هفت سال قبل برای اعمار مجدد وطن خود روی خرابه های رژیم طالبان به موافقه رسیدند.

نتائج این کنفرانس و موافقت در آن که با آمادگی چند هفته ای و در ظرف صرف ده روز صورت گرفت، در وقتش یک معجزۀ سیاسي تلقی گردید، که تا اندازه ای درست است ولی این موافقت نامه توسط جناح های متخاصمی به امضاء رسید که نه تنها طور شاید و باید از همه مردم افغانستان نمایندگی کرده نمی توانستند بلکه از بعضی معضلات حاد سیاسي نیز چشم پوشی کردند.

من در آن وقت علناً گفته بودم و تکرار می کنم که موفقیت های به دست آمده تا وقتی موثر نخواهد بود تا با مشکلات حاد دست و پنجه نرم نکنیم و همین است که افغانستان امروز دچار مشکلات فراوان است.

ظرف دو سال بعد از توافقات بُن، پیشرفت های زیادی صورت گرفت. مثلاً اکثر افغان ها برای بار اول در چندین دهه احساس مصئونیت کردند. بیش از پنجاه فیصد مهاجرین عودت و تقریباً هشتاد فیصد مردم به نوعی از تسهیلات صحی دست یافتند. پنج تا شش ملیون طفل به مکاتب باز گشتند و قسمت های از دولت ملی و یا

محلی توسط اشخاص قادر و با تقوا اداره شد. این موفقیت ها به قیمت جان عده ای کثیری از افغان ها و خارجی ها تمام شد که باید از آن قدر دانی کرد. ولی مشکلات عدیده ایکه افغانستان به آن رو بروست می تواند تمام این دستآورد ها را نقشی بر آب نماید.

قانون شکنی ها، بیکاری، بی کفایتي دولت، فساد اداری، قاچاق مواد مخدر و ازدیاد بمیاردمان ها امید افغان ها را به بی تفاوتی، ناتوانی و حتی قهر مبدل کرده است.

رئیس جمهور کرزی باید اولین قدم را مبنی بر اقرار در عدم پیشرفت دولتش بر دارد. دولت به صورت روز افزون به یاغیان و سرکشان جا خالی میکند و تقریباً در یک سوم مناطق نفوذ خود را از دست داده است. و بالاخره سیاست مداران افغان عوض بسیج شدن مقابل یک دشمن مشترک، با هم روی اغراض شخصی و خود خواهانه برای بدست آوردن قدرت در جدال قرار دارند.

از طرف دیگر افغان ها جامعه بین المللي را متهم به پشت پا زدن به وعده های شان و نیاوردن امنیت د عدم اعمار مجدد وطن شان می نمایند، در حالیکه گمان می رود بلیون ها دالر کمک های خارجی حیف و میل و ضایع گردیده باشد. تا زمانی که قوای کمکی امنیتی بین المللی (ISAF) تحت فرمان ناتو (NATO) قرار نگرفته بود در کابل مورد استقبال قرار گرفت ولی حالا بی اثر و خنثی تلفی می گردد، و بیم آن می رود که از طرف افغان ها به حیث قوای اشغالگر شناخته شوند. قوای اشغالگر هیچگاه در افغانستان پذیرفته نشده است.

روی این ملحوظ به یک ستراتیژی جدید که طی مساعی مشترک افغان ها و همکاری جامعۀ بین المللی به مرحلۀ ارا گذشته شود اشد ضرورت است.

جواب های مقنع و مناسب به سه سوال آتی می تواند نقطهٔ شروع برای مباحثات در این راستا باشد.

اول: طالبان کی ها اند، از کی نمایندگی مي کنند، تا چی اندازه توان دارند و چه می خواهند؟

آیا افغانها به آنها می پیوندند و یا از آنها دوری می کنند و چرا؟ بی ثباتی در افغانستان تا چه اندازه به طالبان ارتباط میگیرد؟

دوم: چه چیز باعث خواهد شد تا روابط مستحکم بین افغانستان و پاکستان روی اعتماد متقابل بوجود بیاید. این یک حقیقت جیوپولیتیک است که صلح در افغانستان در صورت مخالفت پاکستان به آن، امکان پذیر نیست.

سوم: پیشرفت های عمدهٔ منطقوی به روابط افغانستان و پاکستان تا چه اندازه اثر گذار است. به صورت عموم آیا مفکورهٔ انکشاف افغانستان از آن شکل می گیرد یا خیر؟

وقتی کسانی که باید بر ضد دزدی مبارزه کنند خود مرتکب دزدی می شوند و اعتراض را با مشت ولگد جواب می دهند آیا می توان به اینده ء امنیت در این کشور امید بست؟

مقامات قضائی که در حوزه ء ارگان های نظامی و انتظامی مصرف کار اند می گویند که تنها در شش ماه امسال حدود یک هزار دوسیه از تخلف منسبوبین ارگانها را زیر بررسی دارند که در آن متهیم از سرباز گرفته تا رتبه ء دگر جنرال هستند و جرایمي از اخاذی و اختطاف گرفته تا قتل و تجاوز و انواع جرایم دیگر را شامل است.

منظور این سخن ها این نیست که برای مقابله با قانون شکنی ها باید به دیکتاتوری پناه آورد. مقصود اینست که در جهان فقط یک نوع دیموکراسي وجود ندارد بلکه هر کشوری بنا بر شرائط

اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی خویش نظام سیاسي خود را بر می گزیند و بعد در طور زمان به اصلاح کاستی ها می پردازد. امروز دیموکراسي امریکا با دیموکراسي انگلستان فرق دارد. نظام دیموکراسي در فنلند با هسپانیا همسان نیست، در هالیند دولت بر اقتصاد کشور طوری اشراف دارد که با قوانین و مقررات خاص مانع از ثروتمند شدن یک اقلیت کوچک به ضرر اکثریت جامعه می شود اما کسی نمی گوید که در هالیند در مقایسه با افغانستان دیموکراسي کمتر است.

افغانستان هم کشوری است با شرایط خاص خودش. آنهائی که نسخهء دیموکراسي غربی را برای این کشور تجویز کردند به این نکته ها توجهی نداشتند. خانمی که از غرب آمده بود می گفت: وقتی من در دوران طالبان تصاویری از افغانستان را در تلویزیون می دیدم که زنان را با چادری نشان می داد، خجالت می کشیدم و آرزو می کردم که روزی فرصتی فراهم گردد تا به افغانستان بروم و زنان را وادار سازم تا چادری های شانرا آتش بزنند.

دنیای غرب شاید تا هنوز هم به این نکته متوجه نشده باشد که دفاعش از یک افغان مسیحی شده و یا از کسانی که به توهین به اسلام متهم بودند چقدر در ترغیب عملیات انتحاري موثر بود. دفاع غلط از یک نفر موجب کشته شدن هزاران نفر گردید و هزاران جوان را به پیوستن به صف خشونت و جنگ ترغیب نمود.

من با این سخن سفیر بریتانیا موافق نیستم که دوای این دردها دیکتاتوری است اما به این باورم که آنچه که ما بنام دیموکراسي در این کشور شاهد آن هستیم، موافق به شرایط اجتماعي کشور ما نیست. این نظام که جز انارشی نام دیگری برای آن نمی توان

گذاشت افغانستان را بسوی تباهی می برد. عجیب است که کسانی ادعا می کنند که قانون اساسی کشور ما در مقایسه با قوانین اساسی کشورهای همسایه و حتی بسیاری از کشور های دیگر دنیا دیموکراتیک تر و گسترده ءآزادی ها در آن وسیع تر است. این سخن درست است اما دلیل اینکه در کشور های دیگری که ما بر آنها فخر قانون اساسی می فروشیم احترام به قانون بیشتر است همین است که آنها قوانینی مطابق به شرایط جامعهء خود دارند و قانون اساسی ما نه مطابق به شرایط کشور ما بلکه مطابق به شرایط کشور های اروپائی و امریکاست. از اینجاست که کشور ما بسوی انارشی می رود و نه تنها دولت ما بلکه بزرگترین قدرت نظامی جهان هم که به کمک ما آمده است نیز توان مقابله با این حالت را ندارند.

امید وحدت
۲۰۱۱/۸/۱۳ م

# وحدت ملی یگانه راه مطمئن مبارزه علیه دسایس استعمار نیست!

پس از حوادث (۱۱) سپتامبر افغانستان یکبار دیگر مورد توجه جهان قرار گرفت. تبلیغات مطبوعات غربی چنان وانمود مینمودند که گویا با سقوط اتحاد شوروی وقت و انحلال بلاک شرق دیگر نیاز به تقابل و رویاروی قدرت های بزرگ در افغانستان منتفی گریده قدرت بر تر نظامی جهان، ناتو و همسایگان ما سفحه جدیدی همکاری و بهروزی ملت افغانستان را با اعمار مجدد و باسازی وعده و سربازان قریب به (۴۳) کشور با فیصله شروای امنیت ملل متحد بمنظور احیای نظم و حفظ امنیت وارد کشور عزیز مان گردید. ملت افغان نیز با جبین گشاده ورود شانرا خوش آمدید گفته و اینبار عملی شدن تعهدات اخلاقی جامعه جهانی را با خیال راحت و ساده انتظار داشتند و سیاسیون ما نیز به هر آن فرمایش ایشان تمکین نموده، بنام دیموکراسي، بازار آزاد، نظم نوین اقتصادی و... توسط به اصطلاح رهبران جنگی که از قبل بر گرده ملت سوار و تحمیل نموده بودند عم، و به سیاه روزی ملت ما ادامه دادند. از تولید مواد مخدر تا تنظیم قاچاقبران و سلاح بدستان زورگو در شرکتهای خصوصی امنیتی، غارت و انتقال سرمایه های ملی و تقرر افراد وابسته به استخبارات خویش را حاکم بر سرنوشت ما گردانیدند.

آنچه ادامه وضع موجود را تحمل کرده نمیتواند تلفات جانی سربازان خارجی و حیف و میل پول مالیه دهندگان جوامع کمک دهنده است. تعویض و ائتلافهای سیاسی پارلمانهای غربی که منجر به برنده و بازنده انتخاباتی احزاب این کشورها میگردد، افکار عمومی مردم را مطبوعات سمت و سو داده و افشای هر عمل جنایتکارانه و خلاف منافع کشورها را مثلاً (۹۲۰۰۰)سند محرم وزارت دفاع امریکا در قضیه افغانستان مشکلات و درد سرهای را در برابر ائتلافهای رهبران جهان بوجود می آورد.

این درست مخالف آنچه در اوایل به منظور ایجاد ائتلاف جهانی برای افغانستان بیان داشته بودند قرار دارد. اظهارات سخیفانه، بی شرمانه و کاملاً بدور از عرف دپلوماتیک جز شکست افتزا آمیز شان چیزی دیگری تلقی نمی گردد.

حق تعین سرنوشت ملیت ها یا کوچک سازی کشورها یا تجزیه کشورها هیچ ربطی با دموکراسي ندارد. افراد آگاه و سیاسی کشور می دانند هر باریکه لشکر کشی ها به بن بست می انجامد طرح تجزیه، فدرالیزم، ملیشه سازی و صلاحیت بخشیدن بیشتر به والیان بمیان کشانیده میشود. سابقه این درامه ها به شوروی ها و شکست ذلت بار شان در افغانستان می رسد. آنزمان نیز خیال انتقال پایتخت از کابل به مزار شریف را در سر می پرورانیدند. امروز هم اگر جنرالان متقاعد پنتاگون نقشه های را به چاپ میرسانند و پیرت گالبریت ها یا دیپلومات و سفیر سابق امریکا در هند رابرت بلک و یا روزنامه گاردین و یا احمد رشید ژورنالیست پاکستانی په فایننشل تایمز ضد و نقیض هم مطالبی را در افکار عامه جهان آگاهانه جهت تامین دیموکراسي!؟ و خروج از بن بست نظامی در افغانستان ارایه می

نمایند جز همان پلان های شـوم اسـت. آگاهان سـیاسـي می دانند که تجزیـه ابعـاد منطقهٔ دارد و اولین قربانی آن پـاکسـتـان، ایران و آخر ماجرا به خاور میانه بزرگ میانجامد. آقای احمد رشـید پاکسـتانی آگاه در مسـایل امور با وجودیکه ظاهراً قهرمانی ملت افغانسـتان را بیان داشـته اما در واقع از طرح ایجاد بلوچسـتان که کمر پاکسـتان و ایران را در واقع میشـکند به گمانم ماهرانه تفره رفته و کتمام می مینماید. منافع هند که مشـکل ساز این ماجراست طراحان اصلی را گاه-گاه متردد نموده و کمپنی های نفتی نقشه های جدید و جدیدتری را مطرح می نمایند به عقیده من مگر قضـیه کشـمیر به نفع هند قرار گیرد تا به این سادگی گام های بعدی بر داشته شود. از همین جاست که همسایگان نا مهربان و حریص ما و سعت این آتش سوزان را قبل از ما در دامن خویش می بینند و روی همین دلایل بود که دولت پاکستان یا همکار خوب!؟ و دوسـت مطمن!؟ امریکا بریتانیا در منطقه به ظاهر امر (دشـمن ایران) بتاریخ ۲۳ فبروری ۲۰۱۰ ع عبدالمالک ریگی رهبر بلوچستان را که بنام حزب جندالله معروف است مرموزانه تحویل مقامات ایرانی نمودنده و خبر رسـانی ایرنا با پخش خبر کوتاه که گویا سربازان گمنام امام زمان، رهبر سازمان موسوم به جندالـلـه را گرفتار و چندی بعد اعدامش نمودند. این خوشـخدمتی پاکسـتان در واقع صـرف به ایران نه بلکه از خود نیز اسـتادانه دفاع نموده اسـت. آنچه در این بازی قابل مکث بود بر خورد دوگانه غرب است.

هموطنان عزیز!

نوای صلح که از سـالیان متمادی در مقاطع معین و حسـاس تاریخی کشور بمنظور دین و ادای رسالت خویش ندای بر حق وحدت ملی، منافع ملی و حفظ تمامیت ارضـی را در سـر لوحه فعالیت های

سیا سی خویش قرار داده است. یکبار دیگر از همه فرزندان صدیق کشور التماس و تمنا نموده تا در این آرمان ملی با سهم شایسته خود، خانواده، قوم، ملیت و اقوام ساکن این سرزمین یک ملت واحد و یک افغانستان یکپارچه که افتخار مشترک همه ماست یاری رسانیده و از هیچ نوع ایثار و فدا کاری دریغ نورزید تا روح ملیونها شهید، قهرمان و سربازان گمنام این مرز و بوم شاد و افتخارات نیاکان مان در امان باشد.

خواهران و برادران هموطن!

یکی از طرق نیل به هدفهای کلان کشوری پزیرش و تحمل مخالفین سیاسی ما در چوکات پلورالیزم سیاسیست. خوشبختانه امروز تمام اقوام شریف ساکن در افغانستان در قدرت سهم دارند. ولی بنا بر نبود فرهنگ انتخاب دیموکراتیک این اقوام است که از ضعف شان افراد فرصت طلب، زورگو، فاسد، استفاده جو و وابسته به اغیار سود برده و در رهبری شان به زور و زر تحمیل گردیده که نتیجتاً صرف نظر از اینکه خدمتی به قوم یا ملیت و مذهب خویش ننموده اند، بلکه علیه منافع اولیای مملکت نیز قرار گرفته و در تطبیق اجندای کشورهای حامی و بیگانه به زراندوزی و تجارت سیاسی و اقتصادی مصروف اند.

به عقیده من به هر پیمانه یکه افراد پاک، تحصیل کرده، آگاه، دلسوز متعلق به مردم وطن در چوکات دولت، پارلمان و نهاد های مدنی حضور فعال و منسجم داشته باشند به همان اندازه دست مفسدین و جانیان جنگی و غارتگران داخلی و خارجی کوتاه تر میگردد. در حالیکه سخت به آزادی بیان و دیموکراسی مطابق شرایط عینی و ذهنی جامعه ما باورمند هستیم راه حل را صرف در انتقاد از دیگران ندانسته و از شرایط امن و امان خارج کشور صدور نسخه

های غیر عملی را مصلحت نمیدانیم. بهتر و موثر تر خواهد بود که با حفظ نقطه نظرات انتقادی و مخالف در مورد دولت آقای کرزی به اصلاح رژیم کوشید تا آنکه سر از نو سنگ تهداب دولت جدید و فرا گیر!؟ (از کدام مردم) را نهاد. بُعد دیگر این دولت را که مستقیماً به خارجی ها و خاصتاً به امریکا و بریتانیا (آمرین اول و همه کاره) اند تعلق میگیرد. نگاه عمیق و مسولانه داشته باشیم. در کدام موردی واقعاً اعضای اصلی ایتلاف با هم توافق دارند و منافع شان با هم چرا در تکر و تضاد قرار میگیرد؟

از مبارزه علیه تروریزم تا مسایل کنترول ولایات، از حمایت کشورهای دخیل در قضیه افغانستان تا مسایل جهانی در داخل علیه ایتلاف بازی خطرناک استخباراتی جریان داد.

آنچه اپوزیسیون دولت در درون دولت انجام میدهند و مسئولیت تاریخ را عهده دار هستند. و چنانکه تمثیل می نمایند جداً توقع میرود که اگر به اساسات دموکراتیک پابند باشند در موضعگیری های خویش خط سرخ را رعایت و عملیکه خلاف منافع ملی تشخیص گردد در پهلوی دولت از منافع کلان کشور که همانا سلامت و تمامیت ارضی ماست قرار گیرند.

آیا به جواب این به اصطلاح دپلومات امریکای ایجاب نمیکرد که آقای عبدالله–عبدالله و یا اگر شخصی بنام ملا محمد عمر رهبر طالبان افغانی وجود خارجی و استقلالی داشته باشند جواب قاطع و دندان شکن را حواله مقامات خارجی و یا برای تثبیت افغان بودن و مدافع افغانستان حد اقل به افراد متعلق به خود که در موارد بی ارزش کنفرانسهای پر طمطراق را دایر می نمایند عکس العمل روشن بیان میداشتند.

رهبرانیکه به دفاع کاذبانه از قوم و قبیله خود دست به تحسن

غذای می زنند، (۵) چوکی وزارت و سفارت را هلال مشکلات وطن می دانند و یا به دفاع از این و آن کشور خارجی تظاهرات خود جوش!؟ براه می اندازند و یا استخاره نموده و فتوا صادر می نمایند کجا شدند و چرا صدای اعتراض بلند نکردند؟

تا چه زمانی به در و درگاه پارلمانها و کانگرس کشور های غربی و شرقی سرگردان بوده و در چنین مواقع برای احراز کرسی رقیب سیاسی از هر زمان دیگر تلاشها را تشدید بخشیده و به زعم خویش خدمت به وطن و تمثیل رهبر دلسوز را به نمایش می گذارند.

فشرده کلام هموطنان عزیز!

آنچه به ما تعلق می گیرد حفظ تمامیت ارضی کشور ماست که وظیفه هر فرد افغان بوده و مسئولیت ایمانی، وجدانی و دین مادر وطن است چه دولت و دولتی ها و چه سازمانها و احزاب سیاسی مردمی اگر موجود باشند، همه وطنپرستان قلم بدست و خانواده مطبوعات وظیفه داریم تا آگاهی عمومی هموطنان را بلند برده، اهمیت و عواقب موضوع را درک نمایم.

با وجودیکه از وظایف اصلی رئیس جمهور، معاونین، اعضای کابینه، مشرانو جرگه، ولسی جرگه، والیان، ولسوالان، علمای کرام، رادیو تلویزیون ملی و... همه و همه در هر کجای که قرار داریم همچو اظهارات سبک سرانه را تقبیح نموده و نگذاریم که دشمنان وطن به خیال پردازی های واهی افکار جامعه را مسموم سازند.

زنده باد افغانستان!

بریده باد دستان دشمنان وطن!

پاینده باد ملت صلحشور افغان!

نویسنده: پیتر فلیپ
تاریخ: ۲۰۰۸/۲/۱ م

# آیا می توان بحران افغانستان را حل نمود؟! و یا...

**آیا یگانه راه حل همانا واگذاری افغانستان به حال خودش و فرار از این سرزمین است؟ بخش اعظم مردم افغانستان آرزو دارند که در صلح و آرامش زندگی کنند.**

آیا می توان بحران افغانستان را حل نمود و یا با افغانستان چه باید کرد؟! این گونه پرسش ها که طی ماهها و هفته های اخیر بیشتر از پیش در مطبوعات غرب مطرح می گردند، برای بسیاری ها غیر واقعی و غیر قابل به نظر می رسند.

شهروندان کشورهای غربی اکثراً به این باور بودند که با شکست طالبان و فرار گروه دهشت افگن القاعده از افغانستان دوران رنج و بدبختی این کشور به پایان رسیده است. اما اوضاع امروز افغانستان واقعیت دیگر آشکار می سازد که با خواست و آرزوهای مردم این کشور و ممالک کمک کننده یکسان نیست. به همین شکل آنانی که شش سال قبل در کنفرانس بن شکرت نموده بودند به این باور بودند که دیگر هرگز پرسش، با افغانستان چه باید کرد و یا بحران افغانستان قابل حل می باشد را، نخواهد شنید.

اما درست همیت پرسش ها که به اصطلاح پرسش های یک ملیارد دالری استند؛ این روزها مطرح می گردند و کمتر کسی قادر

است تا به این گونه پرسش ها پاسخ قانع کننده ارائه کند. افغانستان که بابرگزاری انتخابات ریاست جمهوری و پارلمانی اولین گامها را در راه دموکراسي گذاشته بود، در حال حاضر در حالت قرار دارد که حتی مراکز پژوهشی امریکایی ازو فروپاشی قریب الوقوع دولت در این کشور، هشدار می دهند.

## عدم موفقیت رهبری افغانستان:

حامد کرزی اولین رئیس جمهور منتخب افغانستان ضعیف تر از آن است که بتواند به تنهایی مشکلات موجود در افغانستان را حل نماید. او طی شش سال گذشته موفق نگردیده است که حتا ساحه نفوذش را بیرون از کابل بیشرت گسترش دهد. کرزی که باری مستحکم نمودن پایه های قدرتش مانند تمامی کرسی نشینان این کشور وابسته به همکاري باحکام محلی می باشد؛ حتا از همکاری باجنگسالاران که در بین مردم نام نیک ندارند، خود داری نورزید. او گذشته های آنان را، و به عین شکل زورگویی ها و تجارت مواد مخدر شانرا نادیده گرفت، تا موقف خود را بهرت ساخته باشد. اما موقف کرزی بهتر نشده است.

کرزی که تلاش می نمود تا از کشور دست نشانده غرب و از سوی دیگر از دست جنگسالاران معرفی نگردد، در این راستا موفق نبوده است.

حالا وضع در افغانستان به شکلی است که طالبانی که تا چند سال قبل شکست خورده به حساب می رفتند دوباره سر از غار های خود بیرون آورده و همه روزه قویتر می گردند. با بیشتر شدن نیرو های طالبان شرایط در افغانستان وخیم گردیده و جای تعجب نیست که برخی از کشور های غربی در حالت عقب نشینی از این کشور می باشند.

البته آلمان در این میان هنوز هم به وعده هایش برای کمک به مردم افغانستان وفادار است. اما آلمان نمی تواند که به تنهایی چرخش اوضاع در افغانستان را به طرف بهبودی تغیر بدهد. بدن شک که در افغانستان به نیروهای نظامی بیشتر، به کمک بیشتر برای بازسازی و به پشتیبانی بیشتر از روند دیموکراسی نیاز دارد؛ اما طوری که دیده می شود کشورهای کمک کننده به افغانستان دیگران شوق و اشتیاق سالهای گذشته را برای انجام دادن کمک های بیشتر به افغانستان را ندارند.

## پس چه باید کرد؟!

آیا یگانه راه حل همانا واگذاري افغانستان به حال خودش و فرار از این سرزمین است؟!

البته که نه؛ بخش اعظم مردم افغانستان یک آرزو دارند و آن هم زندگی کردن در صلح و آرامش است. این صلح و آرامش بدون کمک جامعه جهانی ممکن نیست. بناء وقت آن رسیده تا بادرک واقعیت های اجتماعی سیاسی افغانستان به این کشور کمک صورت بگیرد. البته این کمک تنها درصورت می تواند موثر واقع شود که همکار قوی و ورزیده در کابل شد. در غیر آن، روزی فرا می رسد که پیشگویی ها در رابطه با فروپاشي دولت افغانستان، درست از آب در خواهند آمد.

# آیا زموږ د هیواد ناورین پای ته رسېدلی دی؟

د (بن کنفرانس) کي نړيوالي ټولني د مجاهدينو د رهبرانو په تېره بيا د شمال ټلوالي سره د يوه کاږه خيانت نه ډک يووالی بنسټ کښېښود.

په دې کنفرانس کي د افغانستان سرنوشت د داسي بدنامو او رسوا سياسي څېرو لاس ته ولوېدئ، چي په وروستيو لسيزو کي د عامه اولس بې رحمانه وژنه، د ټولنيزو شتمنيو چور او چپاول، د خلکو په مال او ناموس تېری، د خپلو ځاني او ګروهي ګټو له پاره له بهرنيو ملکونو سره د هيواد د ګټو پر ضد پټي وطن پلورونکي موافقي کول او د جګړې تباه کوونکی اور ته لمن وهل د دوی آساسي دنده او کړنلاره وه.

تيري لسيزي ټولي نړۍ ته ثابته کړل، چي د افغانستان دولتي واکداران د هيواد د يووالي، ځمکني ټولتيا، ټولنيز عدالت او اقتصادي پرمختګ ځرګند دښمنان دي.

په تيرو لسو کلونو کي د اسلام د مقدس دين نه په ناوړه ګټه اخيستلو سره د افغانستان د دولت ستري لاس ته راوړني داسي شمېرلای سو: ټولنيز فقر، بيکاري، اداري فساد، معامله ګري، بې

قانوني، د زور او زر د لرونکو هر ډول تېرى، ظلم او ناروا کول (چي هيڅ څوک ئې پو ښتنه هم نه سي کولاى)، درواغ ويل، فرېب، غفلت او بې پروايي، د مخدره موادو په کار و بار د لوړو دولتي چارواکو ور ګډوالى او د چارو د سمبېدني د اولسونو ناهيلي. که پر دغو ټولو ناخوالو ورځ په ورځ ډېرېدونکي بې امنيتي هم ور اضافه سي نو د ملت د ژوند ريښتونى حالت هر څوک ښه تصور کولاى سي.

د جهادي مشرانو او د ملي يووالي د دښمنانو بل تاريخي خيانت د خپلو واکمنۍ د بقا او دوام له پاره د افغانستان د خلکو تر منځ د ډول-ډول ژبني، مذهبي، نژادي، سمتي نفاق او دښمنيو پراخول دي. په تېره بيا د پښتنو او نورو ملي تکمونو تر منځ نفاق اچول د تاريخ په اوږدو کي و ډېر خطرناک او تباه کوونکي پړاو ته رسېدلي دي، چي د ملي يووالي له پاره ډيري زيانمني پايلي لرلاى سي.

تر ټولو مهمه خبره لا دا ده، چي د غه ټول خاينانه پلانونه او جنايتونه په قصدي او ارادي توګه د پاکستان او ايران په لمسون د دوى د څرګندو اجنټانو په وسيله، چي ټول دولتي واک په لاس کي لري، عملي او پلي کيږي.

اوس هر څوک د پاکستان په لمسون د افغانستان او پاکستان د پولو په دواړو خواوو کي د پښتنو د عامي ټول وژني جريان د سر په سترګوويني.

تر نن ورځي پوري عملي سوى دولتي سياست ثابتوي، چي:

۱. کورني او بهرني وسله وال ځواکونه، چي شمېر ئې اوس کابو څلورو سوو زرو تنو ته رسيږي د لسو پنځلس زرو تنو په اصطلاح (طالبانو) مخه نه سي نيولاى او د هيواد امنيتي حالت هره ورځ له بلي نه خرابيږي.

د دغه وضعيت نه خلک په عامه توګه داسي نتيجه اخلي، چي نه د افغانستان کورني واکداران او نه هم د دوی بهرني شريکان يو لا هم په هيواد کي بشپړ او ډاډه امنيت راوستلو ته ژمن نه دي او نه هغه په خپله ګټه ګڼي.

د دغه قضاوت يو ثبوت دا دئ، چي بهرني هيوادونه او په سر کي ئې امريکا او انګليس د افغانستان سره هيڅ ډول صادقانه مرسته نه کوي او له بل پلوه پاکستان هم نه خوابدی کوي.

د خبري بل ثبت دا دئ، چي د غه بهرني دولتونه په بيلو–بيلو بهانو د افغانستان د اردو له بشپړ سمبالولو نه ځان باسي او په پرله پسې توګه د افغانستان پر خلکو باندي د رهزنانو واکمني تحميلوي.

۲. د مخدره موادو د کښت او تجارت پراختيا هر کال ميلينونه ډالره د افغاني واکدارو او د دوی د بهرني شريکانو جيبونو ته اچوي او بر سېره پر دې د (طالبانو) جګړې هم تمويلوي.

زما په نظر د دغه حالت نه د خلاصون له پاره بايد لاندي ټکي په نظر کي ونيول سي:

الف: د افغانستان د ټولو خلکو په تېره د ځوانانو او روشنفکرانو تر منځ د ملي يووالي تامينول.

ب: د ملي وحدت د سمبول يوې سالمي دولتي ادارې د جوړولو له پاره هر اړخيزي هڅي.

ج: د انتقالي عدالت تامين، د دولتي واک نه د پېژندل سوو جنګي جنايت کارانو ليري کول او محکمې ته د هغوی راکشول.

۳. د دغو هدفونو د ترلاسه کولو له پاره په ملي او نړيوال کچه د يوه غښتلي حرکت را منځ ته کول ضرور دئ، تر څو د هيواد په دننه او بهر کي ټول هيوادپال شخصيتونه او سازمانونه را غونډ او دې

ته وهڅوي تر څو د وطن د لوړو ګټو په خاطر ټولي پخوانۍ ناخوالي هيري کي. د دغه ارمان له پاره بايد د هيواد په دننه او بهر کي د ټولنيزو رسـنيو يو هر اړخيز پروګرام جوړ او مـادي اړتيـاوي ئې پـه خپلـه د افغانانو له خوا تامين او بشپړي سي.

خو تر ټولو مهم شـرط به دا وي، چي د دغه سـتر جريان رهبري د هيواد د پوهو او وطن پالو شخصيتونو له خوا وسي.

لیکونکی: حبیب الله غمخور
نېټه: ۱۷ اپریل ۲۰۱۱ ع

# پاکستان په افغانستان کي د خپل منځي جګړې د دوام د اساسي لامل په توګه

له هغې ورځې، چي پاکستان په نامه هیواد د مځکي د کرې پر مخ جوړ سوی دوی د افغانستان سره دښمني پیل کړې. دوی په ښکاره دا خبره نه ده کړې، چي ګویا د ښمنۍ د دوام لامل ئې د ډیورنډ لعنتي کرښي پر لانجه ده. ځکه دوی دا خپل حق بولي او نه غواړي دا مسله د سیاسي خبرو پر مېز مطرح سي.

پاکستاني چارواکو تل کوښښ کړی د افغانستان په کورنیو چارو کي لاسوهنه وکړي او افغان دولتونو ته سرخوږي پیدا کي.

پاکستاني چارواکو د خپلو او نړیوالو دوستانو له ټولو امکاناتو نه په استفادې سره تلاښ کړی په افغانستان کي یو لاسپوڅی رژیم ولري تر څو دوی هغه څه په سره سینه سرته ورسولای سي کوم، چي دوی ئې غواړي.

د افغانستان او پاکستان تر منځ کړکېچونو مختلفي مرحلې تیري کړي کله اختلاف د سپربري تر کچي زور اخیستی او کله بیا یوزاي پر ډیپلوماتیکو او تبلیغاتي سیالیو بسنه سوې ده.

زه اوس پر دې خبري نه کوم، چي پر افغانستان د شوروي اتحاد تر یرغل وروسته پاکستان له موقع نه د ځان او خپلو موخو په ګټه څومره استفاده وکړه، خو دومره وایم، چي په دې لسو کلو کي ئې د افغان مجاهد په نامه دومره مالي او مادي او تخنیکي امکانات تر لاسه کړه، چي د خپل جوړېدو په تاریخ کي ئې نه وه ترلاسه کي. په یوه

خبره د همدې جګړې برکت وو، چې پاکستان په اټومي هیواد بدل سو.

د افغانستان څه د پاسه درې لسیزې جګړه هغه جګړه ده، چې د جنرال ضیاء الحق، جنرال اختر، جنرال حمید ګل او ځیني نورو پاکستاني لوړ رتبه جنرالانو او د دې هیواد د استخباراتي سازمان د پردې شا ته پر دې جګړې باندې بې دریغه تېل پاشي، تر څو د دوی په وینا په ټول افغانستان کې همېشه د جګړې اور بل وساتل سي.

په افغانستان کې د نړیوالو زبر ځواکو تر منځ د سړې جګړې په دوام کې یو په بل پسې نظامونه تبدیل سول، خو یو څه پر خپل ځای او ثابت پاته سول هغه د پاکستان هڅې د خپلو ګټو په خاطر د (۲۰۰۱ ع) کال نه را وروسته، چې امریکا په افغانستان کې د دوی په وینا د القاعدې پر خلاف د خپل پوځي شتون مسله مطرح او د ملګرو ملتو د سازمان امنیت شورا نه ئې په افغانستان کې د هغوی پر پټن ځایونو وسله واله حمله پیل کړه، حوادثو داسې تغیر وخوړ، چې دا دئ تر اوسه د امریکان او ناټو پایڅه په افغانستان کې بنده پاته ده.

د پاکستان جنرالان، چې په یوه لاس کې ئې توره او بل کې قرآن دئ تل دوه مخي سیاست کوي. دوی له یوې خوا د افغانانو او په ځانګړې توګه په پښتنو سره د دوستۍ خبري کوي او له بلې خوا د امریکا د نړیوال تروریزم پر خلاف مبارزې تر نامه لاندې عملاً د پښتنو پر خلاف خپل سیاست پر مخ بیایي.

دوی د خپلو کرغېړنو موخو له پاره د تروریزم او القاعدې سره د مبارزې په نامه په سیمه کې پښتانه له منځه وړي. د پولې دواړو غاړو ته مېشت پښتانه قومونه باید په زیاته هوښیارې سره د پاکستاني جنرالانو په لاس دغه د شرارت بهانه، چې ګویا اسلام پال او ترهګر ټکوي ور نه کې، د پاکو او سپېڅلو مسلمانانو په توګه د

سیاسي اسلام سره وداع وکړي په خپله سیمه کي دغو د نړیوال او پاکستاني څارګرو د سازمانو له خوا جوړ سویو ډلو او سازمانو ته په هیڅ نامه ځای ور نه کړي او نه هم د پښتنو د ښمنانو ته دا زمینه او پلمه برابره کي، چي د ترهګرو په نامه د پښتنو د ریښې ایستلو له پاره خپلو ناروا موخو ته ورسیږي.

نژدې دوه کاله وړاندي د پاکستاني طالبانو په نامه په ظاهري بڼه دولت د مخالف حرکت په تو ګه د اسلام آباد په لور د پرمختګ خبري د ټولو پر خوله وې. یو شمېر په دې باور ول، چي دا په رشتیا سره یو خود جوشه حرکت دئ او پر دې اړخ ئې زیاتي تبصرې کوي، بل خوا نور سیاسي څېړونکي بیا په دې فکر ول، چي دا د پاکستاني پوځیانو او څارګري اداري د لنډ مهاله موخو له پاره یوه بله نوې اوپراتیفي لوبه ده، غواړي په یوه فیر دوه ښکارونه وولي.

د دې له پاره، چي پر مسله په ساده او عام فهمه ژبه بحث وکړي اړینه ده، چي د پاکستان ټولنه د سیاسي او ټولنیز جوړښت له مخي پر څو برخو ووېشو:

۱. ملکي دولت، چي د بېنظیر بوټو تر مرګ وروسته د امریکا او د هغوی د متحدینو په مټ د پیپلز پارټۍ د زړه د تسلا له پاره ښاغلی آصف علي زرداري واک ته ورسېدی. د دی کار موخه دا وه، چي ګویا پسله څو کالو یو ځل بیا ملکي دولت جوړ سو.

۲. د پاکستان وسله وال ځواک (اردو او څارګره اداره)، د هغوی په سر کي د دغه ځواک د ګوتو په شمېر څو جنرالان. دا تر ټولو غښتلې او د پاکستان د سیاسي برخلیک ټاکونکی قوت دئ.

۳. هغه سیاسي ګوندونه او ډلي، چي د اوسني پاکستان د جغرافیایي جوړښت د ساتلو له پاره کار کوي، لکه مسلم لیګ، پیپلز

او نور...

۴. د پښتنو او بلوڅو له خوا جوړ سوي سياسي ګوندونه، چي د پاکستان له جوړېدو نه بيا تر اوسه د مرکزي حکومتونو سره په هغه بڼه، چي پاکستاني چارواکي ئې غواړي نه دي پخلا سوي، که اوس په محلي دولتي ارګانو کي ګډون لري خو د مرکزي حکومت له کړنو هم سرټکوي.

۵. ديوبندي بنسټپال لوی او واړه ګوندونه او تنظيمونه.

٦. د پاکستان عام او بېچاره اولس، چي د پاکستاني جنرالانو او هغوی د بهرنيو ملاتړو د يسمه ايزو، سياسي، پوځي او اقتصادي ګټو قربانيان دي.

د پاکستان له جوړېدو نه تر نن پوري سياسي تجربو دا ثابته کړې ده، چي په پاکستان کي تر ټولو ځواکمن ځواک د اردو او استخباراتي ادارو جنرالان دي، له همدې امله په پاکستان کي تر بل هر هيواد زياتي پوځي کودتاګاني تر سره کيږي.

زه نه غواړم د پاکستان ټول سياسي بهير په دې ليکنه کي وڅېړم، ځکه زموږ درانه لوستونکي د پاکستان په اړوند پوره او کره معلومات لري او په دې هم خبر دي، چي د انګريزي مور او پلار نه د دې هيواد د زېږېدو له لومړنۍ ورځي نه دغو پاکستاني جنرالانو د افغانستان سره په سوله او ښه ګاونډيتوب کي ژوند کولو ته زړه نه دئ ښه کړی، تل ئې د افغانستان په کورنيو چارو کي لاس وهني کړي او زموږ پر پاکه او مقدسه خاوره ئې د تجاوز او تېري پروسه ژوندۍ ساتلې ده. البته په دې موده کي به په افغانستان کي هم د وخت حکومتونو د پاکستان تر حاکميت لاندي د پښتنو او بلوڅو د حقه او روا حقوقو د ترلاسه کولو په خاطر د دې سيمي د آزادۍ غوښتونکي

جنبش ملاتړ کړی وي، چي تر ډېره بريده د تاريخي شواهدو او اسنادو له مخي دا د افغان اولس ملي او اخلاقي دنده شمېرل کيږي، مګر نه په دومره سپين سترګي او دوامداره دښمنۍ سره لکه چي پاکستاني جنرالان او حاکمان ئې دا څو لسيزي په مختلفو بڼو دوام ورکوي. له لويه سره په پاکستان کي افغان دښمنو ځواکونو د دې له پاره تلاښ کړی، چي له نړيوالو شرايطو او حوادثو نه په استفادې سره دوه مخي سياست پر مخ بوزي او خپلي ګټي وساتي.

دوی د سړې جګړې په دوام کي د امريکا له دغه سياست نه په استفادې سره، چي افغانستان هغه وخت د سيټو او سينټو غړيتوب ونه مانه، فعاله او مثبته بې طرفي ئې غوره کړه، تر دې نامه لاندي، چي افغانستان د شوروي د سياسي نظام د يوه سپوږمکۍ ګرځېدلې ده، د خپل هيواد د پوځي ځواک د غښتلتيا له پاره استفاده وکړه.

کله چي په افغانستان کي مرحوم داودخان د پوځي کودتا په پايله کي دولتي واک تر لاسه کړ، د هغه تر لومړۍ ورځي وروسته له ورايزو رسنيو په دروغجنو تبليغاتو خوله خلاصه کړه او تبليغ ئې پيل کړ، چي په افغانستان کي يو شوروي پلوه کافر حکومت جوړ سو. د همدې موقع نه په استفادې سره ئې په افغانستان کي د جمعيت ګوند، چي مشري ئې د برهان الدين رباني پر غاړه وه څو نفره د هغه جملې نه احمدشاه مسعود او ګلبدين حکمتيار او يو شمېر نور کسان د داود خان پر خلاف وسله وال پاڅون په موخه په پاکستان کي تر پوځي روزني لاندي ونيول او د عملياتو له پاره ئې افغانستان ته راولېږل، د هغوی د امکاناتو په استفادې سره ئې د مرحوم داودخان پر خلاف زهرجن تبليغات پيل کړه، خو هغوی ونه سوه کولای، چي په غلچکيو بريدونو او دروغجنو تبليغاتو د داودخان رژيم رنګ کي.

مرحوم داود خان هم امنیتي ځواکونو ته دنده وسپارل، چې د
هغوی پر خلاف له ټولو امکاناتو نه استفاده وکړي، پایله دا سوه، چې
د دغې ډلې یو شمېر زنداني او یا له منځه ولاړل، او ځیني لکه ګلبدین
او احمدشاه مسعود دوباره پاکستان ته وتښتېدل.

امریکا تلاښ وکړ داود خان د شوروي پر خلاف راوپاروي او
په دې موخه ئې د هغه له پاره د یو اوږده سفر تاییه ونیول، عربي
هیوادو ته ئې سفر وکړ او پاکستان ته هم ولاړ. په دغه سفر کې
داود خان غوښتل، چې پاکستاني چارواکي د ده مخالفین ورته تسلیم
کي خو پاکستاني جنرالانو د هغه مخالفین په لاس ور نه کړل او نه ئې
زنداني کړل. پاکستاني جنرالانو تل د خپلو راتلونکو پلانو د پلي
کېدو په موخه د افغانستان په وړاندې خپل ریزرف ساتلی دئ. په
افغانستان کې جریاناتو داسې پراختیا وموندل، چې د داود خان پر
خلاف هم یوه بله کودتا وسوه او په دې کودتا کې دواړو غاړو یعني
شرق او غرب رول درلود، تر څو دا زمینه برابره سي، چې په دې هیواد
کې د یو بل سیاسي تغیر په پلمه دا نړیوال زبر ځواکونه سره ښکر په
ښکر سي.

د شورویانو له پاره لکه بل هر زبر ځواک د دوی په بغل کې له
دوی سره د ښمن دولت د منلو وړ نه وو، خو غربي نړۍ د هغه په سر کې
امریکا بیا غوښتل داسې امکانات برابر کي تر څو د روسیې پښه
افغانستان ته داخله او په دې پلمه د افغانانو د پاکو او سپېڅلو
احساساتو په استفادې سره شوروي په افغانستان کې ګونډه او د
ویتنام وار ځیني واخلي. د استخباراتي شبکو دغه اوپراتیفي لوبي
خپلو اصلي او اساسي موخو ته د رسېدو له پاره په مختلفو بڼو رواني

وې، په دې وخت کې، چې د بيژنسکي د ميخائيل سرګېويچ ګرباچف او د هغه د يارانو په وجود کې خپله هغه پروژه، چې موخه ئې د شوروي نظام رنګول وه په برياليتوب پر مخ بېوله، پخواني شوروي اتحاد د رنګېدو په حال کې وو، ميخائيل سرګېويچ ګرباچف په افغانستان کې جګړه په وينو لړلي زخم وباله او اعلان ئې وکړ، چې د دوی پوځي ځواکونه به له افغانستان څخه زوي. د دې پروسې د بريالی پای ته رسېدو له پاره د ژنيو دتو افقاتو په نامه پروسه غښتلې سوه. د (۱۹۸۸ ع) کال د اپريل پر (۱۴) مه د ژنيوتو افقات لاسليک سول او دواړو غاړو يعني شوروي او امريکا د ملګرو ملتو د سازمان تر نظارت لاندي د دغي لوزنامې پر پلي کېدو د کنترول او نظارت مسئوليت پر غاړه واخيست. خو جالبه دا ده، چې د غه هيئتو نه لا د ژنيو نه د خپلو هيوادو په لور روان سوي نه ول، چې د امريکا د بهرنيو چارو وزير جورج شولتز يوه اعلاميه خپره کړه، چې په هغه کې راغلي ول: که چيري شوروي د افغانستان له حکومت سره مرسته وکړي، امريکا به له تنظيمو سره خپلي مرستي دوامداره وساتي او بل لور ته بل مقابل د شوروي رژيم د بهرنيو چارو وزير ادوارد شواردنا دزي هم د خپل ديپلوماتيک استازي په واسطه اعلاميه خپره کړه، چې شوروي به د افغانستان، شوروي د معاهدې له مخي د افغانستان له دولت سره خپلو مرستو ته دوام ورکي.

د شوروي د يرغل په وخت کې پاکستاني چارواکي او پوځي جنرالان په دې ښه پوهېدل، چې امريکا او نوره نړۍ په افغانستان کې د جهاد د برياليتوب سره چنداني علاقه نه لري، هغوی د شوروي او شرقي بلاک په وړاندي خپلي موخي لري او غواړي دغو موخو ته د رسېدو له پاره د افغانانو څخه په دې نامه، چې هيواد مو اشغال سوی

او ګویا شورویان تود و او بو ته ځان رسوي په افغانستان کي د جګړې اور تازه او روښانه ساتي. د شوروي پر وړاندي د دغه امریکایي موخو برکت وو، چي د پاکستان پوځ د سیمي یو مډرن او عصري پوځ وګرځېدئ، همدا وخت دئ، چي د امریکا تر ډېره لاندي پاکستان په اټومي ځواک بدل سو. همدا امریکا اوس حیرانه پاته ده، که چیري په پاکستان کي امریکا د ښمنه بنسټپال قوت دولتي واک تر لاسه کړي نو لومړی سرګلوله به د امریکا د ګټو پر خلاف استعمالیږي. همدا دلیل دئ، چي کله نا کله امریکا او نژدې ملګري ئې وارخطا وي.

د (۱۹۸۸ع) کال تر پایه پوري هغه وسله والي ډلي، چي د امریکا او امریکاپلوه هیوادو په مرسته د پاکستان استخباراتي شبکو او اردو پر لاس د شوروي پر خلاف جنګېدل د ځینو معلوماتو له مخي په لاندي ډول وه:

د شوروي سره د افغانانو د سر په قیمت د سړې جګړې د دوام له پاره د پیل نه بیا د (۱۹۸۸ع) کال تر پایه پوري هغه ډلي، چي روزل سوي او په وسلو سمبال جګړه ایز فعالیت کاوه شمېر ئې تر (۴۵۳۰) زیاتېدئ، په دې ډلو کي د تنظیم سوو کسانو شمېر (۱۷۳۰۰۰) کسانو ته رسېدئ. البته دا هغه کسان ول، چي د تخریبي فعالیتونو له پاره لکه د ماینو فرش، د پلونو ورانول، د ښوونځیو سوځول، د عامه ګټو د موسسو له منځه وړل او نوري خرابۍ له پاره روزل سوي ول.

د پاکستان مشهور ژورنالیست احمد رشید په یوه مطبوعاتي مرکه کي څرګنده کړه، چي له (۱۹۸۲ع) کال نه تر (۱۹۹۲ع) کال پوري د شوروي سره د جګړې تر نامه لاندي (۳۵) زره مذهبي افراطیون د نړۍ له (۴۳) هیوادو څخه افغانستان ته ولېږل سول تر څو هلته وجنګیږي. زیات شمېر څېړونکي په دې باور هم دي، چي دوی دا

کسان ځکه ولېږل، چې په خپلو هیوادو کي د دوی له شر او فساد نه خلاص وي.

په امریکا کي د ۲۰۰۱ ع کال د سپتمبر د ۱۱ مي تر پیښي وروسته کله، چې په افغانستان کي د پاکستان پلوه رژیم کمبله د بن لادن د ملاتړ په بدل کي ټوله سوه، بیا هم پاکستاني چارواکو د امریکا او نړیوالي ټولني سره د هر اړخیزه مرستي او د دوی له سیاست نه د ملاتړ په موخه د همکاری ټټر وټکاوه. همدا اوس په دې بهانه په هره میاشت کي پاکستاني پوځیان د څو کالو را په دې خوا د کاله تر سل میلیونه ډالر زیاتي پیسې تر لاسه کوي، البته د دې په څنګ کي ئې نوري مرستي، چې موږ نه په خبرېږو هم تر لاسه کړي دي.

په (۲۰۱۰ ع) کال په نیمایي کي امریکا د پاکستان سره د پنځو کالو په موده کي د اوه نیم ملیارډو ډالرو د مالي مرستي اعلان وکړ او د دې تر څنګ دوی ته نوري مدرني وسلې او الوتکي هم ورکړه سوي دي.

په هر حال نړیوال شرایط دا سي راغلل، چې نور پرویز مشرف د امریکا له پاره د زغم وړ نه وو، اړینه ولیده سوه، چې په پاکستان کي د نوو لوبو له پاره نوي لوبغاړي د ټاکونو تر نامه لاندي واک ته ورسیږي. دوی نواز شریف ښه پېژندئ، ځکه ئې تر هغه زرداري، غوره وباله. د آصف زرداري نوم ځکه مطرح سو، چې له پخوا نه په پاکستان کي د بهرنیو څارګرو ادارو او پاکستاني جنرالانو په وسیله یو شمېر مذهبي تنظیمونو کي د اسلامي بنسټپالي روحیه ورځ په ورځ غښتلې کړې وه، نو دا به یو څه مشکله وای، چې یو ځل بیا بېنظیره، چې ښځه وه د پاکستان حکومتي مشره سوې وای، خو د دې مسلې څېړل اوس زما موخه نه ده. په پاکستان کي لومړی سیاسي حالات ترینګلي سول او بیا د بېنظري بوټو او نواز شریف تر منځ، چې دواړه له بهر نه یعني له

سعودي عربستان او لندن څخه پاکستان ته راغلل، د امريکا په نېغه مداخله يو نيم بنده ظاهري ائتلاف جوړ سو، بېنظري بوټو د پلان مطابق له منځه ولاړه او د خلکو د احساساتو نه په استفادې سره بناغلي آصف علي زرداري، چي چنداني شهرت او محبوبيت ئې نه درلود، واک ته ورسول سو. دا چي بيا د ده او نواز شريف تر منځ څه ناندري را پيښې سوې دا بله خبره او بل پلان وو، پايلي به ئې وروسته راڅرګندي سي.

کله چي دولتي واک د پېچلي لوبي په پايله کي زرداري ته وسپارل سو پاکستاني جنرالان خوابدي سول، ځکه دا سړی د دوی کانديد نه وو او د بلي خوا دغي کورنۍ (د بوټو کورنۍ) تل د دوی له لاسه ځان په خطر کي باله، ځکه خو بېنظير بوټو د دې پر خلاف د کراچي د لارو په وخت کي د لومړي ناکامه بريد نه وروسته په ډاګه د ډله ايزو رسنيو سره په خپلو خبرو کي پوځ، اورپکي او محافظه کاري غړي د دې د وژلو په هڅه کي په لاس درلودو تورن کړل. بي بي سي د (۲۰۰۷ ع) کال د اکتوبر البته پاکستان ته د بېنظير بوټو تر ستنېدو ډېر پخوا داسي ګنګوسې وې، چي پر دې به بريد کيږي.

د پاکستان سياسي تاريخ دا ثابته کړې، چي پاکستاني جنرالان او د استخباراتو سازمان ځان ته دا حق ورکوي، چي دولتي مشرتابه په خپله خوښه وټاکي، په هره نړيواله لوبه کي خپلي ګټي ولټوي او دوه مخی سياست پلی کي. دا دئ د امريکا او نړيوالي ټولني سره د ملګروتوب تر نامه لاندي په دغه دوه مخي سياست کي تر اوسه برياﻟﻲ بريښي.

سره له دې له يوې خوا په افغانستان کي تر (۱۵۰) زرو زيات په مډرنو وسلو سمبال روزل سوی بهرنی پوځ د تروريزم سره د مبارزې په نامه دا لس کاله په افغانستان کي اوسي برياوي ئې کمي ليدل کيږي. خو بل لور

ته پاکستان پوځي ځواکونه د امریکا او نړیوالي ټولني سره د بې ساري مرستي او همکارۍ تر نامه لاندي د پښتنو او بلوڅو جرړي باسي.
په عمل کي نه یوازي دا چي دا بنسټپال او یا ترورېستان په هر نامه، چي ئې بولي ونه ځپل سول بلکي د ډله ایزو رسنیو او د امریکا د بهرنیو چارو د وزیري مېرمن کلینټون، د انګلستان د لومړي وزیر ګورډن براون، د ناټو او اروپایي ټولني د مشرانو پر خوله همدا یوه خبره ده، چي وایي پاکستان د نړۍ والي ترهګرۍ په ځاله بدل سوی او هغوی هلته روزنتونونه او پټن ځایونه لري. دا دئ پسله نژدې لس کاله د (۲۰۱۱ ع) کال هم د زیاتو چلنجونو او ګواښونو کال بولي.
افغاني بېچاره چارواکي په دې خوشحاله دي، چي دا دئ اوس بهرنیانو او د هغه په سر کي امریکا ومنل، چي دا ټول اور له پاکستان څخه را پور ته کېږي، هلته باید وځپل سي. خو په دې نه پوهېږي، چي د دغو ځپلو تر نامه لاندي به بیا څوک ځپل کېږي؟
دا ډول بې بنیاده، ماشومانه سیاست او دریځ د دې ښکارندوی دئ، چي افغاني چارواکي څومره ضعیف سیاست کوي او تر اوسه لا په دې خوشحالیږي، چي ګویا بهرنیانو ومنل، چي د فساد منبع په پاکستان کي ده. په داسي حال کي، چي دغه د فساد منبع دوی را زېږولې او لویه کړې ده، دوی په پوهیږي او په سترګو ئې ویني، چي څه کیږي. که داسي نه وي نو بیا باید د امریکا او اروپایي ټولني د ځار ادارو دروازې وتړل سي او له دغه بې حسابه لګښتونو څخه لاس په سر سي. خو د هر څه سره دوی ښه پوهیږي او پوره ئې ویني، چي د مځکي پر مخ کومي لوبي د څه له پاره او د چا له خوا رواني دي؟
په رشتیا سره به القاعده او پاکستاني بنسټپال ځپل کیږي او که به تر دې نامه لاندي د پښتنو هغه پاته کسان کوم، چي نه غواړي د

## پاکستان غلامان او لاس پوڅي اوسي له منځه وړل کیږي؟؟؟

دا جګړه به د تروریزم پر خلاف د ډیورنډ د لعنتي کرښې پر دواړو غاړو د پښتنو د له منځه وړلو له پاره څومره وخت نور هم دوام مومي؟ دا هغه سوالونه دي، چې تر اوسه لا نه دا چې بې جوابه پاته دي بلکي د جواب وخت ئې ليري بريښي. همدا اوس هره ورځ يو او بل ځای د پښتنو مشران په نښه او په شهادت رسيږي، دا کومه تصادفي خبره نه ده. د پښتنو او افغانستان د ښمنان غواړي، چې دا قوم بې سره کي. داسې بريښي، چې دوی امريکا او نړيوالي ټولني ته غلط او بې بنياده معلوماتونه ورکوي او هغوی هم د همدغو معلوماتو پر اساس د پښتنو سره دښمنۍ ته ملا تړلې.

دا چې اوس بهرنيان د هغوی په سر کي امريکا د دې سره مخالفت نه کوي او مني، چې پاکستان د نړيوال طرح ګريو ځاله ده، نو دا دي هم و مني، چې په دې ځاله کي تل د بچيانو د زيږېدو له پاره هګۍ د پاکستان استخباراتي او اردو جنرالان ايږدي.

دا د هيچا له پاره د منلو وړ نه ده، په هغه هيوادو کي، چې هر څه د هغه هيواد د استخباراتي شبکو او نړيوالو ځارګرو سازمانونو په مالي او مادي مرستو زيږېدلي، لوی سوي، روزل سوي، اوس ئې له منځه نه سي وړای او يا ئې د اوسېدو ځايونه له دوی څخه ورک دي؟؟؟ هغه د چا خبره دوی د خلکو په سترګو کي خاوري شيندي.

د بيلګي په توګه د هرالډ تريبيون ورځپا ڼه، چې په بريتانيا کي چاپيږي، د (۲۰۰٦ع) کال د جوزا د مياشتي د څلرمي نېټي په خپره سوې ګڼه کي په افغانستان کي د نا ارامیو د ډېرېدو او د پاکستان د استخباراتي سازمان (ISI) د رول په هکله مشهور ليکوال مين صيقل

په خپله مقاله کي ليکي:

"تحليگران استخبارات (سازمانهای جاسوسي غربيها به صورت گسترده ای معتقد ند که بدون حمايت پاکستان و اجازه استفاده از قلمرو اين کشور، طالبان نمی توانستند تا به حدی که امروز ديده می شوند، منسجم شده و قدرت مقابله با ارتش افغانستان و نيروهای ائتلاف را پيدا کنند)".

هغه وروسته ليکي:

" حتی اگر جنرال پرويز مشرف رئيس جمهور پاکستان، شخصاً به سياست عدم د خالت در افغانستان متعهد باشد، نمی تواند ادعا کند که سرويس استخبارات اين کشور و همچنين نيرو های بنياد گرای اسلامی، چنين تعهدی را رعايت می کنند. نيروهای بنيادگرای پاکستانی باور دارند که دير يا زود نيروهای ائتلاف از افغانستان خارج خواهند شد و اين امر راه را برای تعيين سرنوشت اين کشور توسط همسايگانش هموار می سازد".

د ليکونکي په وينا:

"با در نظر داشت اين مساله، پاکستان می خواهد در جايگاهي بايد که بتواند منافع خودر را در آينده افغانستان حفظ کند و مانع تقويت حضور ديگر بازيگران منطقه به خصوص هند و ايران در افغانستان شود".

د خيبر د تلوېزون سره په يوه مرکه کي د نشنل عوامي گوند مشر اسفنديار ولي واضح او څرگند وويل، چي:

"پاکستان د تروريزم په خلاف جگړه کي صادق نه دئ او په افغانستان کي ئې خپل رښتينی کردار نه دئ تر سره کړی.

هغه زياته کړه: د پاکستان له لوري اوس هم د افغانستان په وړاندي يوه منظمه جګړه روانه ده او په افغانستان کي ئې د روانو غلچکي بريدونو او وروستيو زړه بوږنوونکو پيښو ملامتي پر پاکستاني چارواکو اچوله او څرګنده ئې کړه، چي طالبان په يوازني سر د داسي منظمو حملو او بريدونو توان نه لري.

افراسياب خټک وايي:

"د تروريزم سره د مبارزې او د افغانستان په هکله د پاکستان سياست ريښتونی سياست نه دئ، د همدغه دروغجن سياست له امله پاکستان ته دا ټولي ستونزي او مسلې را ولاړي سوي دي. پاکستان ته په کار ده تر څو د ريښتيني سياست لاره غوره کړي او د تروريزم سره د جګړي په ډګر کي خپل رغنده رول ولوبوي او د افغانستان په وړاندي د دښمنۍ او دوه رنګۍ له سياست نه لاس واخلي".

همدا اوس هم د پاکستان پوځيان په دې ښه پوهيږي، چي څنګه د دغو کړکيچونو حالاتو نه ګټه پورته کي؟

د دې وروستيو څېړنو د راپورونو پر اساس تقريباً ټول په دې کي شک نه ويني، چي په افغانستان کي د سولي له پاره هره هڅه د پاکستان له ملاتړه پرته نيمګړې ده او په تېره بيا د پاکستان استخباراتي اداري په افغانستان کي د سولي په ټينګښت کي خورا مهم رول لوبولی سي.

ما ډېر پخوا يوه ليکنه غوره کړې وه او هلته مي دغه مسلې ته ګوته نيولې وه، چي پاکستاني جنرالان د يوې بلي کودتا له پاره پلمې لټوي. اوس هم په دې باوريم، نن که سبا، ژر يا وروسته به همدا پاکستاني جنرالان په خپل هيواد کي د سولي او ثبات د راوستلو تر نامه لاندي پر ټانګونو سپاره د ښار واټو ته راووزي او پوځي حکومت

به اعلانوي.

همدغه موخي ته د رسېدو له پاره همدا اوس دوی په يوه فير دوه نښانه ولي:

۱. دوی حالات دومره کړکېچن کوي، چي نړيوالـه ټولنه او امريکايان دا ومني، چي په پاکستان او سيمه کي د بنسټپالو ځپلو، ساتلو او يا د اړتيا په وخت کي د استفادې په موخه د پاکستان وسله وال ځواک مشرتابه تر ټولو ډاډمنه هسته او ځواک دئ، ځکه نو بايد وساتل سي او تر همېشني حمايې لاندي وي. که اړتيا سوه د حکومتونو د تبديل له پاره بهترينه وسيله همدوی ګرځېدای سي.

۲. د بنسټپالو سره د هر اړخيزي مبارزې او جګړې په نامه دوی مالي او مادي مرستي ترلاسه کوي، چي همدا تېر کال ئې د راتلونکو پنځو کالو له پاره له امريکا نه نژدې اوه نيم مليارډه ډالره مالي مرسته ترلاسه کړه، پر هند خپل سياسي او پوځي فشار ساتي او د بلي خوا نړيوال په دې ډاډمنه وي، چي تر ټوله د ښمنه هسته همدا پښتانه دي، دوی بايد داسي وځپل سي، چي بيا سر را پورته نه کړي.

له بده مرغه د دې خبري دا ثبات له پاره پاکستاني پوځيان د طالبانو په نامه د پردې شا ته په خپلو لاسو جوړو سوو ډلو په مرسته د اسلامي بنسټپالو په څېره کي د پاکستان د مذهبي ګوندونو په نامه د کرښي دواړو غاړو ته د پښتنو په سيمو کي د افغانستان او په افغانستان کي د بهرنيو ځواکونو پر خلاف د نا امنيو د دوام له پاره استفاده کوي، آن دا خبره هم اوس تر غوږو کيږي، چي په پاکستان کي د ترهګرو په مرسته د جنوبي افريقا او په ځانګړې توګه د سوماليا دريايي غله هم روزل کيږي. دا چي په لندن او يو شمېر نورو اروپايي هيوادو کي د ترهګرو د بريدونو په

تور تورن کسـان نیول سـوي او هغوی اعتراف کړی، چي په پاکسـتان کي روزل سوي ول دا خبره اوس هم نه ده زړه سوې.

د پاکسـتان د اسـتخباراتو پخوانی مشـر جنرال حمید ګل ډله ایزو رسنیو ته وايي:

"که امریکايان افغانستان پرې نږدي پاکستان له یوې پوځي کودتا سره مخامخ کیږي".

جنرال حمیـد ګـل هغـه څوک دئ، چي د افغـانسـتـان سـره د دښـمنۍ لوی او روښـانه تاریخ لري او په پاکسـتان کي هم دا ټولي بنسـټپالي ډلي، تنظیمونه او باندونه د نړیوالو څارګرو له خوا د ده پر لاسو جوړ سول. په افغانستان کي د بنسټپالۍ په رواج او پراختیا کي هم د همدې جنرال ونډه تر بل هر چا ډېره ده او د ژوند تر وروستیو شېبو ئې د ټولو مذهبي ډلو، تنظیمونو او ګوندونو سره نژدې اړیکي لرلې. حقیقت دا دئ کله، چي حمید ګل ژوندی وو، پرویز مشـرف او نورو جنرالانو پر دې خبره، چي باید په پاکستان کي د یوې بلي کودتا له پاره امکانات برابر سي پریکړه کړې ول، چي د پاکسـتان اوسنی حالات او ګډوډي ئې د پخلي بهترینه بېلګه ده. دا نښي نښانې تر ستر ګو کیږي، چي دا ځل به هم په پاکستان کي یوه بله پوځي کودتا په دې بهانه وسي، چي په پاکسـتان کي مذهبي تنظیمونه او ګوندونه د امریکا سـره دښـمني لري او یا دا چي امریکا د بې پیلوټه الوتکو په مرسـتـه د ترهګرو پټن ځایونو ویشـتلو حسـاسـیت را پارولی، نو ځکه ملکي دولت دوی ته د منلو وړ نه دئ او نه هغوی د ملت د ادارې توان لري، په همدې مو خه کله نا کله پاکسـتاني چارواکي د امریکا د بې پیلوټه الوتکو پر بریدونو انتقـاد کوي. د بلي خوا ئې په دې هم ډاروي، چي کېدای سي د پاکستان بنسټپالو ته د پاکستان دولتي واک په لاس ور

شرایط اقلیمی کشور از قدیم الایام برای رشد نباتات شفا بخش مساعدست که بطور خود رو در طبیعت کشور میرویند و متاسفانه بدون استفاده ضایع میگردند که ارزش آنها سالانه بمیلیونها دالر میرسد. باید منابع پولی برای تحقیقات روی این نباتات و تولید صنعتی آنها اختصاص داده شود میتواند از بین این نباتات یکعده ای پر درآمد آنها را بدیلهای کشت کوکنار ساخت مثال خوب در اینمورد تکثیر زعفران در غرب کشور است که تولید سالانه آن بیک و نیم تن میرسد که در کشور های خارجی بازار خوب دارد.

هنچنان اعمار و تقویه ای فابریکات دوایی تحت کنترول موثر دولت از یک طرف جلو دوا های تقلبی خارجی را میگیرد و هم عواید سرشار برای کشور دارد.

در نتیجه بعد ازینکه مردم کشور با پیشرفت کشتکاری و مالداری با غذای کافی تامین شد کودکان ما در اثر تغذی درست و کافی از فقر غذایی نجات یافته صاحب مغز و جسم قوی میگردند و استعداد های آنان شکوفان شده از بین آنان هزاران عالم و دانشمند، مخترع و مکتشف تقدیم جامعه میگردند.

بدین سان بتدریج کشور ما با بهره برداری امکانات دست داشته خود در سکتور صنایع و معادن یک جامعه ای پیشرفته ای

صنعتی زراعتی مبدل شده میتواند.

## تاکید روی محو بیسوادی در نوجوانان و کودکان سن مکتب اعم از دختر و پسر:

در اخیر برای فشار آوردن روی محو بیسوادی عرض میگردد که ما باید کودکان و نوجوانان خود را اعم از پسر و دختر مقدم بر همه از بیسوادی نجات بدهیم دولت در این مورد باید برنامه روشن داشته باشد و آنرا مبتکرانه و موثرانه عملی سازد و ملت در اینراه از هیچ نوع مساعی مجدانه و پیگیرانه دریغ نه ورزد اولتر از همه باید همه ای دختران و پسران که بسن شمول بمکتب میرسند داخل مکتب شوند. تمام کودکان بی سرپرست باید زیر تامین دولت قرار داد شود و شرایط تحصیل، اعاشه و اباته ای آنان بمصرف دولت مساعد گردد دولت میتواند بطور مثال دو فیصد و یا بیشتر برحسب ضرورت روی اموال وارداتی محصول بیشتر وضع کند تا مصارف اضافی از این مدرک تامین گردد.

خیلی برای هر افغان دردآور است که میبیند هنوز هم مکاتب ما در نبود تعمیر وسایل درسی، میز و چوکی در هوای آزاد دایر میگردد نتیجه این نوع آموزش و پرورش را هر کس حدس زده میتواند باید یک صندوق در وزارت تعلیم و تربیه تاسیس گردد که مردم معارف پرور خاص برای اعمار مکاتب اعانه بپردازند و هم دولت میتواند تمام بودیجه ای مصرف ناشده ای وزارتخانه های بیکاره را در اخیر سال بصندوق مذبور انتقال دهد در اعمار مکاتب یک چیزی که عموماً در نظر گرفته نمیشود موجودیت آب جاری در داخل مکتب و تشناب صحی است این موضوع مهم در کشور ما هم در تعمیرات

مراکز صحی و هم تعمیرات مکاتب عموماً فراموش میگردد.

ومن الله التوفیق

ليکونکی: ډاکټر صلاح الدین سعيدي-سعيد افغاني
نېټه: ۲۰۱۱/۴/۳

په دري برخو کي: لومړی، دوهمه او دريمه برخه

**د افغان ستراتيژيک څېړنيز مرکز د علمي شورا تر نظر لاندي**

# په افغانستان کي حالات، کړکېچونه او د حل ممکني لاري!

واشنګټن، چي د امريکې د متحدو ايالاتو د پايتخت په توګه د مختلفو امريکايي مراکزو لکه سي آی اې، پنټاګون، بعضی ديني او سياسي ټولنو د کلبونو، د ديموکراټ ګوند او د جمهوري خواه د ګوند او ټي پارټي او بعضـی نظامي حلقاتو د تاثيراتو لاندي خپل ورځني سياست ته تبارز او تبلور ورکوي او د امريکې جمهور رئيس د سپيني

مانې په مشرۍ د امریکې د سیاست رسمي ویونکی او رسمي سیاسي حاکمه مرجع ده، د امکاناتو، منافعو او مصالحو په چوکاټ کې عمل کوي او یا عمل کولو ته مجبوریږي.

د افغانستان په هکله د امریکې د متحدو ایالاتو د جمهور رئیس ښاغلي باراک اوباما وروستۍ اوږد مهاله پالیسي تر (۲۰۱۴ ع) کاله پورې او د هغه نه وروسته د پورتني مراکزو تر اغیزې لاندې څه موده د مخه وړاندې سوه، چې څلور برخې او مراحلو کې به عملي کیږي.

لومړۍ مرحله: ذهنیت او افکار برابرول.

دوهمه مرحله: نظامي او تصفیوي عملیات.

دریمه مرحله: د لاسته راوړلو او تصفیه سوو سیمو ساتنه.

څلرمه برخه او پړاو: د افغانستان اقتصادي او اداري انکشاف او اصلاحات.

په دې کې هیڅ شک نسته، چې د امریکې د دې اوږد مهالي پالیسۍ په لومړۍ مرحله کې او د هغه نه د مخه د ذهنیت او افکارو د برابرولو په برخه کې د افغانستان په اړه او عملي ډګر کې ډیرې غلط فهمۍ د افغانستان په داخل او نړیواله کچه په عمل او نظر کې وجود لرلې او لري.

د دیموکراسۍ، آزادۍ او د هغوی د ارزښتونو مفاهیم، حدود او ثغور، د آزاد بازار اقتصاد او حتی د بشر د حقوقو مفاهیم او د قانون حاکمیت په عمل کې کاملاً مغشوش افاده او عملي کېده او کیږي.

د مصالحې او مفاهمې مفاهیم، کدري سیاست، ملي منافع او نور ورته مسایل کاملاً متفاوت تشریح، توضیح او یا عملي سول.

د دين او ديني مسايلو توجيه او تفسير هم متفاوت ول. د جهاد او امر باالمعروف و نهي عن المنكر حدود او ثغور هم مختلف او د افراط او تفريط پر اصولو او توضيحاتو ولاړ او ډېر ځلي حيرانوونکي تفاوتونه لرل.

په تاسف سره بايد ووايم، چي د بعضو له نظره لا تر اوسه هم د افغانستان د مسايلو په نظامي او پوځي حل ټينګار کيږي او د تشدد لار د حل اصل لار ګڼل کيږي. د نړۍ د مختلفو تمدنو او کلتورونو د همکارۍ او مشترکات د ساتلو پر ځای د تقابل او تشدد پر لاري کار کيږي.

د خير، سولي او ښه تفاهم او د اعتماد د اړيکو د بيا را ژوندي کولو پروسه ډېر ضعيف او بعضي مطرح حلقات ئې له سره ردوي. په دې لار کي صادقانه برخورد نه کيږي او ونه سو. د دې پر ځای د متقابل فرېب او غولوني بازار ګرم دئ.

زموږ په پوهه او برداشت مختلفي خواوي تسليمي، رشوت ورکونه او د چوکۍ او مقام په ورکولو سياسي جوړجاړی، مصالحه او مفاهمه خلاصه کوي. موږ په دې باور يو، چي د مصالحې او مفاهمې ځخه دا سي تعبير په اصل کي مقابل ته د توهين په معنا او د مصالحې او مفاهمې د معنا غلطه افاده او پوهه ده.

د مخالفينو، اپوزيسيون او د ښمن مفاهيم مغشوش او نادرسته وکارول سول او لا کيږي. تروريست، خدمتګار او د وطن صادق بچي او پردي نوکران او جيره خوارانو مفاهيم مغشوش استعمال کړای سول او په دې برخه کي د تروريزم او افراطيت سره د مبارزې تر نامه لاندي په زرهاوو قومي او منطقوي منحط سياستونه عملي سول او دا پروسه لا ادامه لري. د وطن اصلي او صادق بچيان

خاین او خاینین د خدمتګارانو په نامه لافي او پتاقی وهي.

د دیموکراسۍ او آزادۍ مفاهیم، په افغانستان او نړیواله کچه د اکسترمیزم، تروریزم او تشدد په ضد د مبارزې مفاهیم، حدود او ثغور ډېر ځلي مغشوش، غیر تعریف سوي او متناقض ښکاري او تعریفیږي. ډېر ځلي یو ورته کامیابي وایي او هغه بل ورته ناکامي او یو ورته خدمتګار او قهرمان وایي او هغه بل ورته جنایت کار.

په کلکه اړتیا سته او وه، چي په دې برخه کي درست او معین مفاهیم په درست ډول وڅېړل سي او درست مفاهیم او اهداف په ګوته سي. دا کار اقلاً د وطن د صادقو خدمتګارانو او د خیر او خدمت د ارادې لرونکي تر منځ زیات ممکن او عملي دئ.

په دې برخه کي د پورتنیو مسایلو په اړه، چي هر یو ئې اوږد او مستقل بحث کېدای سي، د دې قضایاوو او مفاهیمو یو څو اړخونه او جوانبو ته په مختصر ډول ستاسي پام اړول غواړم.

مفاهمه او مصالحه په مشترک کور کي د مشترک سیاسي ژوند پر اصولو توافق، چي هغه حاکمیت، هغه نسخه او هغه برنامه مشروعیت لري او د هغه سیاسي ډلي، حزب او سازمان حاکمیت مشروع دئ، چي خلک ئې وټاکي او د خلکو له خوا ټاکل سوی وي. دا نه په کودتاګانو، نه په کنفرانسو او نه په پټو معاملو او نه د بهرنیو استخباراتو په توافقاتو مشروعیت پیدا کولای سي.

پورتنۍ مراجع او ناستي ولاړي کولای سي یو ازي او یوازي لازمي زمیني برابري کړي، اما اصلي مشروعیت باید په آزادو ټاکنو کي د خلکو له خوا تر لاسه او تحقق و مومي. د افغانستان اکثریت خلک مسلمانان دي او خپل انتخاب لري.

داسـي نظـام جوړول، چي اکثريـت حکومـت او اقليت خپـل حقوق ولري. هغـه اکثريـت، چي خلکو پـه آزادو ټـاکنو کي د معين او محدود وخت له پاره انتخاب او ټاکلی او د وخت په تېرېدو بايد د هغه مشروعيت له سره تجديد کړای سي.

ديموکراتيک نظام د خلکو حکومت، د خلکو په واسـطه منځ ته راغلی او د خلکو د ارزښـتونو د دفاع، پالني او روزني نظام دئ. دا ارزښتونه په ټولو انساني ټولنو کي عين ثيز نه دئ. خو په کار ده، چي دا وطني ارزښـتونه د انسـاني ټولني د عام منل سوو ارزښـتونو سـره، چي انساني ټولني پرې تر زياته حده توافق کړی دئ، مخالف ونه لري.

په تاسـف سـره اوس-اوس ډېر عـادي عام اکثريت يا په بدلاري او عوامبفبريي، او منحطو قومي خواوو منحرف کړای سـوو او ډېر ځلي د وطن صـادق عناصـرو سـره د سيسـتم په داخل او يا هم بهر کي لازم فرست ونه موند، چي وطن ته خدمت وکړي.

د وطن ډېر کدرونه او سـرمايه په خاص ډول په بهر کي په فزيکي او ډيرو عادي فزيکي کارو مصروفه ده او د فهمي او مسـلکي پوهي نه ئې د نورو عواملو سـره-سـره د سـرې جګړې د تعصـب او محاسباتو په اساس کار نه اخيستل کيږي. په دې برخه کي حاکميت، بې کفايته زمامداران او د سرې جګړې حاکم مغزونه په کلکه ډار لري.

ملي عناصـرو او کادرونو يا د پردو په اوږو د قدرت رسـېدلو اراده نه لرله او يا نه لري، شرعي او نورمال اداري جوړښـتونه د هغوی د قدرت رسېدو مانع دي.

په دې توګه ملت په وينو کي لامبي، د سيمي سوله په خطر کي ده، د وطن بچيان او نړيوالـه ټولنـه قرباني ورکوي او يو عده نور بيا خوشـحاله دي، چي حاکمان دي، چړچې کوي او ميليونهاوو ډالره او

پونډونه او سرمايې ئې په ناروا توګه تر لاسه کړل.

لکه څنګه چي مو وليکل په کلکه په دې باور يو، چي د امريکې د دې اوږد مهاله ستراتيژۍ په لومړۍ مرحله کي وظايف په درسته او کافي اندازه نه دي اجرا سوي او حتى افغانستان د حاکميت مسئولين او سياسي مخکښ مطرح حلقات، افراد او سياستوال په دې برخه کي عمده نيمګړتياوي او سوء تفاهمات لري او په هغو نسخو او د حل په لارو ټينګار کوي، چي د دې وطن او نړيوالي ټولني د تراژيدۍ د اوږدېدو عامل سوی او وي به.

يو څو مثالونه راوړم، چي کولای سو د دې افکارو او مهمو اراکينو او مسئولينو تفکر او کړني پرې ولاړي وي او دي او د دوی د افکارو او نسخو عمق او بُعد په ريښتني توګه درک او د حل ممکني لاري د دوی د افکارو سره په مقايسه، عملي والي او علمي والي وڅېړو او ستاسي قضاوت او انتخاب ته ئې پېشکش کړو.

**وايي او ليکي:**

"کرزی نمی خواهد طالبان شکست نظامي بخورند... قبل از آغاز عمليات ها بايد تمامی نيروهای سياسی افغانستان-جامعه مدنی و دولت افغانستان می پذيرفتند که به خاطر آوردن ثبات مجدد در نقاط نا امن راه ديگری جز از افزايش قوا وجود ندارند. عمليات هايی که اکنون ادامه دارد بايد از پشتيبانی سياسی اين نيروها در سطح ملی و محلی برخوردار می بود...".

يعنی دا چي ښاغلی حامد کرزی هم طالب او د دې تراژيدی ادامه ورکوونکی دئ. په دې توګه نړۍ او امريکې ته ويل کېږي، چي افغاني اداره کي بايد داسي څوک راوستل سي، چي د نظامي حل تاکيد کوي او هغه ګويا دوی دي. يعني دا چي بيا د افغانستان د

مطروحه مسايلو په نظامي حل تاييد او تاکيد کيږي.

موږ په دې باوريو، چي په يو منطقه او سيمه کي که چيري سل واري نظامي عمليات وسي او سياسي برنامه او د حل لاره وجود ونه لري دا نظامي عمليات کومه پايله نه لري او "افزايش قوای نظامی" يوازي د تراژيدی د اوږدېدو او نور مرګ او ژوبلي او بن بست ته بل انجام نه سي لرلای. منطق او ديموکراسی ته د قبول وړ نه ده، چي په نظامي حل تاکيد وسي. آيا د تفاهم او مذاکرې نه، چي اصول او ثغور او ريښتيني تعريف ئې معلوم وي، بل منطقي او مناسب ديموکراتيک قايم مقام وجود ولري؟ زه په يقين ويلای سم، چي سياسي حل او هغه مذاکره، چي خلک د خپل سرنوشت حاکم کړي بله منطقي او انساني او ديموکراتيکه لاره نسته.

## ليکوال ادامه ورکوي:

"... از همان آغازين روزهايی که امريکايی ها خواستند تجربه عراق را در افغانستان پياده سازند، هيچ نيروی سياسی در سطح جامعه افغانستان، دولت و کشورهای منطقه از آن پشتيانی نکردند...".

نه پوهېږم ليکوال د عراق د کومي تجربې نه بحث کوي. زه په دې باوريم، چي عراق په جنګ کي، چي د نړيوالي ټولني او امريکې د ستړي کېدو سبب سي او عراق د جنګ نه وروسته او د صدام حسين نه پرته او عدم موجوديت په صورت کي د ايران د اوسني رژيم په ګټه او منفعت دئ او عراق عملاً د ايران لمني ته وغورځېد. آيا ليکوال د عراق هغه تجربې نه خبري کوي، چي په عراق کي قومي، نژادي او مذهبي تفرقې چاقي کړای سوې او يا د هغې تجربو نه، چي عراق ئې عملاً تجزيه کړ؟ يعني دا، چي کردستان او شمالي عراق عملاً مستقل

هیواد دئ او حتی خپل اساسي قانون او بیرغ لري. نه پوهېږئ د کومو مثبتو؟! عراقي تجاربو نه په افغانستان کي د تطبیق بحث روان دئ، چي دا لیکوال او نسخه ورکوونکي په هغو تاکید کوي او په افغانستان کي ئې عملي کولو ته خوشحالي کوله او یا ئې غوښتل؟

## لیکوال ادامه ورکوي:

"... علت اساسی که این حمایت ساخته نشد بر می گردد به تفکر ارگ که نمی خواست و نمی خواهد طالبان از مجرای نظامی شکست بخورند ...".

دا هیڅ منطق نه سي منلای، چي ښاغلی حامد کرزی دي د طالبانو د حرکت په ماته خوشحال نه وي، خو د طالبانو ماته د قومي او قبیلوي د تعصباتو پر بنسټ او د ټولني د یو غټي ټوټې د محرومیت په مفهوم، د قومي تصفیې په مفهوم، چي ډېر ځلي عملي سوي بیا بله خبره ده. د طالبانو نظامي ماتي سره مخالفت په دې مفهوم، چي د وطن بچي د پردو د دسیسو او خدمت نه ووزي او په ریښتینې توګه د مقدسو اهدافو جوګه سي او ...که ارګ بیا دا غواړي نو که یو تن او یو افغان هم د دې سیاست په نتیجه ښې لار او د وطن خدمت ته د تسلیمۍ او غلامۍ د جغ د وړلو نه پرته تیار سي نو دا کار انساني کار دئ او ارګ په دې برخه کي پر حق دئ او خبره او موضع ئې پر ځای ده. که ثوک په دې توګه غواړي د امریکې د نظامي حل د حلقاتو اعتماد تر لاسه کړي او غواړي د افغانستان د خلکو په وینو قدرت ته د بهرنیو پوځي ځواکونه په زور ورسیږي دا نو بیا بله محاسبه او بله معامله او هم د فهم وړ ده.

## لیکوال د امریکې د دې ستراتیژۍ په اړه د افغانستان په هکله داسي ادامه ورکوي:

"... مرحله دوم این استراتیژی آغازش خام بود... رفتن به دهکده های جنوب و شرق کشور–جایی که طالبان توانسته بودند مجددا هسته گذاری نمایند–این اصل را زیر پا گذاشت. قلعه سیاسی که همانا صحنه ملی سیاسی بود ازین اقدام حمایت علنی نکرد و جنگ بدون برنامه سیاسی آغاز گردید".

زه نه پوهېږم، چي ملت چیري تللی وو او چا بیرته هسته ګذاري وکړه؟ ضعیف منطق او ضعیف استدلال. سیاسي قلعه د مفاهمې او مذاکرې نه کومه بله سیاسي قلعه کېدای سي؟ داسي سیاسي قلعه، چي خلک تصمیم ونیسي. هو جنګ او نظامي حل د سیاسي برنامې یعني د مصالحې او مفاهمې د عملي کېدو نه پرته بې نتیجې او پایله ئې بُن بست او بې نتیجه والی راولي. که څوک په جګړه تائید کوي او یوازي خپل ځان باندي اعتراف لري د یک حزبي او عملا د توتالیته سیستم او خود کامګی پلوی دئ، چي ګویا مخالفین طالبان دي او د خلکو د انتخاب نه د مخه دوی په خپل قضاوت د ملت تصمیم ځان ته اختصاص ورکړي، نو د داسي سیاست نتایج مو هم په دې درې لسیزو او بیا وروسته له هغه ولیدل.

د داسي سیاست په نتیجه کي بیا د هغه مجریان مجبور سول، چي غرونو، درو، وزیرستان، ګُلاب او داسي نورو کنارو او غارونو ته او مهاجرتونو ته د تللو مجبوریت منځ ته رازي او د مدني ټولني جوړولو اهداف له سره تحقق نه سي موندلای، بله کومه پایله نه لري. د داسي سیاست نتیجه مرګ، ژوبله او یو عده چالاکانو او مفسدینو ته د قدرت د رسېدو او خرابۍ بله پایله نه لري. که څوک دا غواړي نو بیا

پورتنۍ تګلاره او نسخه دي مطرح، تجويز او عملي کړي.

## ليکوال ادامه ورکوي:

"... اکنون از آغاز مرحله دوم اين استراتژی ماه ها می گذرد و بعضی نقاط که تبديل به پايگاه طالبان شده بودند، دوباره تصفيه گرديدند... زعامت دولتی ديگر توان ايجاد شبکه های سياسی را در آن مناطق ندارد يا عمداً رئيس دولت نخواست در حمايت از جنگ دست به ابتکارات سياسی بزند تا مردم را به طور نسبی بسيج نمايد... حرکت های سياسی بومی نباشند، مشکل است مورد اعتماد مردم قرار گيرند".

وګورئ بيا هم عجيبه ضد او نقيض جملات. د ر حمايت از جنگ... دست به ابتکارات سياسی بزند. تاسف دئ، چي در حمايت از جنگ باندي تاکيد کيږي. د افغانستان خلک او خيرخواه عناصر در حمايت از صلح باندي تاکيد کول او صادقانه عمل غواړي او دوی در حمايت از جنگ تاکيدات لري. هو ملت او بومي حرکت هماغه دئ، چي عملاً خلک ورسره دي. هماغه به کيږي، چي خلک ئې غواړي او د خلکو انتخاب د جنګ او ټانګ انتخاب نه دئ.

## ليکوال ادامه ورکوي:

"... اما نيروهای افغانستان نيز با همين سوال ابتدايی مواجه اند؛ يعنی به نمايندگی از کدام ديدگاه و برنامه سياسی می رزمند؟! منطقی ترين روش اين بود که مرحله سوم کلا يک مرحله استوار بر برنامه های سياسی می بود يعنی حفظ ساحه به عوض اين

که باز هم اتکا به قوای نظامی می داشت و در اصل با یک تفکر و برنامه سیاسی حفظ می گردید...".

د دې افادو او نورو افادو تر منځ صریح تناقض دئ. له یوې خوا د جنګ تاکیدات او له بلي خوا د سیاسي برنامې، چي اصلاً نه پوهیږو کومه سیاسي برنامه غیر د تفاهم او مصالحې د برنامې نه د جنګ په حالت کي انساني طرحه او برنامه کېدای سي؟

د افغانستان او نړۍ خیرخواه عناصر د پایدارۍ سولي سیاسي برنامې له پاره، دا چي په افغانستان کي ملت حاکم او په خپل سرنوشت تصمیم ونیسي کارکول غواړي او په نظامي قواوو باندي د حل لارردوي او دا ورته د ظلم، تجاوز او غیر دیموکراتیک او غیر انساني لار ښکاري.

## لیکوال ادامه ورکوي:

"... ارزش های دیگری که تلاش شد بستر حمایتی برای خود بسازد مانند دموکراسی و مردم سالاری بنا بر گسترده بودن فساد و فرد سالاری، در سیاست های اداره ولایتی ریشه نگرفتند و جامعه مدنی هم که نمی شود در چنین فضای اختناق و تشنجی جان بگیرد...".

دیموکراسي او دیموکراتیک نظام په ریښتني مفهوم د خلکو نظام، د خلکو له خوا جوړ سوی نظام او د خلکو د ارزښتونو په خدمت کي نظام منلای سو. په دې توګه د افغانستان اکثریت خلک مسلمانان دي او خپل ارزښتونه او انتخاب لري. دیموکراتیک نظام په دغه مفهوم او معنا هغه نظام دئ، چي اوس-اوس بل الترناتیف او قایم مقام نه لري. که ملت د دوی په مفهوم او عمل دیموکراسي او د دوی په تعبیر او عمل مردم سالاري ردوي او نه مني، نو بیا د دیموکراسۍ

او مردسالارۍ ګناه نه ده بلکي د هغه چا ګناه ده، چي دا مطالب ئې نادرسته او ناروا سوءاستفاده کړي او د خلکو ګناه نه ده. هو فساد او فرد سالاري په تیرو لسو کالو کي وه او ده. په هغو لسو کلو کي، چي لیکوال ئې اووه کاله د یوې کلیدي دولتي چوکۍ مشري یعني د افغانستان د ملي امنیت مشري کوله. هغه اداره، چي د ده نژدې ملګري په تمامو مهمو دولتي چوکیو کي وجود لرل او لري. هغه دیموکراسي، چي د قومي تصفیو، ظلم او تعدی و منطقوي تعدی او تجاوز او دسته جعمي وژنو او تباهي موجب سول.

هو د افغانستان خلک د داسي مردم سالارۍ او دیموکراسۍ نه، چي دوی عملي کړه منزجر او متنفر دي نو په کار دا ده، چي درست او اصلي مردم سالاري او اصلي دیموکراسۍ له پاره په ریښتني مفهوم عملاً کار وسي.

## لیکوال ادامه ورکوي:

"... به پیش بینی من، مرحله سوم به عوض اینکه راه را برای انکشاف اقتصادی و اداری باز نماید، به احتمال بسیار قوی به یک بن بست می انجامد. یعنی ما به مرحله چهارم نخواهیم رسید. مرحله چهارم به عوض اینکه رشد اقتصادی و اداری را در بر داشته باشد یک بن بست خواهد بود و من قراین و دلایل این تخمین خویش را ذیلا می نگارم. تمامی نیروهای سیاسی که تفکر ضد طالبانی دارند در محاسبات بلند ملی و بین المللی در حاشیه قرار دارند. آنها شامل در مشوره های (چه باید کرد؟) امریکا قرار ندارند...".

هو که وضع همداسي ادامه پیدا کوي. د همدای نظریاتو، چي دی ئې لري او مشابهو پاتې راتلنو او غلطو افادو او غلطو نسخو څخه کار واخیستل سي نو بن بست لا څه، چي ډېر بد عواقب به ولري.

داسي بد عواقب، چي هيڅ څوک به ئې د ټولولو او مرمت توان و نه لري. ديموکراسي داسي حکم کوي، چي ملت بايد تصميم و نيسي او خپل زعامت انتخاب کړي. دوی د ملت اراده ځان ته مختصروي، د دې پروسې مخالفين په طالبانو کي خلاصه کوي او بيا د طالبانو د حرکت د برنامو او موجوديت د محکوميت حکم د ملت نه د اخيستلو د مخه ځان ته خلاصه کوي.

موږ په دې باور يو، چي دوی او يا د بل هر چا حق دئ، چي کومه نسخه د خپلي ټولني له پاره مناسبه ګڼي او کومه نه. د طالبانو نسخه د ټولني د اصلاح له پاره په نوويمو کلو کي د نورمال، متمدن او ديموکرات مسلمان له پاره په هغه ډول، چي د افغانستان خلکو په عمل کي وليدل د منلو وړ نه ده، خو که په ديموکراسي ايمان لرئ نو راځئ، چي د دې نسخو ريښتني تعبير وکړو او يا هم له سره د دې نسخو نا مناسب والی او يا هم د خپلو نسخو مناسب والی او د تطبيق مشروعيت د خلکو نه ترلاسه او په دې توګه چا ته د غير متمدن برخورد او تشدد دلايل پاته نه کړو. هو سياسي توافق او په مشترک کور کي د مشترک ژوندي پر قواعدو توافق په کار دئ، چي په هغه کي د اکثريت د حاکميت او د اقليت د حقوقو تضمين وي. هغه اکثريت او د هغوی نسخې، چي ملت ئې وټاکي.

هو اقتصادي انکشاف په غير مشروع زمامداري او بې کفايته افرادو د تباهي په نسخو، چي جنګ او تشدد په لاره تاکيد کوي او غير له ځانه بل څوک پکښې ځای نه لري او... نه سي ترلاسه کېدلای.

هو په کار ده، چي په سياسي برخو او چوکيو کي سياسي مشروع افراد او په مسلکي برخو کي مسلکي افراد تصميم او کار مخ

ته یوسي. غیر مشروع، بې کفایته او قانون شکنه افراد اقتصادي پر مختیا نه سي را وستلای. هو اقتصادی انکشاف او اداري انکشاف مافیائي حلقات په مشروع ډول نه سي تر سره کولای.

دا چي تاکید کیږي "نیروهای ضد طالبانی در محاسبات بلند در حاشیه قرار دارند". محض دروغ دي. د پورتنیو ادعا ګانو لیکونکي، چي موږ ورځني نقل قول کوو په تیرو لسو کلو کي اووه کاله د افغانستان د ملي امنیت رئیس وو او ځان د سیاسي اتحاد فعال غړی بولي. دوی خپله وایي، چي طالبان به په دیموکراسي د نفس کارړل فرصت ونه لري. نو که په دې خبره په ریښتني ایمان لرئ نو په کار ده، چي دې خبري ته عمل کي تحقق ورکړای سي اما زه فکر کوم، چي دوی د خلکو د انتخاب نه ډار لري.

## دا لیکوال ادامه ورکوي:

"... رئیس جمهور خود خواهان توقف عملیات ها و خواهان سازش با طالبان است...".

علم او پوهه حکم کوي، چي په هغه ټولنه کي به مستقره سوله را نه سي تر څو، چي د هغې ټولني په سیاسي ستیج کي د ټولني ریښتني نمایندګان او د موجوده سیاسي ځواکونو نماینده په مشروع او نورمالو لارو خپل نماینده ونه لري. په سیاسي ستیج کي دا نماینده نه د معاملې او نه د خود فروشی او نه د ملت د تصمیم نه بهرو میکانیزمو او نه په کنفرانسو او کودتاګانو مشروعیت لري. یوازنۍ لار دا ده، چي د ملت د انتخاب شفاف او نورمال میکانیزم او جوړښتونه په صادقانه او ریښتني ډول فعال کړای سي.

موږ په دې باور يو، چې هر ډول معامله، چې د پورتنيو اصولو خلاف وسي د جګړې او خرابۍ د ادامې اصلي لامل به وي. موږ حق نه لرو، چې "ملت را به حاشيه کشاند" طرفدار سو. دا به نادرسته او غير ديموکراتيکه هڅه او لاروي او ده. سياسي قدرت ته د رسېدو له پاره د بهرنيو د نظامي حلقات د اعتمام او روحيې پر بنسټ ځان قدرت ته رسولو له پاره کار حرام و نا مشروع کار دئ. داسي کړنلاره او پلان د الله ﷻ او ملت په نزد د نفرت وړ دئ. داسي کړنلاره او هڅه ملتونه او هيوادونه تباه کوي.

## ليکوال ادامه ور کوي:

"... تا اين همسويي تحت فشار يا امتياز سياسی از بين نرود، طالبان شکت ها و رنج های تاکتيکی زيادی را متحمل خواهند شد ولی شکست استراتژيک نخواهند خورد..."

هو د افغانستان مساله د پاکستان د لاس لنډولو پرته ممکنه نه ده. هو د سياسي تفاهم نه پرته او د مصالحې د ريښتني عملي کېدو نه پرته به نتايج ډېر بد وي.

هو په راتلونکو اتلسو مياشتو کي داسي اقدامات په کار دي، چې تيري نيمګړتياوي ادامه ونه مومي. د ښه، عاملانه او عاقلانه تدابيرو سره عاملانه، په ښه وخت مناسب اقدامات او عملي کارونه وسي. د ښو کارو له پاره حقوقي بسترونه ايجاد سي. کار اهل کار ته وسپارل سي. اداري اصلاحات منځ ته راسي او په دې توګه د خونړيو حوادثو مخه ونيول سي.

هو پاکستان به د دې وضعي نه پوره-پوره ګټه پورته کول غواړي، چې د درک او فهم وړ هم ده.

**لیکوال ادامه ورکوي:**

"اگر دولت افغانستان منافع ملی را به خاطر انجام یک معامله با طالبان زیر پا نماید، احتمال بسیار وجود دارد که کنترول مرکزی فرو ریزد و مردم به خاطر دفاع از شرف، عزت، تاریخ و ارزش ها پناه به نهاد هایی غیر از دولت ببرند - امرالله صالح".

افغانستان په تجزیه تهدیدول او د افغانستان د جدایی او تجزیې خبري مطرح کول د زغم وړ خبره نه ده او دا هڅي تر هر عنوان لاندي خیانت دئ.

هو لکه څنګه، چي مفصله توضیح سوه، مصالحه او مفاهمه نباید د معاملې او خیانت په مفهوم وکارول سي. اما هیڅ څوک حق نه لري، چي د افغانستان د تجزیې التر ناتیف مطرح او داسي تهدید وکړي.

پورتنۍ نسخې او مطالبات او د افغانستان د تجزیې تهدید د بناغلي امرالله صالح دي، چي د هشت صبح په ورځپاڼه کي تېره اونۍ خپاره سول. هغه چي په وروستۍ لسیزه کي د اوو کالو له پاره د افغانستان د ملي امنیت رئیس وو او د سیاسي مطرح تلوالي مهم غړی دئ.

ليکونکی: ډاکټر محمد حسن کاکړ
نېټه: ۲۸ جنوري ۲۰۱۱ ع

# د افغانستان وضع د اندېښنې وړ ده

**(دغه ليکنه د ۲۰۱۱ ع کال د فبروري په يوولسمه د کليفورنيا ايالت په فريمان کي د افغانانو په هغې غونډې کي ولوستل سوه، چي د افغان کلتوري ټولني له خوا د افغانستان د اوسني وضع په نامه جوړه سوې وه).**

د افغانستان د او سنۍ نا ارامۍ سرچينه د سرطان کودتا ده، چې په هغې سره د پاچايي قانوني او دموکرات نظام نسکور سو او له هغه وروسته دغسې حکومتونه په يو بل پسې په واک سول، چې يو ګوندي، انحصاري، افراطي او غير قانوني يعني نامشروع وو. بيا نو عجبه نه ده، چې هغه ټول که څه هم يو ئې د شوروي اتحاد غوندي زبر ځواک په نظامي زور سره په واک استول سوي ول په مطلق ډول ناکام سول. اخر خبره دې ته ورسېده، چې د (۲۰۰۱ ع) کال په اکټوبر کي د نړۍ بل زبر ځواک يعني د امريکې متحد دولتونو په افغانستان باندي نظامي يرغل وکړ. اوس نژدې لس کاله کيږي، چې د نړۍ د څلور څلويښتو هيوادونو سرتيري، د ملګرو ملتونو تر چتر لاندي، د ننه په افغانستان کي فعاليت کوي، سره له دې هم امنيت ټينګ نه دئ او افغان وژنه دوام لري. دا په دغسې حال کي، چي اوس په افغانستان کي نژدې يو نيم لک افغان سرتيري او له يو لک نه زيات افغان پوليس او څه باندي يو نيم لک باندني سرتيري د امنيت د خوندي کولو له پاره موظف دي، چې په هغو کي څه کم يو لک امريکايي سرتيري هم شامل دي. په لږ و ډېر دېرش مليوني افغانستان کي د امنيت په خوندي کولو کي د دغو مره ډيرو پوځونو ناتواني د حيرانۍ وړ ښکاري په تېره، چي دا په نظر کي ونيوله سي، چي د شلمي پېړۍ د خپلواک افغانستان په هيڅ نظام کي افغان وسله وال پوځ او له اويا زره سرتيرو نه زيات نه وو. دغه توپير هم څرګندوي، چي په افغانستان کي د باندنيو پوځونو شته والی او په خاص ډول د هغو په خپل سر عمل، د ناکرارۍ څرګند عامل دئ. د ناکرارۍ نور عوامل په حکومت کي د اداري فساد د عام شته والي، او د مغرضو چم ګاونډيو حکومتونو د سيسې او لاسوهني دي، چي له پورته عامل سره ئې په ګډه د افغانستان وضع بې ثباته او د

اندېښنې وړ ګرزولې ده. دلته به د ناکرارۍ دغه درې عاملونه په لنډه ډول واضح سي. شروع به ئې د افغانستان له حکومت نه وسي.

د افغانستان اوسنی نظام په رسمي او څرګند ډول قانوني او مشروع دئ. ولسمشر او د ولسې جرګې غړي د اساسي قانون له مخي په سراسري انتخاباتو سره غوره کېږي، په داسي حال کي، چي اساسي قانون له عنعنوي لیک سره سم د افغان متخصصانو له خوا وړاندي سوي او د لویي جرګې له خوا منل سوي او نافذ سوي دي. په دغو موضوع ګانو پوري اړوندي چاري په خپله افغانانو تر سره کي. هو! باندنیانو په لوجستیکي چاروکي له افغان چارواکو سره مالي مرسته کړې لکه چي په نورو برخو کي ئې هم کړې ده، چي له دغي ډډې به ئې په چارواکو نفوذ کړی وي. خو په عمل او واقع کي دا پخپله افغانان ول، چي د خپل وجدان او خپل قضاوت له مخي ئې د ولسمشري او ولسي جرګې په غوره کولو کي رایه ورکړې او په دې ډول ئې د دغه نظام اساسي ستني درولي دي. خو په دغه نظام کي، لکه په بل هر نظام کي دا حکومتي چارواکي دي، چي هیواد باید د قانون پر بنسټ په خپل سیاست او چلند سره اداره او د پرمختګ په لار روان کړي او خپلو هیوادوالو او داسي هم باندنیو ته د انکشافي پروجود عملي کولو له پاره ډګر هوار کړي. له دې امله ده، چي د حکومت یا په دقیق ډول د اجرائوي قوې ترکیب او په حکومتي مقامونو کي د چارواکو ګمارل او داسي هم د حکومت داخلي او باندني سیاست او له خلکو سره د چارواکو چلند اساسي اهمیت لري. خو د افغانستان اوسنی نظام په دغو برخو کي غټې نیمګړتیاوي لري، چي یو څو مهمي به ئې دلته په ګوته سي.

د دغه نظام اساسي نیمګړتیا دا ده، چي د انتقالي دورې

حکومتي چارواکي د تنظيمي، ژبني، اساسي او شخصي ملاحظو له مخي ټاکل سوي، نه په چارو کي د وړتيا له مخي. د اسلامي امارت له سقوط نه وروسته، چي د (۲۰۰۱ ع) کال په ډسمبر کي د جرمني په هيواد د بان په ښار کي د ملګرو ملتونو تر څارني لاندي د افغان نوي نظام بنسټ ايښوول کېده وزارتونه هغو کسانو ته تشخيص سول، چي له امريکا سره ئې د امارت په نسکورولو کي په يوه يا بل ډول مرسته کړې وه. يو څو ئې د امريکې چارواکو د خوښې افغانانو ته تخصيص سول. دوی ټول په دولتي چارو کي بې تجربې او د ګوندي سياست تېنګ لوبغاړي ول. د پاچايي دورې نظامي او ملکي چارواکي له نظر نه وغورزول سول که څه هم هغوی ښايسته ډېر او د تجربو او اعتبار خاوندان ول. په دې برخه کي د بان غونډه په (۱۹۹۲ ع) کي د پېښور غونډې په شان وه، چي د پاکستان صدر اعظم نواز شريف په سروالي په کابل کي د ډاکټر نجيب د رژيم له سقوط نه وروسته نوی حکومت يوازي اسلامي تنظيمونو ته منحصر سو خو هغوی د امنيت په خوندي کولو کي تر پايه پوري پاتي راغلل. د بان فارمول له مخي جوړ سوی موقتي حکومت که څه هم موظف وو، چي هيواد د سلطنتي مادې نه پرته د (۱۹۶۴ ع) کال اساسي قانون له مخي اداره کړي، دوه کارونه وکړل، چي ناوړه اثرونه ئې تر اوسه هم حس کېږي، يو دا چي هر وزير خپل چارواکي، لکه چي د مخه وويل سول، د خپلي خوښې له کسانو څخه وټاکل، چي هغوی د دوی قوميان او شخصي دوستان ول د وړتيا پرنسيپ، چي د ښه او موثر حکومت حتمي اصل دئ، له نظر نه وغورزول سو. څنګه چي امارت پوره له منځه تللی وو او څنګه چي په افغانستان کي ملکي سرويس يا دايمي دفتري ميرزايان د نسته په حال کي ول، دغو وزيرانو حکومتي ادارې له دغسي مامورانو نه ډکي

کړي، چي په حکومتي چارو کي ئې نه دا چي تجربه نه لرله، دخپلو مقامونو لیاقت ئې هم نه لاره. په دوی کي لایق چارواکي هم ول، خو هغو نه سوای کولای، چي د زورمنو آمرانو د نظر پر خلاف کار وکړي.

بله دا څنګه، چي زیاتره طالبان پښتانه ول او څنګه چي طالبانو اسلامي تنظیمونه او شمالي ټلواله له واک نه غورزولې وه بیا نو وروستیو ټول پښتانه طالبان معرفي کول په دغه مقصد، چي له هغو سره هم لږ و ډېر هغسي چلند وسي لکه چي له طالبانو سره کیږي. د دغسي چلند له پاره وضع هم مساعده وه. په سر کي په افغانستان کي د امریکې د پوځ شته والی او له امریکایي قوتونو سره د طالبانو -ضد ډلو اتحاد وو. بل ئې په مزار او بیا د شبرغان په لیلا دښته کي د زرګونو هغو پښتنو وژنه وه، چي د صوفي محمد په هڅوني سره له طالبانو سره د مرستي له پاره له وزیرستان او پښتونخوا نه راغلی او په کندوز کي غالبو قوتونو ته تسلیم سوی وو. دا هم د طالبانو ضد ډلو ته یوه شنه علامه سوه. په اصل کي دوی هغه وخت زړه ور سول، چي د طالبانو له سقوط نه وروسته د کابل ښار ته وسله وال ننوتل په داسي حال کي، چي د بان غونډې فیصله کړې وه، چي د کابل ښار دي بې وسلې وي. هیڅا د دوی مخه ونه نیوله بیا نو یوازي دوی او د دوی په شان نور ول، چي د باندنیو د ساتني له پاره ئې امنیتي شرکتونه جوړ کړل، چي د هغو له لاري ئې خپل مخالفان هم بېرول او شتمن ئې د پیسو له پاره تښتول بیا نو په کابل کي ترور او سړي تښتول زور وموند، حتی د ولسمشر حامد کرزي د حکومت دوه وزیران په کابل کي په رڼا ورځ ترور سول. حکومت د دې توان نه لاره، چي د دغو جرمونو عاملان معلوم او محکوم کړي. په دغو پیښو سره د حکومت اعتبار له منځه ولاړی، مشروعیت ئې زخمي سو، او بد امنیتي خپره سوه. بد امنیتي

هغه وخت لا زیاته سوه، چي په مزار او شبرغان کي د وژل سوو پښتنو قومیانو د هغو د انتقام اخیستلو له پاره هم له افغان طالبانو سره لاس یو کړ. دوی د همدغه مقصد له پاره په وزیرستان کي د پاکستاني طالبانو تحریک کي سره تنظیم او فعال سول. اوس که څه هم د دغه تنظیم موسس بیت الله مسعود او د هغه ځای ناستی حکیم الله مسعود د امریکې د بې پیلوټه الوتکي قرباني سوي دي. تحریک ئې ژوندی او فعال دئ او قربانیان ئې د ډیورند کرښې په دواړو خواوو سیمو کي ډېر دي.

د ناکراری بل غټ عامل اداري فساد دئ. پخوا هم په افغانستان کي چارواکو په رشوت سره کار تر سره کاوه اختلاس ئې کاوه او په دې ډول ئې قانون تر پښو لاندي کاوه، خو د دغه نوي انتقالي حکومت له جوړېدلو نه یو څه وخت وروسته اداري فساد تر دې حده عام، برالا او د رسوائي حد ته ورسېدی، چي په افغانستان کي پوره بې ساری وو. په ښایسته اوږده موده کي په حکومت پوري اړوند هیڅ کار بې له رشوت څخه نه تر سره کېده. په رشوت اخیستلو کي پولیس، مامور او قاضي له یو بل نه کم نه ول او ځیني لوړ چارواکي په اختلاس یا بله دولتي شتمني نه په استفادې سره میلیونران سول. هغسي میلیونران، چي د ملي جهاد په دوره کي د اسلامي تنظیمونو ځیني لویان میلیونران سوي ول، په داسي حال کي، چي ډېر افغانان د وزګاري له امله په دواړو دورونو کي ډېر غریب سول. د اجتماعي قطبیت دغه پروسه لا هم په قوت سره روانه ده، چي دا هم د نارضایت غټ عامل دئ.

د فساد علتونه هم کم نه ول. اصلي علت ئې نالایق چارواکي ول، چي له دولتي نظام نه ئې شخصي او تنظیمي استفاده کوله. بل

غټ دلیل ئې د معاش لږ والی وو ، چې په هغه سره د یوه چارواکي او د
هغه د اصلي کورنۍ ګذاره نه کېدله، هغه هم په دغسې حال کې، چې په
وطن کې د باندنیانو او ډالرو په بسیاري ډېروالي سره قیمتي بې حده
زیاته سوې وه، په داسې حال کې، چې د باندنیو غیر حکومتي موسسو
یا انجوګانو د باندنیو چارواکو لا څه، چې د هغو د افغان مامورانو
معاش د حکومتي چارواکو له معاش نه په غیر مقایسوي اندازه ډېر
وو. انجوګانې، چې په افغانستان کې په دغه وخت کې هغه هم په زیات
شمېر په کار ولوېدلې په دغسې کارونو موظفې سوې، چې د خپلو
تعمیري کارونو تر څنګ ئې د افغان حکومت اعتبار ته صدمه
ورسوله. اول خو تعلیم کړو او لایقو افغانانو د زیات معاش تر لاسه
کولو له پاره انجوګانو ته مخه وکړه او حکومت د دغسې کسانو له
خدمت نه محروم سو. لا مهمه دا ده، چې دغو انجوګانو هغه واړه لوی
ټول ګټې تعمیري کارونه کول، چې په عنعنوي ډول یا افغان
حکومتونو کول یا د هغو له لاري کېدل. حکومت اوس د غه امتیاز او
عنعنوي ماموریت له لاسه ورکړ. انجوګانو دغه کارونه په هغو پیسو
کول او اوس ئې هم کوي، چې له مرستي کوونکو هیوادونو څخه ئې په
خپله په نیغه تر لاسه کوي. ویل کیږي، چې مرسته کوونکو هیوادونو
او په سر کې ئې امریکا د افغانستان په بیا ودانولو کې په وړو لویو
پروژو کې تر اوسه لږ و ډېر څلوېښت ملیارډ ډالر لګولي، چې په هغو
سره وران سوی افغانستان دغو مره بیرته ودان او عصري سوی، چې په
خپله افغانانو دغه کار په کلونو - کلونو کې هم نه سو کولای. خو دغه
موضوع که څه هم ډېره مهمه ده له دغه بحث نه د باندې ده. دلته به
دغو مره وویل سي، چې پخوا دا افغان حکومت وو، چې دغسې پولي
مرستې ئې د خپلو عمالو له لاري د باندنیو مشاورانو په مشوره په

انکشـــافي پروژو لګولې او اوس دغـه کـار بـانـدني شـرکتونـه او انجوګاني په خپل سـر کوي او په دې ډول تر يوه حده د افغان حکومت وظيفه اجرا کوي. پر دې سـربېره د دغو باندنيو د پولي مرسـتو غټه برخه بير ته خارج ته ورل کيږي. په دغه کار سـره هم د افغان حکومت اعتبار او تر څه حده ئې واکمني هم زخمي کيږي. د همدغي موضـوع په سر د اختلاف له امله وو، چي ښاغلي رمضان بشردوست د وزارت له مقام نه ځان ګوښه کړ، يا ګوښه کېدلو ته اړ سو.

د نا کراری بل غټ عامل په وطن کي د باندنيو پوځونو شـتـه والی او د هغو په خپل سر عمل دئ. په دې اړه له بحث کولو نه د مخه به ووايم، چي دغه پوځونه د امريکې په نوښـت د ملګرو ملتونو د امنيت شـورا د فيصـلې له مخي راغلل په دغه مقصـد، چي د افغانسـتان اسلامي امارت نسکور کړي او هغه کسان او ډلي لکه القاعده وځپي، چي د (۲۰۰۱ع) کال په سپټمبر کي ئې د نيويارک او واشنګټن په وهلو کي په يوه يا بل ډول برخه درلوده، چي په دغه عمل سـره شـاوخوا درې زره امريکايان ووژل سول. په دې ډول دغه پوځونه له ټولو هغو پوځونو نه توپير لري، چي د تاريخ په اوږدو کي افغانسـتان ته ننوتلي دي. بل توپير دا دئ، چي د دغو پوځونو مقصـد محدود او موقتي دئ، نـه دايمي او د افغـانســتـان نيول او اداره کول. کـه مطلب نيول وای افغانستان به د اساسي قانون، انتخابي پارلمان، قانوني حکومت او د سـياسـي ګوندونو خاوند نه وای او خلکو به پاڅونونه کړي وای لکه پخوا، چي د هر باندني پوځ په برابر کي ئې کړي. پر هغه سربېره افغانان اوس په وطن کي په دغسي آزادي سره وينا، عمل، سفر او ژوند کولای سي، چي د پاچايي لسيزي نه وروسته ئې په هيڅ نظام کي دغسي ژوند کولای نه سـو. لـه بلي خوا د وران سـوي وطن ودانول لکـه، چي يوه

پروسه سوی وي.

د وطن ټولي لوئي لاري قیر سـوي؛ په ډیرو کلو کي د پـاکو او بو له پاره ژور څاه ګان کیندل سوي او روغتیائي مرکزونه پرانیستل سـوي، چي د هغو له امله د اولاد کېدلو په وخت کي د میندو مړینه تر پخوا نه ډېره کمه سوې ده؛ داسي هم په ټول وطن کي ډیري ښوونځیاني او ډول-ډول شـخصـي او دولتي پوهنتونونـه تـاسـیس سـوي دي. عصري پوهنه په دغه نظام کي دغومره پراخه سوې، چي بل هیڅ وخت دغومره پراخه نه وه. له دغه حرکت سره جوخت شتمنو افغانانو په کابل او ولایتي مرکزونو کي یا نوي ښـارونـه ودان کړي، یـا ئې پخوانـي ښـارونه پراخ کړي او د لګښـتي ځیزونو د تولید له پاره ئې وړې لوئي کارخانې په کار اچولي دي. داسـي هم په افغانسـتان کي د لومړي ځل له پاره تعلیم کړو ځوانانو نه یوازي پـه کـابـل بلکي پـه هر ولایت کي کلتوري ټولني جوړي او فعـالي کړي دي. دغـه ټول حرکتونـه او نور د پرمختللي او عصـري افغانسـتان پیلامه کېدای سـي خو چي امنیت ټینګ وي. له بده مرغه افغان او باندني پوځونه تر اوسه په دې بریالي سوي نه دي، چي په ملک کي د ډاډ وړ امنیت ټینګ کړي او خلکو ته د سالم ژوند له پاره ډګر هوار کړي. باندني پوځونه لا د بد امنیتۍ عامل هم ګڼل کیږي.

په افغانسـتان کي د باندنیو پوځونو د شـته والي په اړه باید وویل سي، چي هغه د افغان حکومت نه دئ او نه په دې مامور دئ، چي د حکومت دندي تر سـره کړي، خو پـه عمـل کي پـه ځینو برخو کي لـه حکومت سره په تضـاد او ټکر کي واقع کېدای سـي. د افغان حکومت هغـه یوازني تنظیم دئ، چي افغـانـانو یوازي هغـه تـه د حکومت کولو اختیار ورکړی او د نړۍ هیوادونو او ملګرو ملتونو هم د غه حکومت

په رسمي ډول پېژندلی او ورسره ئې اړیکي ټینګي کړې دي. باندنیو پوځونو ته لازمه وه، چي د اسلامي امارت له نسکورولو او له افغانستان څخه د هغه د چارواکو له وتلو نه وروسته ئې د افغان ملت په احترام او د خپل محدود مقصد په خاطر له افغان حکومت سره همکاري کړې او هغه ئې د غومره پیاوړی کړی وای، چي په ټول هیواد حاکم سوی وای تر څو د غه امکان له منځه تللی وای، چي له دغي خاوري نه به کومه ډله د نورو پر ضد استفاده وکړي. د افغان-انګلیس له دوهم جنګ نه وروسته د هند برتانوي حکومت له همد غسي سیاست نه کار واخیست، چي په نتیجه کي افغانستان د یوه ټینګ مرکزي حکومت خاوند، په ټول هیواد حاکم او سراسري امنیت خوندي سو. خو د امریکې د وخت حکومت، چي په افغانستان کي د بین المللي قوتونو مشر وو، د افغانستان د مرکزي حکومت د پیاوتیا له پاره کوم خاص څه ونه کړل. د هغه په قوت لا نه یوازي په انتقالي حکومت کي بلکي د انتخاباتي دورې په حکومت کي هم دغسي کسان په زیات شمېر په حکومت کي ننوتل، چي منسوب تنظیمونه ئې د واکمنۍ په وخت کي د امنیت په ټینګولو کي په مطلق ډول پاتي راغلي ول او ځیني کسان ئې لا د بشري حقوقو په نقص هم تورن وو.

لا مهمه دا ده، چي د ائتلافي پوځونو سرتیرو په افغانستان کي دغسي عملونه هم وکړل، چي خلک ئې وپارول. دغه عملونه په کلیو کي د دوی په فکر مشکوکو کورونه ته ننوتل او د نارینه سرتیرو له خوا د ښځو لټول وو. ښایسته موده کیږي، چي ښځي د نارینه سرتیرو له خوا نه بلکي د ښځینه سرتیرو له خوا لټولي کیږي. خو نظامي عملونه تر اوسه هم، خو اوس په احتیاط سره، تر سره کیږي، چي په هغو کي ملکي افغانان هم تلف کیږي. که دغه عملونه له اول نه

له افغانانو سره لږ تر لږه په مشوره کېدلای، هغومره تلفات به ئې نه لرلای، چي په واقع کي ئې ولرل، او هغومره پاروني به ئې نه وای کړي، چي په واقع کي ئې وکړې. بې له شک نه دغه پاروني، اداري فساد او له حکومت نه د پښتنو بېگانه کېدل د دې سبب سو، چي نارضايت په اولس کي خپور سي او طالبان له هغه نه په استفادې سره د حکومت او دغو قوتونو پر ضد جگ سي يا خپل فعاليت له پخوا نه ډېر کړي.

طالبان د امارت له نسکورېدلو نه څو کاله وروسته فعال سول يعني هغه وخت، چي نارضايت خپور سو او د امريکې له (۲۰۰۳ع) کال نه وروسته خپله جنگي توجه په زياته اندازه عراق ته واړوله. طالبان اول په پښتني سيمو کي د ناراضو خلکو په رضا او حتی په همکاري فعال سول.

په جنگي ډگر کي د طالبانو بيا څرگندېدنه نه يوازي د افغانستان بلکي د سيمي وضع هم کړکېچنه کړې ده. د دوی فعاليتونه په تېره ځانوژنه او نور وژنه، چي تخريبي او د ژوند پر ضد عمل دئ، ټولو ته معلوم دي، چي دلته ئې د بيان ضرورت نسته. په عوض ئې دغو مهمو ټکو ته توجه په کار ده. يو دا چي طالبان يو عمومي نوم سوی، چي د اسلامي تحريک له غړو او پلويانو نه برسېره هغه باندنيان هم پکښي راځي، چي له دوی سره په افغانستان کي فعاليت کوي. بله دا چي دوی ټول د ډيورند له کرښي نه اخوا سيمو او زياتره له وزيرستان څخه افغانستان ته ننوځي. بله دا چي ثابته نه ده، چي دوی دغه عملونه په خپل سر کوي يا ئې د باندنيو مذهبي ډلو او تنظيمونو او حکومتي ادارو په هڅوني او مرسته کوي. په دې اړه، چي کوم نومونه په ياد راځي هغه د پاکستان توند لاري مذهبي تنظيمونه، القاعده او آی اس آی دي. اصلي محرکان، چي هر څرک وي د آی اس آی رول پکښي تر

ټولو اساسي دئ.

د امارت له نسکوریدلو نه وروسته ټول پېژندل سوي افغان طالبان او لويان ئې کوټې او وزيرستان ته واوښتل، چي د ملا محمد عمر په سروالي د کوټې شورا او په شمالي وزيرستان کي د قومندان جلال الدين حقاني په مشري ډله ئې تر ټولو مهمه ده. د پاکستان طالبانو تحريک، چي موسس ئې بيت الله مسعود وو، د دوی ټينګ متحد وو او تحريک ئې اوس هم دئ. خو افغان طالبان د آی اس آی له اجازې نه پرته په افغانستان کي حکومتي ضد او اروپايي ضد فعاليت او عمل کولای نه سي. دا هم عمومي پوهه ده، چي د آی اس آی ځيني پنجابي اصله چارواکي نه دا چي طالبان په دې اړه هڅوي، بلکي ورسره مرسته هم کوي. د رسنيو له مخي د امريکې حکومت هم په دغه واقعيت خبر دئ خو تر اوسه بريالی سوی نه دئ، چي د دغه کار مخه ونيسي که څه هم له پاکستان سره ئې په مليارډونو ډالره مرسته کړې او لا ئې هم کوي. د پاکستان نظاميان به ځکه دغسي کوي، چي د ستراتيژيکي ژورتيا په نامه دغسي پلان لري، چي د هغه له مخي افغانستان بايد د باندنيو پوځونو له وتلو نه وروسته د دوی تر لاس لاندي هيواد وي. د دغه مقصد له پاره پاکستان زيار باسي دغسي ډله او کسان په افغانستان کي واک ته ورسوي، يا واک ته په رسېدلو کي ورسره مرسته وکړي، چي د دوی نفوذ ته غاړه ايږدي. دا يو لوی او څو اړخيز پلان دئ، چي په ساده ژبه ئې لنډ بيان دا دئ، چي څه وخت هند پر پاکستان يرغل کوي د دوی قوتونه په شا کيږي او بيا له پښتونخوا او افغانستان نه په غير منظم يعني ګوريلائي جنګونو لاس پوري کوي. پاکستان دغه پلان هغه وخت عملي کولای سي، چي د افغانستان حکومت د دوی د خوښي له افغانانو نه جوړ وي. پاکستان

دغه پلان وروسته له هغه وایست، چي ختیز پاکستان د بنګله دېش په نامه د هندوستان په نظامي زور له پاکستان نه بېل کړل سو. اوسنی پاکستان هم خپل بشپړوالی له هند نه په خطر کي ویني. له همدې امله د پاکستان ستر پوځیانو د جنرال ضیاء الحق له وخت نه وروسته د ستراتیژیکي ژورتیا پلان د دفاعي پلان په شان ټینګ نیولی، چي د افغانستان تر لاس لاندي کېدل ئې یوه حتمي برخه کیږي. د پاکستان دغه پلان د هند د انګریزي حکومت د عملي سرحد پلان په شان دئ، چي په هند باندي ئې د روسیې د احتمالي یرغل په مقابل کي ایستلی وو، چي د ډیورنډ کرښه د هغه منطقي نتیجه وه.

له بلي خوا ایران هم په افغانستان کي لکه، چي ټولو ته معلومه ده، د خپل نفوذ د خپرولو له پاره پیسې لګوي او فرقه ییزي لمسوني کوي، که څه هم اصلي پلان ئې د پاکستان د پلان په شان تر اوسه مشخص سوی نه دئ. ژورنالیست رزاق مامون په خپل کتاب ردپای فرعون کي د ایران افغان ضد دسیسې بیان کړي دي. ممکن له همدې امله وي، چي د هغه په مخ باندي تېزاب وپاشل سوه او دی اوس په هند کي تر علاج لاندي دئ. ایران د افغان کورني جنګ په بهیر کي دغسي دسیسې او فعالیتونه کول لکه، چي غوښتل ئې افغانستان څو برخي کړي. دا چي پاکستان او ایران د افغانستان په اړه شومي اجنداګاني لري له دې نه هم معلومه ده، چي هر یوه ئې په دغه هیواد کي اشخاص او ډلي په زیاته اندازه د پیسو او ملایانو له لاري تر نفوذ لاندي راوستلي او په دې ډول ئې د هغو د افغانیت، د هغو د وطندوستۍ او د هغو د خپلواکۍ روحیه یا په بله ژبه د هغو د سرېتوب روحیه سسته کړې ده. په افغانستان کي د ایران نفوذ د ولسمشري دوهم مرستیال کریم خلیلي له دغي وینا نه معلومیږي، چي د (۲۰۰۸

ع) کال په ډسمبر کې ئې ویلي وو، چې: (هیچ طرحی در افغانستان بدون حضور ایران پذیرفتنی نیست). د پاکستان صدر اعظم ګیلاني هم په تېر اکتوبر کې د طالبانو له تحریک سره د خبرو کولو په اړوند ویلي وو، چې په افغانستان کي (له موږ نه پرته هیڅ شی نه سي کېدلای، ځکه چې موږ د حل د لاري یوه برخه یو، نه د ستونزي یوه برخه). له دغو ویناوو نه هم معلومیږي، چې دغه هیوادونه د افغانستان په اړه د شوروي اتحاد غوندي اجنداګاني لري په دغه تفاوت، چې عملي کول به ئې په پوځي قوت نه وي. دوی د افغانستان په لاندي کولو کي ممکن له شوروي اتحاد نه هم ډېر جدي وي ځکه، چې هر یو ئې د خپلي خاوري په تناسب له حد نه ډېر نفوس لري، په داسي حال کي، چې افغانان د خپل پراخ او ډېر ښکلي هیواد په تناسب لږ نفوس او دغو مره قیمتي کانونه لري، چې له هغو نه په استفادې سره افغانستان د نړۍ د شتمنو هیوادونو په قطار کي حسابېدلای سي.

بیا نو عجبه نه ده، چې د ایران او پاکستان دسیسو له داخلي ناکرارۍ، اداري فساد او په وطن کي د باندنیو پوځونو له شته والي سره په ګډه ډېر افغانان د خپل هیواد د راتلونکي په اړه اندېښمن کړي دي. په دغه حال کي افغانان باید څه وکړي؟ دا ډېره مهمه او ډېره اساسي موضوع ده، چې ځان ته بحث غواړي. دلته به زه په دې اړه د یو څو ټکو یادونه وکړم او خپله وینا به ختمه کړم.

په سر کي به ووایم، چې د مغرضو ګاونډیو د خطر د بې اثره کولو او د افغانستان د ښې راتلونکي په خاطر ښایي افغانان له امریکې سره کوم ډول دایمي ستراتیژیکي ملګرتوب ولري. امریکا استعماري تاریخ نه لري او افغانستان ته هیڅ وخت خطر کېدلای نه سي، بلکي د هغه په پرمختیایي پروژو کي د نړۍ تر هر بل هیواد نه

غټه ونډه لرلای سي. افغان واکمنو له پاچا امان الله نه تر خلقیانو پوري کو ښښ کړی، چي امریکا د افغانستان په چارو کي ښکېل کړي خو په دغه کار کي بریالي نه سول. اوس چي امریکا د افغانستان په چارو کي شکېل سوې افغانانو ته ښايي، چي له دغي موقع نه هغسي استفاده وکړي لکه جرمني، جاپان، جنوبي کوریا او نورو چي له دوهم نړیوال جنګ نه وروسته د امریکې په مرسته خپل ملکونه اباد کړل. افغانان به بیا دغسي چانس ونه لري. افغانان هغه وخت دغه کار په ښه ډول کولای سي، چي خپل دولتي نظام اصلاح کړي او د ملي پیو ستون د ټینګښت له پاره اساسي ګامونه واخلي. زموږ دولتي نظام، لکه چي د مخه ویل سوي، په ښه بنسټ یعني د خلکو په اراده ولاړ دئ خو په حکومت کي د اصلاحاتو راوستل حتمي سوي دي. په اصل کي اصلاحات راوړل د وخت په تقاضا او د نظام د نیمګړتیاد سمولو له پاره باید یوه پروژه وي. د اوس له پاره حتمي ده، چي حکومتي لوړ چارواکي یعني وزیران او د وزارتونو د څانګو آمران باید لږ تر لږه لسانس وي، د وطن په دوارو لویو ژبو، لیکل، لوست او ویل وکولای سي او هر یوه ته دغومره معاش ورکړل سي، چي د هغه او د هغه د اصلي کورنۍ ګذاره پرې وسي. په اصل کي د ټولو دولتي چارواکو استخدام باید د لیاقت له مخي وي. لوړ چارواکي باید د وظیفې د اشغال په وخت کي لوړه وکړي، چي افغانستان ته، افغان اولس ته، افغان خپلواکۍ ته او اساسي قانون ته به ریښتنی او صادق وي. د ملي پیو ستون د پیاوړتیا له پاره به ښه دا وي، چي په رسمي پاڼو کي د قوم نوم ذکر نه سي لکه چي د ولسمشر محمد داود خان په وخت کي نه لیکل کېده. له دې سره سم دي په دولتي پاڼو او عامه رسنیو کي د افغانستان هیڅ قوم په سپکه یاد نه سي او که چا په سپکه یاد کړ له هغه

نه دي پوښتنه وسي. داسي هم په ښوونځيو کي دي د مدني اخلاق په نامه يو مضمون تدريس سي، چي ديني او ملي ارزښتونه، دولتي نظام، د جامعې او دولت په برابر کي د افرادو وظيفه او د افرادو او جامعې په برابر کي د دولت مسئوليتونه ئې اساسي موضوع ګاني وي. په عين حال کي دي په افغانستان کي د غير منقول جايداد په بيه اخيستل او خرڅول يوازي او يوازي د افغانانو تر منځ وي.

ستاسي محترمانو له توجه مننه

ليکونکى: ډاکټر نبي مصداق–واشنګټن

# د سيال افغانستان د ژغورني پلان

په دې کتاب کي به تاسو د ډيرو خواخوږو او زړه سواندو پوهيااليو نظرئې د افغانستان د جنګ د ختم او د امنيت د ټينګولو په باب ولولئ.

زما په اند هغې مرحلې ته موږ بايد له دوو کړيو نه تېر سو، لومړى بايد د خارجي ځواکونو د وتلو لاره پرانيزو (چي په دې برخه کي به مختلفي نظرئې په دې کتاب کي مطالعه کړئ) او دوهم دا چي څنګه موجوده رژيم، چي د خارجي ملکو له ايجنټانو، غلو، قاتلانو او د افغانستان له دښمنانو نه ډک دئ، له صحنې نه وايستل سي. ځکه همدا اوس افغانستان ته، پرديو مداخله ګرو قواوو، داسي يو فاسد

حکومت ور په برخه کړی، چي افغانستان خولا څه کوي، چي حتی د دې سیمي په تاریخ کي نه لیدل کیږي.

د دې فاسد حکومت د معاوضې له پاره موږ زرهاوو صالح او خواخوږو افغانانو ته په لومړۍ مرحله کي ضرورت نه لرو، یوازي (۱۳۰) په شاوخوا کي وطن دوسته او مخلصه افغانان په کار دي، چي په ډیري اسانۍ سره زه او ډېر نور په افغانستان کي مین افغانان داسي کسانو لیست برابرولای سي. دې (۱۳۰) کسانو ته به د موقتي دورې رئیس جمهور، د هغه مرستیال او پاتي کسانو ته به شل وزارتونه، (دیرشو پوري وزارتونو ته، چي د جګړه مارو ډلو د فشار له امله جوړ سوي او د یو بل کار تکراروي ضرورت نسته) د هغو شل معینان، شل اداري رئیسان او پاتي کسان به د پلازمیني او ولایاتو قاضیان او والیان مقرر سي. کله چي رئیس جمهور د کابینې او وزارتونو لوړ رتبه مامورین، قاضیان او والیان رشوت ونه خوري، د هغو نه لاندي کسان به جرئت ونه کړي، چي په فساد لاس پوري کړي او په دې ډول به په څو میاشتو کي د اختلاس او د خلکو د ځورولو ټغر له افغانستان نه ټول سي او زموږ ملک به بیا خپل د لاسه تللی شرف، وقار او په سیمه او نړۍ کي خپله پخوانۍ ابرو او حیثیت بیا ترلاسه کړي.

زه دا نه وایم، چي دلته او هلته به څوک رشوت ته لاس وانه چوي لکه چي د ظاهر شاه او داود خان په وخت کي په پټه او په چل او هنر باندي به بډي اخیستل کېدې؛خو په دې موقته دوره کي داسي کسان باید پوره رسوا سي او فوراً له کاره ویستل سي.

د ملګرو ملتو د یوې احصائې په اساس هر افغان د کاله (۱۰۰) ډالره رشوت ورکوي. په افغانستان کي، چي د (۳۵) میلیونو په شاوخوا کي وګړي لري که دا د یو ملیارډ نه زیاتي پیسې خلک

پخپله مصرف کړي او یا ئې په ګټه واچوي د اقتصادي رشد په اساس، چي هر سل افغانۍ په چلښت کي لسچنده کیږي، حکومت به وکولای سي، چي د مامورینو د معاشونو په زیاتوالي باندي دا ګټه تقسیم کړي نو بیا به څوک تېټ معاش د رشوت اخیستلو له پاره بهانه کولای نه سي.

زه د افغانستان د ترقۍ او تعالی له پاره یو پنځه کلن پلان لرم، چي تر او سه مي د اریانا افغانستان تلویزون، مهاجرو افغانانو له تلویزونو او ځینو ویب پاڼو له لاري وربانددي خبري کړي دي. ما یو کال د افغانانو اولادو ته، چي په لوېدیز کي لوی سوي درس ور کړی او هم زما دوه زامن او د نورو کورنیو اولادونه، چي هر یو ئې مافوق لسانس تحصیل لري پېژنم، چي د خپل پلار او مور ملک ته څومره مخلص دي او په تلویزونو کي د هغو په بده ورځ او موجوده حال ښوولو باندي څومره ځوریږي. دا تعلیم یافته هلکان او نجوني د افغانستان له پاره هغه ملائیکي دي، چي په (۱۵) الی (۲۰) کالو کي به افغانستان په یوه غښتلي او مترقي ملک باندي تبدیل کړي، ځکه هغوی د لوېدیز په علم او تکنالوژي کي لوی سوي او ډېرئې په عصري علم کي ماستري او دکتوراوي لري.

د لري ختیز ملکونه لکه جاپان، تایوان، جنوبي کوریا او ملزیا یو هم زموږ په شان رسېدلي بشري قوه، چي په لوېدیز کي ئې تحصیل کړی وي نه درلوده. او یوازي د ځینو محدودو محصلینو په لېږلو سره لوېدیزو پوهنتونو ته د خپلو ملکو په صنعتي او عصري کولو ئې پیل وکړ. موږ اوس په امریکا، اروپا، استرالیا او هم په لږ شمېر د افغانستان په داخل کي د (۲۵۰) زرو په شاوخوا کي په لوړه سویه روزل سوي افغانان لرو. پورتنیو ختیز ملکو سره نړیوال کوم زړه

سوی او د مرستي چمتوو الی لکه زموږ سره، چې ئې لري نه درلود. له ټولو څخه مهم، هغو ملکو په خپلو غرونو او مځکي نه لاندي داسي ذخاير، چې موږ ئې لږو هم نه درلوده.

نو لکه څنګه، چې وينئ افغانستان دعصريت، صنعت او پرمختګ له پاره د اسيا د (۱۹۵۰) او (۱۹۶۰) لسيزي د ملکو نه، چې د خپل صنعتي پرمختګ له کبله "د صنعتي پړانګانو" نوم ګټلی وو، ډېر امکانات لري. موږ د دې امکاناتو نه په استفادې سره کولای سو، چې په دوو لسيزو کي افغانستان داسي يو پرمختللی هيواد وګرځوو، چې په سيمه کي يو غښتلی سيال او په رشتيا د سويس نوم وګټي.

## د دې پنځه کلن پلان د عملي کېدو له پاره زما وړانديز په لاندي ډول دئ:

الف: موږ په اسانۍ سره په هر کال کي تر درو زرو پوري خپل دا تعليم يافته ځوانان او ځوانانې، چې په وطن مين او په اخلاص او صداقت سره خدمت ته حاضر وي استخدامولای سو. دا لږ، بايد تر پنځو کالو پوري دوام وکړي. د دې پنځه لس زرو له پاره، په هرو لومړيو کلو کي، چې استخدام کيږي بايد په کابل کي يو مشخص او مصئون ځای ولرو، چې هلته په لومړيو دوو مياشتو کي خپلي ملي ژبي زده کړي او هم هره شپه د خپل کلتور او تاريخ سره د بلدېدو له پاره له پوهانو، عالمانو نيولې تر نورو مسلکي کسانو پوري هغو ته لکچرونه ورکړي، چې په دې ډول په بيړه د خپل ملک له کړو وړو نه با خبره سي.

ب: موږ به دا تعليم يافته ځوانان او ځوانانې د کابل او

ولایاتو په ناحیو کي مقرر کړو، چي د خلکو له کړاوونو پخپله په اصطلاح باخبره سي. البته د نوي کال د نوو ځوانانو او ځوانانی د لومړنۍ دوې میاشتنۍ دورې نه وروسته به د هغو ځای بلي تعلیم یافته ډلي ته وروسپارل سي او لومړۍ دوره به په پلاز مېنه او ولایاتو کي د ټیټي دورې په ماموریتونو پیل وکړي.

ج: زموږ دا تعلیم یافته ځوانان او ځوانانی به د پنځو کالو په موده کي د خپل لوړ دیز تحصیل په رڼا کي نه یوازي دا چي د وطن او خلکو له مشکلاتو به په اساسي ډول باخبره سي خو د هغو په حل کي به ئې هم اقدامونه کړي وي او پلانونه به ورته لري. دوی به د دې پلانونو د تطبیق او مراجعو په باب، نه یوازي راپورونه لیکي، خو په عملي ډول به د هغو په پلي کولو لاس پوري کوي.

د. دا ځوانه او په نړیواله سویه رسېدلي افغانان به زموږ د وطن او حکومت راتلونکي مشران وي او ټول فاسد کسان به یو په یو له حکومتي دستګاه ایستل کیږي او پر ځای به ئې د امتحان او لیاقت له مخي نوي رسېدلي کسان ټاکل کیږي. په دې موده کي به د افغانستان د مامورینو د استخدام له پاره د انګلستان په شان د "سفل سرویس" درې طبقه ئي ماموریتونه وضع کیږي تر څو هري برخي ته داسي کسان، چي په رشتیا ئې لیاقت ولري جذب سي.

افغانستان تر درو ټریلیونو پوري تېل، غاز او نور قېمتي منرالونه لري. زموږ دا رسېدلې طبقه به د وطن د ضرورت په اساس دا ذخایر راسپړي او ملک به ورباندي ابادوي، نه د کرزي د عادل نومي معادنو وزیر په شان، چي د دېرش ملیونه رشوت په مقابل کي، د عینکو د مسو کان خرڅ کړ او په خارج کي د عیش او نوش ژوند تېروي او ځوک نسته، چي دا او د ده په شان په سلهاوو نور خاینان د خلکو

محکمې ته راکش کړي.

زموږ دا نوی پوه نسل به د وطن ذخایر دا سي په پانګه اچوي، چي هر سـل ډالره ئې په زرو ډالرو تبدیل سـي. څرنګه چي موږ د خپلو ټولو او بولـه اندازې نه یوازي د (۲۵) فیصدو نه استفاده کوو، څرنګه چي موږ د خپلو ټولو مځکو له اندازې نه یوازي د لسـو پـه سـلو کي اسـتفـاده کوو، کـه موږ بنـدونـه او کـانـالونـه جوړکړو او پـه میلیونو هکتاره مځکه تر کرهڼي لاندي راولو، افغانسـتان به د غلې دانې د حاصلاتو په یوه مهم مملکت بدل سي. د افغانانو له پاره به دا کوم نوی کار نه وي ځکه چي زموږ خلک په سلو کي اتیا بزګر دي او په ډېر شوق سره به د کرهڼي نوي تخنیکونه هم زده کړي.

وروسـته له پنځو کلو، دا لومړي (۱۳۰) تنه، چي د کوم حزب او ډلي په اسـاس نه، یوازي او یوازي د صـداقت او خدمت په اسـاس سره یوځای سوي کولای سي د ملک د قوانینو سره سم د نورو په شان ځانونـه د جمهور رئیس نـه نیولې تر پـارلمـان او نورو چوکیو لـه پـاره کاندید کړي. د افغانستان خلکو په دې تیرو درو لسیزو نه زیاته موده کي د حد نه زیات کړاوونه لیدلي دي. هغوی د واقعي خدمتګارانو قدرداني کوي او زه یقین لرم، چي په دعا او په انتخاباتو کي به، په خپلو رایو سره هغوی مکافات کړي.

ما د افغانسـتان له پاره د دې حیاتي پلان د هري برخي لنډیز دلته وړاندي کړ تر څو زموږ وطن دوسـته او خواخوږي وطنوال په دې لټه کي سي، چي د افغانستان له پاره، له هره نظره امکانات سته دي او موږ کولای سو لوېدیز مشران په دې قانع کړو، چي د رسېدلي، متحد او اباد افغانستان په جوړېدو کي د دوی خیر هم دئ.

نویسنده: صبورالله سیاه سنگ-ریجاینا/کانادا
تاریخ: ۱۱ مارچ ۲۰۱۱ م

# راه برون رفت قرار ذیل است!

افغانستان با تاریخ کهن، فرهنگ پرمایه و جغرافیای ماجرا برانگیز در میان همسایگان بزرگ و کوچک، یکی از کشورهای جنجالی جهان به شمار میرود. میتوان گفت بنیان لرزان و ناتوان اقتصادی بزرگترین نشانه ایستایی و پیشرفت کند آن است.

افزون بر آنچه برشمرده شد، جنگهای درونی در کنار میدان نبرد شدن از سوی دیگران (و گاه برای دیگران) بزرگترین ویژگی

سیاسی این سرزمین است.

یورشهای کشورگشایان بزرگ از اسکندر، چنگیز، تیمور لنگ، تا جنگهای سه گانه با ارتشهای بریتانیا، شوروی پیشین و ایالات متحده امریکا را در این میان میتوان رویداد های برجسته تر خواند.

چنانی که گفته اند جنگ همواره به تنهایی خودش خانه بر انداز است، چه رسد به‌آن که با درگیریهای بیشتر زبانی، نژادی، گروهی و گاه سلیقوی تفنگداران همراه گردد. به اینگونه، بپذیریم یا نپذیریم کشوری که هنوز نامش "افغانستان" است، پاره-پاره و تکه-تکه به چشم میخورد، گر چه به دلایل روشن یا ناروشن نمیخواهیم بگوییم: تجزیه شده است. شاید از اعتراف به سخن راست و درست میهراسیم.

سردمداران سرنوشت باشندگان این کشور هر بار بهترین و برازنده ترین شانسها را از دست داده اند. آنها هنگام فرمانروایی بیشتر به سود خود و خانواده و خویشاوندان بوده اند تا به اندیشه دیگران. از همینرو، با هر دگرگونی، بار دیگر اغازیده ایم از همان جای نخستین که چندین بار اغاز شده بود بدون آنکه به پایان رسیده باشد یا به پایان رسانده شده باشد.

اینجا سخن از شهامت یا بیشهامتی، آزادیخواهی یا بردگی و خواستن یا نخواستن مردم نیست. بیلانس نیروی جهانی به سادگی نشان میدهد که روزگار کنونی افغانستان بیرون از هر گونه سنجش و بیشتر بر بنیاد "سازش" است: سازشت با همه کس و همه چیز.

اینگونه سازشها یک معنا دارد: گرهی بر گرههای گذشته افزودن. همچو پیمانهای پذیرانده شده از بیرون بر سرنوشت مردم،

هدفی جز به بن بست کشاندن و بر خاکستر نشاندن افغانستان ندارد. کسانی که در تعهدهای تازه پهلوی هم نشسته اند، آدمهای شناخته شده و به سخن دیگر سرمه های آزموده استند.

مردم افغانستان با نگرش، اندیشه و موضعگیری بسیار از آنها از آغاز تا امروز آشنایند. همچو کنار آمدنها، فراتر از آنکه مردم را در انبوهی از دشواریها هر چه ژرفتر غرقه گرداند، به درد شان بیفزاید و اندوه شان را بیشتر سازد، کوچکترین دستاورد دیگری نخواهد داشت.

همانگونه که دولت کنونی افغانستا ثمره سنجشهای بیرونی است، پیمانها و سازمانهایی که به این یا آن عنوان در چهارچوب دولت امروز، چه در کنارش چه در برابرش به میان آوره میشوند، نیز بدون شک محصول همان سازشها و سنجشها هستند. همچو پدیده ها و رورندها برای مردم افغانستان هرگز سودی نداشته اند. البته زیانهای شان تضمین شده است.

هنگامی که میبینیم بینشها با موضعگیریهای چپ و راست به این راحتی و سادگی میتوانند با هم کنار بیایند، در همدیگر منحل شوند و همه دگرگونیهای فکری خود را یکسو گذارند، آیا خود همین طرح پرسش انگیز نمیشود؟ اگر این کار شدنی است و ناگهان چندآدم "شناخته شده" یا "چهره های آشکارا" در تاریخ سیاسی افغانستان میتوانند به‌آسانی با هم کنار آیند، چرا آنها در درازنای سالهایی که دریای خون مردم در راه اختلافات شان ریختانده میشد، به چنین اندیشه یا تدبیر نرسیده بودند؟

میتواند گفت مایه اختلاف و دشمنی در موضعگیریهای هردو سو همچنان بر جاست. از آنجایی که منافع پشت پرده در "جوف جبنه"

است، آنها بار دیگر به قربانیان آینده شان که باز هم مردم افغانستان اند، بی پروایی نشان میدهند. این پیمانها آشکارا ساختگی و دروغین اند.

به گمان زیاد فرد-فرد مردم افغانستان در هر گوشه کشور و نیز در برونمرزها میدانند آنچه و آنکه امروز بر مردم فرمانبروایی میکند و همچنان آنانی که در برابر فرمانروایی کنونی "مخالفت" مسلحانه یا غیر مسلحانه نشان میدهند، یا ساده تر گفته شود، کلیت روند "حاکمیت" کنونی و کلیت روند "تخالف با حاکمیت" کنونی ریشه در تصمیمهای بیرونی دارد.

نه این حکومت از سوی مردم برگزیده شده و نه مخالفینش نمایندگی از مردم میکنند. تصمیمهای بزرگی که برای افغانستان گرفته میشوند، در خاک این کشور تهیه و پخته نمیشوند. این تصمیمها بدون شک، ریشه دارند در کاخ سپید ایالات متحد. در افغانستان یا برونمرزها نخواهد بود کسی که با رویداد های جاری این کشور آشنایی داشته باشد و این نکته را نداند.

میخواهیم دوباره بگویم: "دولت" کنونی افغانستان زاده سازشها جهانی است و چنین است افسانه "هوا خواهوان و بد خواهان" آن. کنشها و واکنشهای این دو "سنگر" در هر سطحی که باشند، کوچکترین نشانی به سود مردم در خود ندارند و نمیتوانند داشته باشند. گراف بالا رونده قربانیان همه روزه نشان میدهد که این معادله ها و معامله ها برای باشندگان افغانستان از هر دو سو زیانبار اند.

مردم ما امروز پیش از آنکه امید زندگی "متحول" شان را "تابع" دولت یا مخالفین دولت بدانند، تابع سرنوشت ناشناخته و گمنام خود میدانند. مردم گرفتار سرگردانیهای فرساینده اند. آنها

رنج میبرند از ناداری، نا امنی، و نشستن در سایه بحرانی که نه از سوی "دولت" میتواند رفع شود و نه از سوی "مخالفین دولت".

از یک نگاه با دو پدیده رویارو استیم: موقعیت تاریخی افغانستان و موقعیت جغرافیایی افغانستان. با دریغ، این کشور نه تنها در پانزده، بیست، بیست و چند سال پسین، بلکه از چندین سده با کشورهای همسایه دارای مناسبات نیک نبوده است.

سخن هرگز از "مردم" و مخالفت مردم این کشور با مردم آن کشور نیست. جامعه های همسایه افغانستان به شمول خودش، مانند همه کشورهای دیگر جهان، بافتها و لایه های گوناگون دارد. چنانی که میدانیم محکومیت، ناداری، بیکاری، بیسوادی و... در سراسر جهان به زبان یگانه سخن میزنند: لسان حقیقت.

محکوم تهیدست پاکستان با مظلوم بدبخت افغان، و آنها با گروهی از آدمهای گرسنه و بیسرنوشت ایران تفاوت ندارند. از همین رو، آدمها در زمینه بدبختی شان دارای اشتراکات و همگونیهای فراوان استند.

هنگامی که گفته میشود افغانستان در درازهای چندین سده با همسایگانش پیوندهای خوشایند نداشته، این ماجرا نمایانگر سیاستهای بحرانزده فرمانروایان کشورهای یاد شده در برابر همدیگر است.

افغانستان همیشه یا معمولاً در کانون بحرانها جان کنده است و فرمانروایانش بیشتر در تعارض با رهبران ایران، پاکستان و جمهوریتهای فروپاشیده از "اتحاد جماهیر سوسیالیستی شوروی" پیشین بوده اند.

افغانستن در کوره یک بحران خیلی ژرف به سر میبرد. بحران

روز تا روز فراگیر تر میشـود، البته به زبان مردم نه به زبان گروههای سیاسی. روزگار کنونی آنچنان شده و کارش به چنان آشفتگی کشیده که هر گوشـه اش قهقرای بن بسـت را نشـان میدهد. به این سـادگی نمیشود کسی دستور یا تجویز تهیه کند و بگوید: "راه برونرفت قرار ذیل است!".

پاسخ داد به این پرسش باید دشوار باشد. هنوز پرسشـهای دیگری دم راه اسـت: آیا راه برونرفت ناگهانی یا نسـبتاً زود وجود دارد؟ اگر آری، آیا چنان راهی دست یافتنی و پیمودنی است؟

کشـمکشـهای مرزی میان افغانسـتان و همسـایه دسـت راسـتش، از یکسـو دارای سـرچشـمه تاریخی اسـتند، از سـوی دیگر جنجالهای یاد شـده پس از یازده سـپتمبر خیلی سـیاسـي یا (Highly-politicized) شـده، و افزون بر اینها، ایالات متحده امریکا در این قضیه نقش آنچنان که پیچیدگی را چند چندان میسازد، بازی میکند.

دشـوار اسـت آدم به تنهایی بتواند راه حل را نشـان دهد. سـخنرانی یکی، دوپنج ده تن هم نمیتواند بسـنده باشـد. چنین کاری سـخت، ذهنی، تخیلی، وسـاهی و به گفت معروف "هندسـه فضـایی" خواهد بود. آنچه در جسـتجویش هسـتیم، هم از چشـم انداز پیشـبینی بیرون است و هم از توان پیشنهاد کننده.

برای یافتن راه یا راههای برونرفت بهتر خواهد بود گروهی از روشنفکرها، جامعه شناسها، اقتصاددانها و تاریخدانهای افغان یا اندیشمندان گستره سیاست گفتگوها، نشستها و بررسیهای دنباله دار داشته باشند. پیشـنهاد کنندگان، بایسـتی در گام نخست دارای توان، آگاهی، شـایسـتگی و صـلاحیت باشـند. پس او از نشـسـتهای پیوسـته و زنجیره بحثها و بررسـیها دیده خواهد شـد کدامییک از

راههای پیشنهاد شده به حل دشواری نزدیکتر است.

نویسنده: ضیا شهریار
تاریخ: ۱۳ مي ۲۰۱۱

فیسبوک تویتر سهیم کنید ارسال صفحه چاپ مطلب زلمی خلیلزاد سفیر پیشین آمریکا در افغانستان، عراق و سازمان ملل متحد می گوید استراتژی توام با تزویر پاکستان که از یک سو خود را دوست آمریکا جا می زند و از سوی دیگر با آمریکا دشمنی می کند، پیش ازین قابل تحمل نیست.

آقای خلیلزاد در گفتگوی با بی بی سی روابط میان آمریکا و

پاکستان را بحرانی توصیف کرد و گفت که حتی پیش از کشته شدن اسامه بن لادن، پاکستان تا حدودی اعتبار خود را برای آمریکا از دست داده بود، زیرا به گفته او اهداف پاکستان در قبال افغانستان کاملا متضاد آن چیزی است که آمریکا می خواهد مطالب مرتبط آمریکا و پاکستان در آستانه قطع رابطه؟ افزایش فشار آمریکا بر پاکستان بر سر قضیه بن لادن رئیس سازمان اطلاعات پاکستان عازم واشنگتن شد لینک های مرتبط موضوعات مرتبط تحلیل و گزارش، سیاست افغانستان خلیلزاد گفت: "در حالیکه ما (آمریکا) دولت افغانستان را حمایت می کنیم، پاکستانی ها مشغول مسلح کردن، آموزش و حمایت از گروه های مخالف دولت افغانستان بوده است".

آقای خلیلزاد می افزاید در حالی که پاکستان مدعی است در جنگ علیه تروریسم کاملا در کنار آمریکا است و پیوسته دستگیری شماری از عاملان القاعده در پاکستان را دلیل این همکاری عنوان می کند، اما از اتخاذ اقدامات جدی علیه گروه های که واشنگتن آنها را تروریست می داند و در خاک پاکستان مستقر هستند، همواره اجتناب ورزیده است.

به گفته او تازه ترین و صریح ترین مثال این دو رویی پاکستان افشا شدن محل اقامت اسامه بن لادن است که سالها در منزلی در نزدیکی اکادمی ملی نظامی پاکستان و یک شناخته محلی سرویس اطلاعاتی این کشور بدون مشکلی زندگی کرده بود.

زلمی خلیلزاد می افزاید با توجه به اینکه نفوذ کشورش در منطقه در بالاترین سطح خود قرار دارد و نیروهای این کشور حضور قدرتمند در افغانستان دارند، آمریکا باید با استفاده ازین فرصت پاکستان را مجبور سازد تا به صورت جدی در عملکرد خود بازنگری

کند.

این مقام پیشین آمریکایی همچنین در مقاله ای در روزنامه نیویورک تایمز، که اخیر تحت عنوان، "پاکستان باید پاسخ دهد" چاپ شد، یک استراتیژی دو مرحله ای را به دولت باراک اوباما در برخورد با پاکستان پیشنهاد کرده است.

طرح دو مرحله ای در این بخشی از این نوشته آمده است: "در مرحله نخست ما باید هر نوع اطلاعات مبنی بر همکاری پاکستان در محافظت از اسامه بن لادن را به صورت رسمی در اختیار رهبران پاکستانی قرار و در مرحله دوم، تقاضای خود را مبنی بر اینکه پاکستان باید ستون فقرات القاعده را بشکند، جدی تر پی گیری کنیم. پاکستان در این راستا باید علیه ایمن الظواهری معاون بن لادن اقدام کند؛ محدودیت ها بر حملات هوا پیما های بدون سرنشین آمریکایی را بردارد؛ پناه گاهای شورشیان در خاک خود را ریشه کن سازد؛ کارخانه های تولید بمب را که علیه نیروهای آمریکایی و افغان در افغانستان استفاده میشود، ببندد و در نهایت از یک راه حل منطقی سیاسی در افغانستان حمایت کند.

آقای خلیلزاد می افزاید که این تدابیر موجب می شود تا افغانستان دوباره به پناه گاه امن تروریستان تبدیل نشود و نگرانیهای مشروع امنیتی پاکستان در افغانستان رفع شود. سپس او پیشنهاد می کند که اگر پاکستان این تقاضاها را عملی کند، آمریکا می تواند در برابر آن به پاکستان پاداش بدهد. این پاداش می تواند شامل تعهدات دراز مدت کمک های تجاری و تقویت برنامه های توسعه اقتصادی و آموزش از طریق بانک جهانی و اداره توسعه بین المللی آمریکا باشد.

اگر پاکستان همکاری نکند این مقام پیشین آمریکا در ادامه می نویسد که اگر پاکستان از همکاری سرباز می زند، ایالات متحده باید به دورویی این کشور نقطه پاین بگذارد. درین صورت او چهار اقدام را توصیه می کند:

۱. نخست باید آمریکا اتکا به راه های تدارکاتی از طریق پاکستان به نیروهای خود در افغانستان را کاهش دهد و در عوض راه های تدارکاتی در شمال افغانستان از طریق کشورهای آسیایی میانه را بیشتر مورد استفاده قرار دهد.

۲. ایالات متحده باید روند ایجاد، آموزش و حمایت از نیروهای امنیتی افغان را ادامه دهد و حضور نظامی خود در افغانستان را کاهش دهد اما نیروهای هوایی و اطلاعاتی را که افغانها برای مدتها به آن نیاز خواهند داشت، درین کشور نگهدارد.

۳. ایالات متحده باید توافقنامه استراتژیک حضور محدود اما دراز مدت خود در افغانستان را با این کشور نهایی کند. این توافقنامه آمریکا را قادر می سازد تا پس از خروج از افغانستان عملیات های ضد تروریستی را ادامه دهد و به خطرهای احتمالی از قبیل افتادن سلاح اتمی پاکستان به دست بنیادگرایان تندرو به موقع واکنش نشان دهد.

۴. ایالات متحده آمریکا می تواند از شورای امنیت درخواست کند تا با صدور قطعنامه به صورت رسمی این موضوع تحت تحقیق قرار گیرد که چگونه اسامه بن لادن توانست در چنین شرایطی در پاکستان مخفی شود. و علا بر این حضور القاعده و دیگر سازمان های تروریستی در پاکستان نیز از سوی شورای امنیت سازمان ملل متحد بررسی شود.

زلمی خلیلزاد سفیر پیشین آمریکا در افغانستان، عراق و سازمان ملل متحد باور دارد که عملی ساختن استراتژی پیشنهادی او مستلزم این است تا روابط نسبتاً پرتنش آمریکا و افغانستان بهبود یابد.

به باور آقای خلیلزاد تغییر مقام های ارشد آمریکایی در افغانستان، می تواند صفحه جدید در روابط دو کشور باز کند. اخیرا بارک اوباما اعلام کرده که ژنرال پترانوس فرمانده نیروهای ائتلاف و ناتو و همچنین کارل ایکنبری سفیر آمریکا در افغانستان به زودی جای خود را به چهره های جدیدی خواهند داد.

لیکونکی: عبدالباري جهاني

# د افغانستان د ژغورلو ستونزي

زه نه لومړی او نه وروستی افغان یم، چي د افغانستان د ژغورلو پر ستونزو باندي لیکنه کوم، بلکي په دې باره کي تر بلي هري موضوع ښایي زیاتي لیکني سوي او زه یقین لرم، چي تر بلي هري مسلې به ډیري لیکني وربانديوسي. د دې معنا دا ده، چي افغانستان د پخوا په څېر له نه حلېدونکو ستونزو سره مخامخ دئ او ځکه نو له

دې حياتي موضوع سره تر بلې هرې مسلې ډېره علاقه موجوده ده. خو له هغې ورځې راهيسې، چې افغانانو د خپل هيواد د ژغورنې له پاره لستونې راغبنتي دي نو دونه زياتې لارې چارې پيشنهاد سوې او را منځ ته سوې دي، چې له خلکو څخه سمې او کږې لارې ګډې سوې او اوس هر څه ور څخه ورک دي.

د مصر د خلکو له پاڅون سره سم افغانانو ته هم دا هيله ور پيدا سوه، چې له ظلم او تېرې څخه لکه، چې د ژغورنې لاره سته. په دې کې هيڅ شک نسته، چې ظالم او فاسد نظامونه، چې شا ته هر څومره قوت او ملاتړ ولري، د خلکو زور ته نه سي ټينګېدلای او د مصر د فرعونانو په څېر، يوه ورځ نه يوه ورځ، نسکورېږي. خو په افغانستان کې، چې له خلکو سره ئې د مصر تر خلکو په سل چنده زيات ظلم او ناروا کېږي، د مصر په څېر منظم ګوندونه او ډلې نسته، چې د خلکو پاڅون د معقول هدف له پاره پر معقولو او منطقي لارو رهي کړي. او تر څو پورې، چې ګوندونه او تنظيموه موجود نه وي او واړه او پراخ عکس العملونه په منظمه توګه رهبري نه کړي، د استبداد او فساد پر ضد هر ډول وړوکی او لوی حرکت په يوه اجتماعي فاجعه بدلېږي.

د افغانستان خلکو لږ تر لږه څه باندې دېرش وروستي کلونه په پرله پسې انقلابونو او تباهيو تېر کړي دي او د هر ډول ناروا په مقابل کې ئې عکس العملونه ښوولي او د مځکې پر مخ ئې تر بل هر هيواد، د سر او مال، زياتي قرباني ورکړي دي خو په نتيجه کې ئې يوازې خپل کورونه خراب کړي او ګټې ئې خپلو دښمنانو ته رسولي دي. د دې پرله پسې ترخو تاريخي تجربو د تکرارېدلو او بيا پېښېدلو ډېر لوی علت د افغانانو خپله ناپوهي ده او له بده مرغه، چې دا ترخې

پیښــي تر نن ورځي پوري هم دوام لري. هدفونه څرګند دي، خو د ې هدفونو ته د رسـېدلو له پاره دومره زياتي لاري طرح ســوي، په دومره ډېرو لارو يون سوی او خلک دومره دوکه سوي دي، چي اوس له هغوی څخه سمي او کږې لاري ورکي دي؛ نه په لار، نه په لارويو او نه د لارويو په پلونو باور کولای سي. البته د دې بې باوری په دوام کي زموږ غليم ګاونډي هيوادونه، نور خارجي قوتونه او د افغانســتان په داخل کي د ملي يووالي دښـمنان يو شـان ګټي لري او چي هر وخت د ملي يووالي او يوه ملي تنظيم د ايجادولو له پاره ږغ پورته کيږي او يا عملي ګام اخيسـتل کيږي دوی ئې په نطفه کي د خنثی کولو هڅه کوي؛ او په يوه او بل نامه ئې د خنډونو سره مخامخ کوي.

په افغانســتان کي څه باندي دېرش کلونو داخلي جنګونو او ټولنيزو او سياسي اختلافاتو او دښمنيو او خارجي مداخلو هر يوه په خپل وار دومره ســتونزي پيدا کړي دي، چي د حل له پاره ئې د هر ډول ريښتوني حرکت او تنظيم د ايجادېدلو مخه نيولې ده.

په افغانســتان کي د (۱۳۵۷ هــ ش) کال د ثور کودتا څخه وروســته د خلقيانو او پرچميانو رژيمونو په خپلو بې وخته اصـلاحاتو سره، چي د شوروي اتحاد د کمونيستي ګوند په مستقيمه لارښوونه او مشـوره ئې عملي کول او د افغانســتان د خلکو د هيڅ ډول مذهبي، ټولنيزو او عنعنوي ارزښتونو سره ئې سر نه خوړ، داسي اشتباهات او جنايات وکړل، چي د افغانســتان د منورينو څخه نيولې، تر ملايانو او خان او غريب پوري ټول طبقات او قشــرونه ئې د خپل نظام په مقابل کي را وپارول. د افغانســتان د مقاومت قواوو په ګاونډيو هيوادونو پـاکســتـان او ايـران کـي مـرکـزونـه جـوړ کـړل او دواړو هـيـوادونـو حکومتونو، په تېره د پاکســتان حکومت او پوځي اســتخباراتو هغه

منورین په بې رحمانه توګه وځپل، ووژل او یا ئې لوېدیزو هیوادونو ته په تېښــته مجبور کړل، چې کېدای سـوای د افغانســتان د راتلونکو نظامونو لارښــوونه وکړي. دوارو هیوادونو، په تېره بیا پاکســتان، د خپلو راتلونکو شــومو او تباه کوونکو نقشــو د عملي کولو له پاره، په خپلو لاسونو جوړ کړي تنظیمونه داسي سره بېل او بې اتفاقه کړل، چې د تل له پاره ئې د یو ځای کېدلو، او یا لږ تر لږه د اختلافاتو د حلولو، احتمال له منځه یووړ.

په افغانســتان کي د شــوروي اتحاد شــرموونکي ماتي او په (۱۹۸۸ ع) کال د فبروري په میاشــت کي له هغه هیواد څخه د وتلو نه څه باندي څلور کاله وروسته د ډاکټر نجیب الله رژیم نسـکور سـو او د کـال (۱۹۹۲ ع) د اپریـل پـه میـاشــت کي کـابـل تـه د مجـاهـدینو هغـه تنظیمونه ننوتل، چې څه باندي لس کاله ئې د پاکســتان د آی ایس آی او د ایران د پاســداران انقلاب او اســتخباراتي ادارو تر مســتقیمي څارني لاندي تېر کړي وه. دې تنظیمونو د کابل او افغانســتان په تباه کولو سـره د پاکسـتان ټول ارمانونه پوره کړل او داسـي کارونه ئې وکړل، چې د افغانســتان په تاریخ کي ئې ســاری نه وو لیده ســوی. مجاهدو تنظیمونو د خپل منځي جنګونو او جنایاتو له امله د قومونو تر منځ داســي اختلافـات منځ تـه راوړل، چې تر دغـه تـاریخـه ئې پـه افغانســتان کي ســاری نه درلود. دغه رازئې پر هغو مجاهدینو باندي خلک بې اعتماده کړل حتی د نفرت تر سرحده ئې ورسره مخالف کړل، چې تر دغه ګړیه پوري ئې د امید ســترګي ورته نیولي وې. دې دوهم لوی ټکر د افغانستان د لانجي د حلېدلو په لاره کي نوري ستونزي منځ ته راوړې او د ملي یووالي منځ ته راتلل ئې تر پخوا نور هم سخت او له نویو خنډونو سره مخامخ کړ.

د (۱۹۹۴ع) کال د سپټمبر په میاشت کې طالبان، د پاکستان په مستقیم ملاتړ، چې د بېنظیر بوټو داخله وزیر نصیرالله بابړ او مشهور کرنیل امام هم ورسره ول، کندهار ته ننوتل. د مجاهدینو بدنام قوماندانانو ئې څوک غرغړه او څوک پسې واخیستل؛ او د هغو بې عزتیو او ناخوالو ټغر ئې ټول کړ، چې کندهار په خپل ټول تاریخ کې نه وه لیدلي. طالبانو یو کال وروسته هرات او دوه کاله وروسته کابل ونیوی او د پنجشېر له خټو جوړ سوي زمریانو ئې له خپلو ټولو داړه مارانو او توپک سالارانو سره د آمو د سیند تر څنډو پورې وځغلول. د طالبانو استبداد، خود سریو او تیریو، چې نه د افغانستان خلکو او نه نړیوالو ته د منلو وړ وې، قومي او مذهبي اختلافات نور هم پسې سخت کړل او د افغانستان د کشالې د حل په لاره کې ئې نور خنډونه او مشکلات هم را منځ ته کړل. د طالبانو په نظام کې عمومي امنیت او د خاورې تمامیت تامین سو خو د پښتنو او نورو قومونو تر منځ اختلاف او دښمنۍ ځکه زور واخیست، چې د طالبانو تام اکثریت پښتانه ول او په دې توګه ملي یووالي یو بل کاري ګوزار وخوړ.

د (۲۰۰۱ع) کال د نومبر په میاشت کې ناټو د متحده ایالاتو په مشرې پر افغانستان باندې د القاعده د مشرانو د نیولو او له منځه وړلو له پاره ځکه پر افغانستان باندې یرغل وکړ، چې ویل ئې طالبانو هغوی ته پناه ورکړې ده. د طالبانو نظام نسکور سو، خو لوېدیزو هیوادونو د افغانستان د نیولو له پاره هغه داړه ماران، جنګ سالاران، جنایتکاران او بدماشان ورسره راوستل، چې د کابل او افغانستان په تباه کولو کې ازمیېل سوي او د طالبانو په مقابل کې ماتې خوړلو او په پردیو هیوادونو کې سرګردانیو تر پخوا سل چنده خروړې کړې ول.

امریکایي قواوو په شمال کې تسلیم سوي طالبان، اوزبک

جنګ سالار رشید دوستم ته وسپارل او هغه ټول په ډېر فجیع شکل، ووژل. امریکایي الوتکو او هیلي کوپټرونو طالبان د تیښتي په حالت کي تر کندهار پوري تعقیب کړل او ویل کیږي، چي ښایي تر لسو زرو تنو پوري ئې وژلي وي. امریکایانو په افغانستان کي داسي فاسده اداره منځ ته راوړه، چي په ټوله نړۍ کي له سو مالیې څخه وروسته دوهم مقام لري. طالبانو د نوي حکومت له اداري فساد او کمزورۍ او د خلکو له نارضایت څخه ګټه واخیستله او یو ځل بیا ئې مقاومت پیل کړ. امنیت بیرته خراب سو او دا ځل ځان مرګي حملې، چي تر دغه وخته پوري ئې په افغانستان کي چنداني سابقه نه درلوده، هم پیل سوې او لا دوام لري. په دې توګه د افغانستان د مسلې حل یو ګام نور هم لیري سو او اوس داسي ښکاري، چي هم له افغان سیاستمدارانو او مشرانو او هم له غربي ماهرانو او پنډتانو څخه لاره ورکه ده.

څه باندي دېرش کلونو داخلي جنګونو او بدمرغو تحولاتو په افغانستان کي بې شمېره تضادونه ایجاد کړي دي، قومي، مذهبي، ژبني او سیاسي اختلافات ئې منځ ته راوړي دي او د دې اوږدوړ په جریان کي په هر نامه او هره مفکوره دومره سیاسي او اجتماعي تجارتونه او ناروا سوداګرۍ سوي دي، چي پر هر چا، هر تنظیم او هر حرکت باندي ئې د خلکو او منورینو اعتماد سست کړی دئ. په نتیجه کي زموږ د منورینو تعمیري قوه تخریب سوې او تخریبي قوه فعاله سوې ده. هر چیرته، چي یو حرکت پیلیږي نو د هغه په مقابل کي د خنډ اچولو او د ټول حرکت د بې نتیجې کولو له پاره افراد او ډلي تیاري وي او په دې کي وچ او لانده دواړه سوځي. د دې تخریبي قوې فعال کېدل او قوي کېدل د تیرو څه باندي دیرشو کالو بدمرغو پیښو منطقي نتیجه ده او د منورینو ټول قوت باید لومړی د دغي تخریبي قوې

ماتولو ته متوجه سي. او بيا دا ومني، چي دا هيواد د ټولو کور دئ او د آبادۍ او آزادۍ ګټه ئې ټولو ته رسيږي. که څوک په رشتيا هم د افغانستان له استقلال او د خاوري له تماميت سره مينه لري نو په دې بايد پوه سي، چي نه پښتانه، هزاره او تاجک محو کولای سي او نه تاجک او هزاره د پښتنو له ملګرتوبه پرته د آزاد او اباد افغانستان مخ ليدلای سي. افغانستان د ټولو قومونو کور دئ؛ هر قوم، مذهب، ژبه او فکر جلا-جلا ځای پکښي لري. هند، پاکستان، ايران، ترکيه او د نړۍ ټول هيوادونه پر د غه فورمول جوړ سوي دي او افغانستان له نوري نړۍ څخه مستثنی کېدلای نه سي.

د مصر د پاڅون د برياليتوب راز په د غه حقيقت کي پروت وو. يو خو ټول پاڅون د تنظيمونو له خوا رهبري سو. له اخوان المسلمين څخه نيولې تر چپي منورينو پوري ټولو مساوي برخه پکښي واخيستله. مسلمانانو او عيسويانو خپل مذهبي تعصبونه او اختلافات شاته پرېښوول او په يوه اوازئې د خپل ګډ دښمن، فرعوني استبداد، پر ضد چيغه پورته کړه. د پاڅون په جريان کي ئې درې سوه پنځه شپېته شهيدان ورکړل مګر حوصله ئې له لاسه ورنه کړه. پر خپل قهرئې غلبه وکړه او ټوله انرژي ئې د خپل عالي هدف رسېدلو ته وقف کړه. د دې لوی برياليتوب لوی علت ښه او معقول تنظيم او د هر فکر او مذهب د خاوندانو ګډه همکاري او قرباني وه. د مصر خلکو ته دي بری مبارک وي او د خپل هيواد مظلومو اولسونو ته به د دغه راز برياوو دعا کوو.

په افغانستان کي د څه باندي دېرش کلن استبداد، مقاومتونو او داخلي جنګونو په جريان کي د عام قتل تر پولي جنايتونه سوي دي. زما په عقيده هيڅ ډول جنايت نه د بخښلو دئ او نه ئې څوک د بخښلو

حق لري. البته او سنی حکومت او پارلمان ځکه د ټولو جنایتکارانو له پاره عمومي عفو اعلان کړه، چي پخپله د جنایتکارانو او وطن پلورونکو څخه جوړ سوی دئ. که حکومت څوک محاکمې ته سپارلای نو باید ټول اداري سیستم ئې محاکمې ته سپارلی وای. د جنایت بخښل د خدای او بنده، دواړو، پر حقوقو باندي تېر دئ. البته جنایتکاران او ګناه کاران به هغه وخت محاکمه کیږي، چي په افغانستان کي مستقل قضایي سیستم، مستقل پارلمان او داسي مستقل دولت منځ ته راسي، چي پخپله د جنایتکارانو څخه جوړ سوی نه وي. دغه ګړی نه په داخل او نه په خارج کي له چا سره د چا د محاکمه کولو صلاحیت سته او هیڅ افغان له بل افغان څخه د مستقل افغانستان د جوړولو په منظور د حرکت کولو حق نه سي اخیستلای. هر افغان د خپل هیواد د آزادولو، نېکمرغه کولو او سمسورولو له پاره د چیغي پورته کولو او ګام پورته کولو حق لري. البته هیڅوک باید دا خبره هېره نه کړي، چي مستقل او سمسور افغانستان ته له ستنېدلو سره به له هر چا سره د خپلو اعمالو حساب کیږي. زور او نوی جنایت دواړه یو مفهوم لري. خو لومړی کار به نن کوو او دوهم کار به سبا ته پرېږدو.

په څو جبهو کي جنګ موږ ته په ټولو جبهو کي ماته را په برخه کوي. دغسي چي په افغانستان کي د پښتنو، هزاره، تاجکو او اوزبکو داړه ماران او وطن پلورونکي د ټول هیواد د مظلومانو اولسونو په جنګ ورغلي دي او د ټولو اولسونو په مقابل کي ئې لاسونه یو کړي دي، دغسي باید د هغوی په مقابل کي ټول پښتانه، هزاره او تاجک منورین او مظلوم اولسونه لاسونه یو کړي او د مصر او تونس د خلکو په څېر هر څوک د هیواد آزادي او نېکمرغي د ټولو وبولي. د

افغانستان د خاوري د تماميت او په هيواد کي د عدالت او امنيت د ټينګولو له پاره يوه عام ملي نهضت ته اړتيا ده او د يوه ملي نهضت د جوړولو له پاره پاک نيتونه په کار دي. يو ځل بيا وايم، چي افغانستان د ټولو ګډ هيواد دئ؛ هيڅ قوم په يوازي سر هيڅ نه سي کولای. که سره بېل يو تر ابده به بشکېل يو. ډېر پښتانه منورين به زما خبري خوب او خيال وبولي. ډېر هزاره او تاجک به ئې د اوبو د سر کرښي وګڼي. خو زه بيا دا خبره کوم، چي د استقلال د محبوب تر کوره يوازي دغه يوه لار تللې ده. نوري ټولي لاري بېګانه جوړي کړي او تر قيامته هدف ته نه رسيږي.

افغانستان د متحده ايالاتو په مشري د ناټو قواوو اشغال کړی دئ. مګر موږ له لوېديزو هيوادونو او د هغوی له پوځونو سره جګړه نه لرو، بلکي د هغه فاسد اداري نظام څخه، چي له سره تر نوکه په فساد کي ډوب دئ او ګرېوان ته ئې د خلکو لاسونه نه رسيږي، د خپلو خلکو حق غواړو. په دې کي شک نسته، چي د دغو داړه مارانو شا ته د ناټو پوځيان ولاړ دي او هغوی د ناټو د قواوو په مستقيمه مرسته قدرت ته رسېدلي او پر قدرت باندي ټينګ سوي دي. خو د افغانستان د اولسونو ملي نهضت له لوېديزو هيوادونو سره نه بلکي د خپل ګران هيواد له ظالم او ټګيو او درغليو ټينګ سوي نظام سره حساب لري، بلکي لا په اوسنيو شرايطو کي د افغانستان څخه د لوېديزو هيوادونو د قواوو سمد ستي وتل پخپله افغانستان او سيمي خطر بولي. خو د دې معنا دا نه ده، چي که د لوېديز اجازه او ملاتړ نه وي، خلک به خپل حق نه غواړي. لکه څرنګه چي په تونس، مصر، ليبيا، بحرين، ايران او يمن کي خلکو د خپلو حقوقو د اخيستلو د ږغو په پورته کولو او قربانيو ورکولو کي له هيچا څخه اجازه نه وه اخيستې

دغسي به په افغانستان کي هم د اجازې له اخيستلو پرته د حق اخيستلو ږغ پورته کيږي.

دا خبره مو بايد په ياد وي، چي افغانستان نه مصر او نه ټونس دئ او نه د هغو هيوادونو په څېر د حق اخيستلو له پاره سمدستي پاڅون او انقلاب ته تيار ېدلای سي. په افغانستان کي منظم سياسي تحريک وجود نه لري. د اولسونو تر منځ ئې ورورولي او يووالی نسته. سياسي تجزيه نه لري. بېگانه پوځونو اشغال کړی دئ، منورين ئې له يوې خوا له حکومت او له بلي خوا د حکومت له مخالفو ټروريستانو او ياغيانو سره مخامخ دي. غليمو گاونډيو هيوادونو، ايران او پاکستان، د هيواد په هره برخه کي نفوذ کړی او هره سيمه ئې د يوه ملي نهضت له پاره د دوږخ کنده گرځولې ده. د مصر او ټونس خلک له داسي ستونزو سره مخامخ نه ول او د دې تر څنګ ئې لا په پوځيانو کي هم دومره هوښياري او وطن پالنه موجوده وه، چي د تنگسې او ضرورت په وخت کي د خپلو اولسونو سره ودرېدل. خو د دې ټولو ستونزو او خنډونو معنا بيا هم دا نه ده، چي افغان اولس به د خپل حق له غوښتلو څخه تيرېږي. افغان اولس تر دې په سختو شرايطو کي خپل حق اخيستی او غاړه ئې هسکه ساتلې ده.

خو زموږ لوی تاوان په دې کي دئ، چي اصلي دښمن را څخه پاته وي او په عوض کي د هغو کسانو د لاسونو په غوڅولو لگيا وي، چي سبا د ټول هيواد د مشکل په حلولو کي زموږ تر ټولو ښه ملگري کېدلای سي. زموږ منورين د دې پر ځای، چي خپل د بيان قوت او د قلم څوکي خپلو دښمنانو او تباه کارانو ته متوجه کړي، د يوه بل تخريبولو ته متوجه کړی وي او هره ورځ په شعوري او غير شعوري ډول د اولس د يو کېدلو په مخ کي نوي خنډونه ايجادوي. يا به يو کيږو که نه

ورکيږو!

اولســـونه چې ســـند وبـلـه وکـا
پاچاهان ورته سجود کاندي اختيار

ليکونکی: ګل احمد تيمار–هالنډ
نېټه: ۲۲ فبروري ۲۰۰۹

# راځئ چې سره يو سو

ګرانو دردېدلو او ځورېدلو هيوادوالو، زموږ د وران ويجاړ هيواد روڼ اندو، ســياســت پوهـانو، علماوو، روحـانيونو، ملي

شخصیتونو، کارګرانو او کسب ګرو، السلام علیکم.

غواړم ستاسو پاملرنه د افغانستان په دې حساسو تاریخي او سرنوشت ټاکونکو شېبو کې یو څو لنډو ټکو ته را وګرځوم.

هیوادوالو! لکه څنګه، چې تاسو ته جوته ده موږ ټول یو ځل بیا د جمهوري ریاست د ټولټاکنو د دوهمې دورې په درشل کې یو او هم مو د لومړۍ دورې د جمهوري ریاست د مقام او د هغې د منتخب دولت د درو ګونو قواوو د کار محصول ولید خو پوښتنه دا ده، چې:

۱. څومره زموږ د مظلوم اولس په ژوند کې مثبت بدلون راغلی؟

۲. څومره زموږ ملي اقتصاد پیاوړی سوی؟ آیا حد اقل د ملي اقتصاد د پیاوړي کېدو له پاره اساسي بنیادونه ایښوول سوي؟

۳. څومره زموږ د مختلفو قومونو او ملیتونو تر منځ اړیکي ټینګي سوي، آیا د زړه له کومي د ملي یووالي څرک لیدل کیږي؟

۴. آیا د دولتي تولیدي دستګاوو آزاد بازار اقتصاد ته د لاري د پرانیستلو په خاطر خرڅي سوي او که اقتصادي مافیا ته د خدمت کولو په خاطر.

۵. آیا موجوده د آزاد بازار اقتصادي سیستم او موجوده دموکراسي له پردیو هیوادونو کاپي سوی او زموږ هیواد ته رواړل سوی، که زموږ ټولنه په تدریجي توګه د دې محصول ده؟

٦. آیا د بین المللي ټولني د ملیاردو ډالرو مالي مرستي په معقول لارو په کار اچول سوي؟ او که د سیاسي تاجرو جیبونه ډک سوي او هم زیاته اندازه ئې د هیواد څخه بهر ته په پټو دروازو وتلي؟

محترمو دوستانو! دغه پوښتنیو او داسي نورو پوښتنو ته هر افغان وګړی ځواب ویلای سي. دا ځکه، چې هر څه پر دې مظلوم اولس تېر سوي او تیریږي د لمر په شان هر چا ته جوت او ښکاره دي.

خو خبره دا ده، چې دا مظلوم اولس یو ځل بیا د خپل دولتي مشرتابه یا د خپل راتلونکي برخلیک د ټاکلو په درشل کې دئ. ولسمشرۍ ته دنوم اند کېدو بازار هم ډېر ګرم سو، نو آیا دغه مظلوم اولس ته به د دې موقع په لاس ورکړه سي، چې د خپل برخلیک ټاکلو له پاره د خپلې خوښې کاندید وټاکي او که زورواکانو به بیا هم په دوی خپل حاکمیت په زور تحمیل کړی؟

د هیواد روڼ اندو، ملي شخصیتونو، علماوو، د ګوندونو او اجتماعي سازمانونو غړو! راځئ خپل ایماني، اسلامي او وطني مسئولیت ادا کړو د دغه مسئولیت په ادا کولو د خپل مظلوم اولس سره د خپلې خوښې کاندید په ټاکلو کې مرسته وکړو او پرې نږدو، چې زورواکان د خپل زور څخه په ګټه اخیستو سره یو ځل بیا ور باندي خپل حاکمیت ټینګ کړي. دا کار هغه وخت کېدای سي، چې د هیواد وطنپال روڼ اندي، ملي شخصیتونه، وطنپال روحانیون او قومي مشران په متحد ډول د وطن او خلکو د ملي لوړو ارمانونو د سرته رسولو په هکله سره تعهد وکړي.

لومړی زموږ د خلکو عامه ذهنیتونه د خپل ملي زعامت د ټاکلو په هکله روښانه او د دغه تر څنګ په ملي کچه سیاسي، اقتصادي او امنیتي چارو پوه، ملي یووالي او ښایسته سالارۍ ته وفادار، داسي یو ملي او وطندوست شخصیت د کاندید په توګه ورته وپېژنئ تر څو دوی وکولای سي د جمهوري ریاست په راتلونکو ټولټاکنو کي خپل د خوښي کاندید ته رائي ورکړي، چې واقعاً د اولس خادم وي او دا مظلوم اولس نور خپل ځانونه د بې امنیو، بېکارۍ او وږلو څخه خلاص د رنګارنګ ظلمونو، زور ځواکیو او په قومي ژبني روابطو د اولسونو د وېشلو د خطر مخه ونیول سي.

بله مهمه خبره دا ده، چي زموږ او ستاسو د ټولو ګډ مسئوليت دئ، چي پر نړيوالـه ټولنـه د خپلو موجوده امکـانـاتو پـه ګـټـه اخيسـتو فشار را وړل سي تر څو په ټاکنو کي د زور واکانو او د قدرت د او سنيو خاوندانو د زور څخه د استفادې کولو جدي مخه ونيسي او خلکو ته د دې موقع ورکړای سي تر څو خپل د خوښي کانديد ته په آزاد ډول رائي ورکړي او هم بايد نړيواله ټولنه دې ټکي ته جدي پاملرنه وکړي، چي د ټولټاکنو د کميسيون استقلاليت او مشروعيت د هر افغان تر پوښتني لاندي دئ. نو ځکه هم ضـرور ده، چي نړيوالـه ټولنه د عـادلانه ټولټاکنو د سـر ته رسېدو په خاطر د ټولټاکنو پوري اړوند ټول حاکم نهادونه تر کلکي څارني لاندي ونيسي.

تر څو چي افغـانـان هم د نورو نړيوالو پـه څېر خپـل برخليـک خپله و ټاکي او پـه د غه رنګو ټاکنو کي د نړيوالو او افغانانو شـريکي ګټي نغښتي دي.

د ټولو هيوادوالو د يووالي او کاميابۍ په هيله.

نويسنده: محمد اسحاق نگارگر
تاريخ: ٦ مارچ ٢٠١١–يکشنبه

برادر عزيز و ارجمند آقای باوري،

از من سـؤالی دشـوار پرسـيده ايد. افغانسـتان چگونه از حالت امروزی بيرون آيـد و بـه ملتی نيرومنـد و متکی بر خويشـتن و بی نيـاز از

مساعدت دیگران بدل شود. تا آنجا که عقلِ من قد میدهد که شاید بسیار زیاد هم قد ندهد برای پیشرفت هر مملکت یک رشته شرط های اولی به کار است.

۱. سرزمین: موقعیت جغرافیایی و ساخت اراضی سبب پیشرفت یک مملکت میشود. به طور مثال اگر یک مملکت در بحر راه دارد و از راه بحر مشغول داد و ستد با دیگران میشود و یا کالای دیگران را به سادگی میتواند وارد سرزمین خود کند و بدین ترتیب برای مردم میتواند کار و شغل ایجاد کند. افغانستان سرزمینی کوهستانی است که به بحر راه ندارد و بنا بر این راههای دُشوار گذار آن مانع ارتباط مردم با همدیگر میشود و مردم همدیگر بیگانه میمانند. تجارت و بازار به سادگی رونق نمیگیرد. اقتصاد منحصر به کشت و کار میماند. شهر نشینی انکشاف نمیکند و یک اقتصاد زراعتی نیمتواند برای اکثریت زمینهٔ کار و مشغولیت ایجاد نماید و غیر از زراعت دیگر منابع اقتصادی اوصولاً به وجود نمیاید. اقتصاد زراعتی مانع شهر نشینی و انکشاف مواصلات و ارتباطات میشود. خاصیت شهر نشینی این است که مردم مختلف را از گوشه های مختلف بودر هم گرد میارد و در عملیهٔ ملت شدن کمک میکند.

۲. اقتصاد و تنوع منابع اقتصادی: مردمانی که در کنار بحر زندگی میکنند و یا از منابع زیر زمنیی یعنی معدنیات و آبهای زیر زمنیی استفاده میکنند اینکار مردم بر محیط زندگی شان مسلط میسازد. بطور مثال در کنار بحر هنر کشتی سازی را یاد میگیرند و وسایل و آلات مختلف که در بحر از آن برای کشتیرانی، ماهیگری و کار های از همین قبیل استفاده میشود میسازند و این ابزار سازی خود تسلط شان را بر طبیعت بیشتر میکند و انسان خود را به نظر

فرمانروا و حاکم طبیعت میبیند و نه محکوم طبیعت. مردم حاکم بر طبیعت از شر اوهام و خرافات بیغم میشوند، اقتصاد زراعتی خاصةً هنگامیکه برای آن منابع آبی فراوان نباشد و زراعت منتظر رحم طبیعت یا آب باران بماند مردم را گرفتار اوهام و خرافات میسازد. از سوی دیگر وقتی منابع اقتصادی متنوع نبود مردم مانند زنبور بر لاشهٔ دولت و بیروکراسی می چسپند و چون عدم رشد منابع اقتصادی عامل فقر است و فقر گراف رشوه خواری و سوء استفاده را بالا میبرد و احساس ملی و تعلق داشتن به ملت کاهش می یابد. مردم وظایف را به اساس ضرورت جامعه انتخاب نمیکنند بلکه به اساس عاید مشروع و غیر مشروع که به دست میارند، انتخاب مینماید.

۳. سیاست: سیاست شیوه یا هنر ادارهٔ جامعه است و از این دیدگاه هنر ادارهٔ جامعه به هنر ادارهٔ خانه دارد. برخی از پدرها در خانه خودرای و مستبد میباشند و حرف آخر را خود شان میگویند. این پدران دکتاتور نیروی ابتکار و رهبری را در فرزندان خود صدمه میزنند. در جامعه نیز دکتاتورها و مستبدان در سطوح مختلف ابتکار و کفایت اداره را در دیگران از بین میبرند و جامعه را متکی بر یک شخص میسازند. پادشاهان مستبد مردم را نوکر و وطن را میراث پدر خود تلقی میکنند و یا در بهترین حالت خود را چوپان و مردم را رمه می پندارند.

۴. شیوهٔ توزیع ثروت در جامعه: هدف دولت تطبیق عدالت در جامعه است و عدالت خود امری نسبی است. مساوات مطلق در بین افراد ممکن نیست و مساوات در حالات نا مساوی خود بیعدالتی است. نظام توزیع ثروت در جامعه طوری باید تنظیم شود که زمینهٔ تعلیم و تربیت برای اکثریت مردم فراهم شود و هر کس بتواند از کار

خود بهره بگیرد. دولت وظیفه دارد که خلای میان فقر و ثروت را کمتر و کمتر بسازد نه این که یکی را پُر خوری گرفتار فشار خون بسازد و دیگری از گرسنگی در حاشیهٔ خیابان جان بدهد.

**۵. تعلیم و تربیه باید پرورش دهندهٔ تفکر انتقادی و خلاق** باید و با پیشرفت جامعه همگام برود تعلیم و تربیه ای که به ازبر کردن و فراموش کردن اهمیت میدهد معنای تعلیم و تربیه را درست نفهمیده است. تعلیم و تربیه باید در خدمت بهتر سازی وضع امروز باشد نه در خدمت انطباق کور کورانه با وضع موجود.

٦. ملتها باید در حال زندگی کنند و برای آینده ایدیال های قابل دسترسی داشته باشند. در جامعه های استبدادی مردم را با مفاخر تاریخی شان غافل میسازند و یا در بارهٔ این مفاخر مبالغه میکنند و از آن به عنوان تریاک برای خوابا ندن دیگران کار میگیرند و این از نظر من مانند کسی است که در یک ویرانه نشسته باشد و بالاف و گزاف به دیگران بگوید که این ویرانه هزار سال پیش قصر بسیار زیبا بود. خلاصه اینکه ملت های شاد تاریخ ندارند. برای ملت شدن با قومیت و تمام مفاخر کاذب قومیت باید جنگید.

افغانستان برای بیرون آمدن از حالت موجود به تمام آن شرایط که در بالا بر شمردم نیاز دارد و اگر از من بپرسید چگونه بدان شرایط دسترسی پیدا کند میگویم برادر افغانستان هم باید در انتظار موشی مرد بنشیمد تا همین زنگوله را در گردن پشک بیندازد و خودرا و دیگران را برای همیشه بیغم بسازد.

نویسنده: محمد اعظم سیستانی

# مسئول بحران افغانستان کیست،

# طالبان، پاکستان یا امریکا؟

## مقدمه:

دو فکتور در بحران نا امنی، بحران فساد اداری، بحران کشت و قاچاق مواد مخدر، بحران تروریزم و بحران آدم ربائی و تجاوز بر کودکان (۴، ۵، ٦، ۷) ساله و بالاخره بحران بی عدالتی و قانون گریزی، در افغانستان نقش داشته اند:

یکی، دوباره بقدرت رساندن ائتلاف شمال و حمایت امریکا از آنها پس از سقوط طالبان است. دو دیگر، اینکه پاکستان (ISI) بازی دوگانه ای را به پیش می برد. بدین معنا که با حمایت از گروه طالبان و گسیل آنان بداخل افغانستان برای ایجاد آشوب و نا امنیها، یکسو امریکا را می ترساند تا کمک های سرشار پولی و تسلیحاتی غرب را بسوی پاکستان سرا زیر کند و از سوی دیگر، برای خوشنود کردن امریکا، گاهگاهی حملاتی به مناطق قبایلی انجام می دهد و به سران طالبان میفهماند که قدری عقب تر بروند تا آتش نا امنیها در منطقه خاموش نگردد.

## وضعیت در حال حاضر:

در حال حاضر، بزرگترین مشکل افغانستان، نا امنی است. بر اثر نا امنی در مناطق جنوب و جنوب شرقی و جنوب غربی کشور، بگفته وزیر تعلیم و تربیه، بیش از (۷۰۰) باب مکتب بروی فرزند ان کشور مسدود شده است.

بارها و بارها سازمانهای مدافع حقوق بشر و امداد رسانی

از ظلم و تجاوز و تبهکاری جنگ سالاران در ولایات هرات و بلخ و شبرغان و ننگرهار و کابل و قندز شکایت کردند، اما این شکایتها هرگز مورد توجه مقامات امریکائی قرار نگرفت. ائتلاف شمال که در خدمت استخبارات نیروهای خارجی قرار دارند، با اطلاعات نادرست که اکثراً از روی خصومت های زبانی و نژادی صورت میگیرد، اقوام پشتون را مورد ضربات هوائي و زمینی نیروهای ائتلاف بین المللی برضد تروریزم قرار دادند و این امر بجای تضعیف نیروهای طالبان سبب تقویت آنان گردد و طالبان را به مقاومت و حملات تعرضی بر نیروهای ناتو و امریکا واداشت.

فقدان امنیت در کشور کماکان عمده ترین مشکل افغانستان است. بنا بر ارزیابی منابع بین المللی برخی از مقامات بلند پایه دولت در این نا امنیها دست دارند. بدنامی بزرگ امریکا در میان مردم افغانستان از روزی شروع شد که پس از سقوط طالبان یک بار دیگر سرنوشت مردم را به دست همان ناقضان حقوق بشر و دزدان و غارتگران ائتلاف شمال سپرد که قبل از طالبان، مردم از دست شان معتبر و مهم را در قبضه دارند، بشدت غرق در فساد اداری اند و عمداً مانع تحقق قانون و عدالت و دموکراسی میشوند و به همین دلیل است که با وجود سرا زیر شدن تقریباً بیست سی میلیارد دالر کمک های خارجی برای اعمار مجدد کشور، تا کنون تغییر محسوسی در وضع زندگی مردم فرو دست جامعه رونما نگردیده است. زیرا بخش عمده پولی که به منظور ایجاد کار در جهت احیاء و اعمار مجدد کشور تخصیص داده میشوده، همه از طرف مقامات ائتلاف شمال بی محا با حیف و میل میگردد و هیچ مرجعی هم برای بازخواست از آنها وجود ندارد، و اگر در مواردی فرمانی از جانب

حامد کرزی صـادر شـود، از سـوی آنها با امپلق به یکسـو پرتاب میگردد، یعنی که فرمان رئیس جمهور به پیشزی نمی ارزد.

در کنار فعالیت گروه طالبان و افراد وفادار به این گروه، موجودیت گروه های مسلح غیر مسئول در افغانستان، از چالش های بزرگ امنیتی در این کشور بوده است. سازمان ملل متحد در گزارشی که به تاریخ ۳ جون ۲۰۰۸ م انتشـار داد، شـماری از مقامات دولتی افغانسـتان را به داشتن ارتباط با گروه های مسلح غیر مسئول متهم کرده مینوسد: "الکساندر کریس، معاون فرستاده ویژه سازمان ملل متحد در افغانسـتان می گوید: برای انحلال شـماری از گروههای مسلح غیر مسئول که از قدرت بیشتر برخوردار هستند، نیاز است تا از زور و اعمال فشار کار گرفته شود. به گفته مقامات افغان و سازمان ملل متحد، تا حالا بیش از (۳۰۰) گروه مسـلح غیر مسـئول در افغانسـتان منحل شـده، اما هنوز حدود (۲۰۰۰) گروه مسـلح غیر مسـئول در این کشـور حضـور دارند. سـازمان ملل متحد و وزارت داخله افغانسـتان می گوید بیشـتر این گروهها در فعالیت های تروریستی، قاچاق مواد مخدر و جنایات سازمان یافته دست دارند.

معاون فرسـتاده ویژه سـازمان ملل متحد به افغانسـتان می گوید برنامه انحلال گروه های مسلح غیر مسئول در چند سال گذشته دسـتاوردهای داشـته، اما هنوز چالشـهای مهمی سـر راه این برنامه وجود دارد. (نیروهای امنیتی خصـوصـی افغان در کندهار که مسئولیت تامین امنیت نیروهای امریکائی را نیز بر عهده دارند، روز ۲۹ جون ۲۰۰۹ م در کندهار دست به یک عمل تروریستی زدند که طی آن حادثه قوماندان پولیس کندهار، آمر جنائی و نه نفر پولیس کشته و پنج نفر زخمی شـدند، این حادثه زمانی رخ داد که نیروهای امنیتی

خصوصی افغان به مقر سارنوالی کندهار داخل شده میخواستند یک زندانی را که هنوز معلوم نیست کی و چه کاره بوده است، با خود ببرند. ولی سارنوال ممانعت کرده و از پولیس کمک خواسته است، با ورود پولیس به محل سارنوالی این نیروهای بر آنها آتش گشوده و فاجعه به بار آوردند. بعد به دستور مقامات امنیت چهل و یک تن از افراد منسوب به این گروه امنیتی خصوصی خلع سلاح و بازداشت شدند و به کابل فرستاده شدند، مگر تا هنوز معلوم نیست که این گروه امنیتی خصوصی از جانب امریکائی ها دستور گرفته بودند یا از جای دیگری؟ انگیزه های اصلی این اقدام چه بوده است؟ فردی که به خاطر رهایی وی، چندین تن از افراد پولیس به خاک و خون غلطید ند کی بوده و چه اهمیتی داشته است؟).

در خصوص شناخت این افراد معاون فرستاده ویژه سازمان ملل متحد به افغانستان می گوید: اکنون دست کم (۲۸)تن از مقامات دولت افغانستان شناسایی شده اند که با گروههای مسلح غیر قانونی ارتباط دارند او می گوید: "یقینا هنوز هم شماری از مقامات دولت با گروههای مسلح غیر قانونی ارتباط دارند. در آغاز، (۷۲)تن از این افراد شناسای شده بودند که به جز از (۲۸)تن از میان این مقامات، دیگران همه یا گروههای خود را منحل کردند و یا از دولت برکنار شدند". او می افزاید: "شماری از اعضای پارلمان (افغانستان) نیز با گروههای مسلح غیر مسئول ارتباط داند".

آقای کریس از افشای نام و یا موقف این افراد در ادارات دولتی افغانستان خود داری کرده، مگر می گوید: شماری از شرکتها خصوصی امنیتی نیز به شکل گسترده با گروههای مسلح غیر قانونی

در تماس هستند. دولت افغانستان گرچه با همکاری جامعه جهانی، برنامه های متعددی را برای انحلال این گروه های و بازگرداندن اعضای آن به زندگی غیر نظامی روی دست داشته است. آمار رسمی نشان می دهد که در طی این برنامه ها، حدود چهل هزار اسلحه سبک و سنگین در افغانستان جمع آوری شده است برنامه "دایاگ" که انحلال گروه های مسلح غیر مسئول را در دستور کار دارد، از حدود سه سال گذشته در افغانستان آغاز شده و بر اساس پیش بینی مقامات افغان، قرار است تا سال (۲۰۱۱ م) دوام یابد. (بی بی سی ۳ جون ۲۰۰۹م).

## تولید و قاچاق مواد مخدر:

کشت تریاک و قاچاق مواد مخدر که در زمان طالبان به حد اقل خود رسیده بود، در زمان حکومت کرزی به اوج خود رسیده و افغانستان با صدور ۹۳% مواد مخدر به اروپا، مقام اول را در جهان کسب کرده است. تمام پولهای که بمنظور کاهش کشت خشخاش در افغانستان از سوی کشورهای بزرگ جهان تا حال داده شده، بجای توزیع به دهقانان خاشخاش کار، در جیب مقامات و مسئولان امور مبارزه با مواد مخدر خالی میگردد. کسانی در راس امور مبارزه با قاچاق چیان بزرگ مواد مخدر اند. آنها خود دهقانان را تشویق و حتی مجبور به کشت تریاک میکنند. پس واضح است که با گماشتن چنین اشخاصی در راس امور نه کشت تریاک در افغانستان نابود میگردد، و نه پولی به دهقانان افغان به منظور ترک از کشت این زهرداده میشود.

مامورین بلند پایۀ دولت که با قاچاقبران مواد مخدر در تبانی قرار داند و از آن طریق ثروتهای هنگفت به جیب شان میریزد، هیچگونه علاقه ای به زرع محصولات مورد احتیاج مردم ندارند. آنها

بعوض افزایش محصولات زراعتی طرف احتیاج عامه مردم، به کشت کوکنار دل بسته اند. دلبستگی آنها امروز به وضاحت دیده میشود که زرع تریاک شگوفان شده ولی احیای مجدد بطور دراماتیک آهسته گردیده است. زرع تریاک و بی امنیتی در یک رابطه ای تنگاتنگ قرار دارند و مانند علت و معلول بر همدیگر اثر میگذارند. "چنانچه سازمان ملل متحد نیز این موضوع را بتاریخ ۳ جون ۲۰۰۸ م از طریق رسانه های خبری افشا نمود و اشاره کرد. سازمان ملل متحد و وزارت داخله افغانستان می گوید: بیشتر گروه های مسلح در فعالیت های تروریستی، قاچاق مواد مخدر و جنایات سازمان یافته دست دارند".
اکنون که خواسته ها و نیات گروههای جنگی برای عامه مردم افغانستان آشکار شده است و آنها نمی توانند بیش ازین در پوشش مذهب و در زیر نام "مجاهد" بالای مردم مسلط شوند، مجبور اند تا به وسایل دیگر متوسل شوند.

## بمباران و تلفات غیر نظامیان:

بمباردمان نیروهای ناتو بدون ارزیابی اطلاعات جاسوسی که بیشتر آنها بر اثر رقابتهای قومی و اتنیکی غلط گزارش داده میشود، سبب تلفات بیشتر غیر نظامیان شده و حتی در چندین مورد محافل عروسی مردم در ارزگان و ننگرهار و کندهار بمباردمان شده که بشمول داماد و عروس تعداد زیادی از مردم بیگناه تلف شده اند. و این گونه بمباردمانها بارها تکرار گردیده و به همین دلیل نمایندگی سازمان ملل متحد در افغانستان (یونیما) و همچنان گزارشگران دیده بان حقوق بشر تلفات غیر نظامیان را نقض صریح حقوق بشر دانسته به قوماندانی قوتهای ناتو در افغانستان بارها خاطر نشان

کرده اند.

## بمباران روستای عزیز آباد:

خبر بمباردمان روستای عزیز آباد شیندند، در شب ۲۱ ماه آگست، تنها موردی از کشتار های دسته جمعی نیروهای ائتلاف بین المللی برهبری امریکا نیست، دو شب قبل از آن در ولایت لغمان در یک بمباران دیگر (۱۸) نفر کشته و (۴۲) نفر مجروح شدند و یک هفته قبل از آن در هسکه مینه ننگرهار بر یک محفل عروسی بمباران صورت گرفت که در آن (۴۷) نفر زن و مرد و کودک، بشمول عروس و داماد به قتل رسیدند. و پیشتر از آن در ولایت نورستان یک چنین کشتاری هولناکی از جانب نیروهای خارجی صورت گرفت که بیش از (۴۰) نفر در آن جان های خود را از دست دادند و وقتی والی آن ولایت گواهی داد که کشته شدگان همه مردم غیر نظامی، شامل زنان و کودکان بوده اند، فردای آن والی بجرم حقیقت گوئی برطرف گردید.

و اینک در تازه ترین خبر، تلویزیون ملی افغانستان (اول سپتامبر) گزارش داد که در شب ۳۱ اگست در ولسوالی سنگین هلمند دو قریه بمباران گردیده که در اثر آن دو صد نفر کشته و پنجاه نفر زخمی شده اند. مردم هلمند که از مدتها بدینسو مورد خشم دو قوت نظامی، یکی قوتهای انگلیس مستقر در هلمند و دیگری قوتهای امریکائی قرار گرفته اند، هشت سال تمام است که به عنوان یک ولایت نا آرام هر ورز و یا هر هفته مورد بمباران قوتهای ناتو و یا قوتهای انگلیس قرار میگیرند و هر قوت بقدر توان خود بخشی از مردم دهات و روستا ها را مثل رشقه از بیخ و بن درو میکنند، بدون آنکه کسی به داد این مردم مظلوم برسد. چند هفته قبل ولسوالی

گرمسیر از زنده جان پاک شد، و مردم بومی جان بدر برده از بمبار انهای نیروهای خارجی وقتی به خانه های خود باز گشتند، اثری از خانه و کاشانه خود را نمی یافتند.

منابع ناتو و امریکا، عملیات بر ضد مخالفان و طالبان را بهانه میکنند و همواره رقم تلفات طالبان را زیاد و از مردم غیر نظامی را اندک نشان میدهند، در حالی که واقعیت چیز دیگری است و شاهدان عینی از کشتار کودکان و زنان و افراد غیر وابسته به طالبان سخن میگویند و مرده های خود را روی دست گرفته فریاد میزنند که کجاست طالب و کجاست القاعده؟ بیائید و ببینید! اغلب نیروهای امریکائی و ناتو بر اساس راپورهای غلطی که از طرف افراد وابسته به ائتلاف شمال در بدل پول در اختیار آنان قرار میگیرد، بدون توجه به زندگی مردم ملکی، و بدون در نظرداشت نقاضت های اتنیکی و قومی، دهات و یا محافل خوشی و عروسی مردم را نشانه میگیرند و با ریختن بمب های یک هزار کیلوئی به کشتار مردم ما می پردازند، و وقتی صدای اعتراض مردم بلند شود، دولت هیئتی به محل میفرستد، اولاً هیئت سعی میکند تا تعداد تلفات انسانی را بخاطر گل روی امریکا، اندک نشان بدهد (چنانکه در فاجعه روزگان چنین شد) و ثانیاً اگر هیئت و والی از حقیقت رهبری قوتهای امریکائی میگوید: آنها هم در این مورد تحقیق خواهند کرد و بعد یا نظر هیئت موظف را تردید میکنند و یا اینکه تعداد تلفات غیر نظامی را خیلی ناچیز رقم میزنند، بدون آنکه بخاطر کشتار همین تعداد، از مردم و یا از دولت افغانستان معذرت بخواهند، فردای همین گفتگو بازهم برای چندمین بار همان ولایت (از هرات در غرب کشور تا نورستان در شرق کشور) بمباران میشود. یک مثال فراموش نشدنی فاجعه بمباران

دهراود ارزگان است که در ۱ جولای ۲۰۰۲ م یک محفل حدود (۱۵۰) نفر کشته و (۲۰۰) تن مجروح شدند، ولی دو هفته بعد هیئت امریکائی از محل دیدن کرد و فقط از (۵۸) نفر تلفات گزارش داد، بدون آنکه کسی به خون این مردم ارزشی قایل شده باشد.

بقول آقای سیاه سنگ "جورج بوش هنگام نشان دادن همدردی به قربانیان ارزگان نه پوزش خواست و نه بار ملامتی را پذیرفت. دونالد رمسفیلد (وزیر دفاع ایالت متحده) نیز از کشته شدن مهمانان در جشن عروسی دهراود سخن زد ولی نگفت که اشتباهی در کار بوده است". جنرال مک نیل سپهسالار امریکا در افغانستان گفت: "نشانه های چشمگیری گواه اند که از همین جشن عروسی بر روی هوا پیماهای ما آتش کشوده میشد".

"پارچه های گوشت انسان از شاخچه های درختان دهراود آویزان بود. مقامات افغانی ارزگان به گزارشگران گفتند: اروپاییها اینجا آمدند و به مردم اطلاع دادند که دهراود را بر اساس گزارش نادرستی که گویا ملا عمر اینجا پنهان شده، بمبارد کرده است". (کابل ناتهه شماره ۳۴)

از آن زمان تا کنون، قوتهای خارجی چه امریکائی و چه ناتو، هر زمان و در هر کجائی که دلشان خواسته بدون هم آهنگی با مسئولین وزارت دفاع افغانستان بر فرق مردم ما در کندهار، هلمند، زابل، پکتیکا، پکتیا، کنر، نورستان، کاپیسا، غزنی و غیره کوبیده اند. در ماه های اخیر هیچ روزی نیست که خبری از بمباران ولایات جنوب و شرق و غرب افغانستان بگوش ما نرسد و تعداد زیادی از مردم ما بر اثر این بمباران های تلف نگردند، در حالی که فقر بیداد میکند و بلند رفتن قیمت های مواد اولیه رنگ از رخ مردم بیکار و تهی دست زدوده

است.

میخواهم به هموطنان با درد و با درک یاد دهانی کنم که سیاست بمباردمان نیروهای خارجی در کشور، به بهانه مبارزه با تروریزم و القاعده و طالبان، یک سیاست افغان کشی است. هشت سال تمام است، که ولایات جنوب و جنوب شرق کشور که در آنها بیشر پشتونها زندگی میکنند، مورد بمباران بی دریغ قوتهای خارجی قرار میگیرد و کسی نیست که به داد این مردم برسد و فریاد شان را بشنود. هنوز قضیه بمباردمان روستای عزیزآباد هرات ختم نشده که ولسوالی سنگین در هلمند شدیداً بمباران گردید و با (۲۰۰) کشته و (۵۰) تن مجروح تلفات آن از مجموع تلفات شنیدند، کاپیسا و لغمان و جلال آباد و نورستان بیشتر شد. تنور حوادث اندوهبار در کشور چنان گرم است که هنوز از غم یک حادثه جانکاه بخود نیامده ای که خبر حادثه غمناک دیگری چون پتک بر اعصاب انسان فرو می آید و راحت انسان با احساس را به زهر هلاهل مبدل میکند.

باید فکری به حال مردم مظلوم افغان که از سی سال تمام بدینسو مورد ظلم و خشونت و بمباردمانهای روس و امریکا و نوکران شان قرار دارد، و در حالی که در این مدت شکم اکثریت شان از لقمه نان خشکی سیر نشده است مگر باز هم بر سر کودکان معصوم شان بمب های چند هزار کیلوئی فرو می ریزد و نابود شان میکند. آخر این وضعیت تا کی باید دوام داشته باشد؟ تا چه وقت باید مردم در ترس و دلهره بس برند. تا کی باید یک طرف رنج فقر و بیکاری، یک طرف درد مریضی و بی دوائی، یک طرف غم رسیدن زمستان جانسوز و غم بی سرپناهی، یک طرف ترس از تجاوز بر کودکان (۴، ۵، ۶،۷) ساله و بی باز خواستی، یک طرف دلهره بمباری نیروهای خارجی، زندگی

شان را به جهنم روی زمین مبدل کند؟

مردم درد رسیده و رنج بمباران کشده افغان! اکنون که حکومت وابسته و بی شیمه و سنای بی شیمه تر از آن عملیات خود سرانه و بی دریغ قوتهای ناتو و امریکا را در کشور تقبیح کرده و خواهان توقف آن شده است، ولی کس به دهن آنها پیاز پوست نمیکند، و به بمباردمانهای دهات وروستای ما ادامه میدهند، می بایستی صدای اعتراض خود را هر چه رساتر در مقابل بمباردمانهای کور نیروهای خارجی بلند کنید! به خیابانها و جاده ها بیرون بریزید و برضد سیاست پلید جورج بوش شعار بدهید و از طریق رسانه های بین المللی اعتراض خود را به گوش مردم متمدن دنیا و منجمله امریکا برسانید تا بر حکومت خود فشار وارد کنند که دست از بمباردمان مردم ملکی ما بگیرند. و اگر واقعاً میخواهند برضد تروریزم و القاعده مبارزه کنند، باید القاعده را در کشور پاکستان جستجو نمایند نه در افغانستان که بمباران مردم ما جز ناکامی و شکست نتیجه یی برای امریکا و ناتو درپی نخواهد داشت.

## اعتراض شخصیتها و نهادهای مدافع حقوق بشر:

به نوشته روزنامه نیویورک تایمز، فرانس وندرل، دیپلمات اسپانیایی که هشت سال تجربه کار در افغانستان دارد به طور جدی از افزایش شمار تلفات غیر نظامیان در حملات نیروهای آمریکائی و بین المللی انتقاد کرد.

وندرول در ختم ماموریت خود در افغانستان در سال گذشته در ژنو سوئیس در کنفرانس بررسی سالانه استراتژی جهانی گفت: این تلفات تنفر زیادی ایجاد کرده است، وندرل.

هشدار داد که وضعیت در میان قبایل پشتون که عمدتا در جنوب افغانستان در مرز پاکستان زندگی می کنند نا امن و بی ثبات است. این فرستاده اتحادیه اروپا هم چنین عنوان کرد که شورش طالبان نه تنها به شرق گسترش یافته بلکه به نزدیکی کابل، شمال و غرب نیز سرایت کرده است.

وی اظهار داشت: اگر چه فقط اقلیتی از پشتون های به طور فعال از طالبان حمایت می کنند، بسیاری از آن ها نیز نشسته اند تا ببیند چه کسی پیروز خواهد شد. وندل افزود: این کشور با یک سلسله از مشکلات مانند افزایش قیمت غذا، سوخت و وخیم تر شدن امنیت روبرو است و مشارکت ندادن خود طالبان و یا قدرت های منطقه ئی مانند پاکستان، ایران و هندوستان و در پیدا کردن راه حلی برای این وضعیت باعث خواهد شد افغانستان با یک زمستان بسیار سرد دست پنجه نرم کند که قرار است به یک زمستان بسیار داغ برای همه تبدیل شود.

وی از مقام های افغان و آژانس های خارجی خواست تا با کمک محسوس به موفقیت های نظامی خود ادامه دهند تا شهروندان محلی را متقاعد کنند که غربی ها و دولت کابل می توانند امنیت را و یا حد اقل رفاه را با ارمغان آورند.

وندرل پیش از تشکیل این کنفرانس گفته بود که جنگ سالاران ائتلاف شمال و هم پیمانان آن ها دو سوم افغانستان را در کنترول دارند. وندرل، طوماری بلندی از اشتباهات نیروهای خارجی در افغانستان ارائه داد. اگر چه خود وی در کنفرانس بن آلمان که دولت پس از طالبان را تشکیل داد نقش اصلی به عده داشت اما گفت نخستین اشتباه بزرگ تشکیل آن کنفرانس در سال (۲۰۰۱ م) بود.

تلاشـی ها و بازجویهای بدنی مردم اعم از زن و مرد توسـط نیروهای خارجی در جنوب و جنوب شرقی کشـور که بیشـتر پشـتونها سـکونت دارند، بر خلاف در نظر گرفتن آداب ورسـوم عنعنات مردم محل باعث شده تا مردم نیروهای خارجی را به چشم دوست نی بلکه به چشم دشمنی ببینند که آنها را توهین میکنند و بنا برین مردم طالبان را بر نیروهـای خـارجی ترجیح میدهند، زیرا طـالبـان بـازجوی زنـان را توسط مرد بیگانه خلاف اوامر دینی و سنن قومی دانسته او آن پرهیز میکنند. اما واقعیت اینست که مردم افغانستان هم از دست طالبان و هم از دست تفنگ سـالاران اتحاد شـمال از هر دو متنفر و بیزار اند. هر دو را عامل نا امنی و بی ثباتی در کشـور میدانند و خواهان قلع و قمع و نابودی هر دو عناصر ضد حقوق بشر و ضد دموکراسی و عدالت اجتماعی اند.

سلیگ هاریسـن (Selig S.Horrison) یکی از نویسـندگان مشـهور اروپايي مقاله بسـیار مهمی تحت عنوان (ظلم و اسـتبدد اقلیت حاکم در افغانسـتان) در نیویارک تایمز ۱۷ اگسـت ۲۰۰۹ م به نشر رسانده و در آن پرده از بی عدالتی اقلیت حاکمی برداشته است که در حکومت کرزی از (۹) سال بدینسو هر چه از دست شان آمده در حق پشـتونهای افغانسـتان روا داشـته اند. هاریسـن در این مقاله بر بی موازنگی تنـاسـب قومی قـدرت در دولـت کرزی بحث کرده، و آن را مسـبب تمام جنگها و خون ریزیها در طول سـالهای حضـور نیروهای خارجی در کشـور میدا ند و متذکر میشـود که تا این بی موازنگی قومی در سـاختار قدرت دولتی از میان نرود، طالبان دست از سـتیزه نخواهد گرفت و پول و قدرت نظامی امریکا در مقابله با طالبان به هدر خواهد رفت.

سلیک هاریسن مینویسد : "در حالی که برای آوردن صلح و ثبات در افغانستان بحثها در اداره بارک اوباما شدت گرفته است، مگر در عین حال در این مباحثات از یک پرابلم بسیار مهم چشم پوشی میشود : این معضله نارضایتی و ناخوشنودی و فاصله گرفتن روز افزون یک اکثریت مهم قومی از حکومت است. پشتونها، از مجموع نفوس (۳۳) میلیونی افغانستان، ۴۲٪ را تشکیل میدهند. یکی از دلایل مهم و اصلی حمایت پشتونها از بغاوت و شورش طالبان اینست که در حکومت کابل قدرت اصلی و مرکزی در دست تاجکان است. تاجکان ۲۴٪ نفوس کشور را تشکیل میدهند. آنها بر اردو، امنیت ملی و پولیس و بخش استخبارات بطور کامل کنترول دارند و همین قوای امنیتی در زندگی روزانه پشتونها مستقیماً مداخله میکند".

## خطای بزرگ امریکا:

رامسفلد (وزیر دفاع امریکا در عهد حکومت جورج بش) گمان میکرد همانگون که در بدل هفتاد میلیون دالر، ائتلاف شمال را خرید و در خدمت نیروهای امریکا بر ضد طالبان قرار داد، میتواند در همکاری با نیروهای ائتلاف شمال به بهانۀ جستجوی طالبان، اقوام پشتون را سرکوب و مجبور به فرار از محل سکونت شان در شمال هندوکش کند و سپس اقوام پشتون در جنوب هندوکش را مورد ضربات خرد کننده قرار بدهد و وادار به تسلیم و انقیاد بی چون و چرا نماید. مگر هشت سال عملیات مسلحانه نیروهای امریکائی با عصری ترین جنگ افزارهای کشتار جمعی، با وجود همیاری ائتلاف شمال، به رامسفلد و دیگر همفکرانش ثابت ساخت، راهی را که او و دیگر مشاورانش در جهت نابودی طالبان (و در واقع نابودی یا

تصعیف پشتونها) انتخاب کرده اند، راه درستی نبوده است.

نادرستی این راه از آن روز هویدا شد که با سقوط طالبان کابل بر خلاف ادعای امریکا به حیث یک شهر غیر نظامی باقی نماند و از سوی ائتلاف شمال اشغال گردید و آنها که از نظر ایدیولوژیک هیچ فرقی با طالبان ندانند، اولاً دمار از روزگار مردم کابل کشیدند. قتل و غارت و تجاوز برمال و دارائی مردم و غصب جایداد های شخصی و زمین های ملکی و اختطاف پسربچه ها برای باج گیری از والدین شان همراه با رونق کشت و قاچاق مواد مخدر از کارنامه های سیاه ائتلاف شمال است. این وضع هر روز بیشتر از پیشتر مردم را از حاکمیت کرزی و مهره های گماشته شده در آن از سوی زلمی خلیلزاد بیزار و متنفر و به یاد طالبان انداخت و آنهایی هم که مال و ناموس شان در این مرحله از سوی ائتلاف شمال، غصب و یا مورد تجاوز قرار گرفته بود، برای انتقام کشی به جبهۀ طالبان پیوستند تا با نیروهای خارجی بجنگند.

نخستین خطای امریکا، تجاوز بر کشور ماست که پس از هفت سال بمباردمان و ریختن صدها هزار تن بمب بر فرق مردم مظلوم افغانستان، اینک امروز راه نجات و فرار خود را گم کرده است. خطای دیگر امریکا توقف و تمرکز جنگ در افغانستان و بمباردمان مناطق جنوبی کشور است. امریکا می بایست برای ریشه کردن طالبان و القاعده، منابع حمایت و تقویت گروه های تروریستی را در پاکستان که حیثیت پرورشگاه بنیاد گرائی را دارد، جستجو میکرد و با توجه به نقش سازمان استخبارات نظامی آن کشور در حمایت، آموزش و تجهیز طالبان و دیگر تروریستان، سیاستی را که بعد از انفجار سفارت هندوستان در کابل در قبال سازمان استخبارات

نظامی پاکستان در پیش گرفت، هفت سال قبل در پیش میگرفت و به تصفیه آن دستگاه (ISI) از وجود عناصر بینارگرای می پرداخت که به حمایت از طالبان و القاعده پرداخته و آنان را برای مقاومت در برابر نیروهای ناتو و امریکا به افغانستا گسیل میکنند.

خطای بزرگ دیگر امریکا، پس از سقوط طالبان این بود که قوماندانان و فرماندهان ائتلاف شمال را که سوابق نامطلوبی در ارتکاب جرایم جنگی داشتند، و مسبب اصلی ظهور طالبان بودند، دوباره برگردهٔ مردم سوار کرد. آنان که جز از ایجاد هرج و مرج و پرکردن جیب خود از راه غارت دارائیهای عامه و شخصی به چیزی دیگری نمی اندیشند، بعد از احراز قدرت، بلا فاصله دست به اعمال ضد بشری زدند و با درگیریهای مسلحانه رقابتی (از شمال تا غرب کشور) میان جنرال دوستم و جنرال عطا در مزار شریف از یک طرف و میان جنرال اسماعیل خان و امان الله در هرات از جانب دیگر صلح و امنیت را در کشور به مخاطره انداختند. بخشی دیگر این ائتلاف یعنی شورای نظار با اشغال کابل و چنگ اندازی بر کرسی های پر در آمد اقتصادی و نظامی بحران نا امنی را در کشور بشدت دامن زدند. گفته میشد نیروههای امنیتی وابسته به شورای نظار با حضور نیروهای ایساف، شبهنگام دست به دزدی و غارت دارائیهای افراد و اختطاف اشخاص پولدار و سرمایه داران برگشته از خارج میزدند و با شکنجه کردن اختطاف شدگان، مبالغ هنگفت باج از آنها میگرفتند و بدینسان وضع امنیتی پایتخت را روز تا روز بد و بد تر کرده رفتند. این در حالی بود که هنوز بقایای القاعده و طالبان کاملاً از کشور رانده نشده بودند.

عملکرد نادرست رامزفیلد وزیر دفاع امریکا در حمایت

تفنگداران و تبهکاران ائتلاف شمال، بوضوح نشان داد که امریکا در تلاش تامین امنیت و استقرار ثبات در افغانستان در عهد زمامداری جورج بوش نبوده است.

با فهم اینکه الفبای ثبات و امنیت در یک کشور، با خلع سلاح عمومی و گردآوری سلاح از گروه های تفنگدار آغاز می شود. بنا بر این یکی از نکات مهم توافقات بن در دسامبر ۲۰۰۱ م، خلع سلاح عمومی افراد مسلح وابسته به تنظیمها و تشکیل اردوی ملی در دوره حکومت مؤقت بود، اما از همان آغاز کار معلوم بود که اجرای چنین امری از توان حکومت مؤقت بیرون است، زیرا اکثریت جنگ سالاران مربوط به ائتلاف شمال بودند و آنها نیز از جانب نیروهای امریکائی در افغانستان حمایت می شدند. امریکا فکر میکرد که از ائتلاف ضد طالبان نه تنها در ریشه کردن القاعده و طالبان میتوان کار گرفت، بلکه میشود از آنها در تامین صلح و گسترش دموکراسی نیز استفاده کرد، اما پس از نه سال از سقوط طالبان دیده شد که امریکا برای نابودی کردن رهبران القاعده و طالبان و تامین صلح و ثبات در افغانستان راه درستی را انتخاب نکرده است.

سازمان نظارت بر حقوق بشر در پایان سال (۲۰۰۲ م) گزارش سالانه خود بر پالیسی امریکا در مورد افغانستان انتقاد کرده نوشت که امریکا بجای همکاری با نهاد های بین المللی صلح، مناسبات خود را با برخی از جنگ سالاران افغانستان که سوابق وحشتناکی در نقض حقوق بشر دارند، مستحکم کرده است. امریکا یک طرف از دولت حامد کرزی طرفداری مینماید و از جانب دیگر فرماندهان محلی را با پول و اسلحه حمایت میکند. در چنین شرایطی است که فرماندهان محلی دولت مرکزی را چنانکه باید تحویل نمی گیرند و

هر چه خود شان میخواهند با مردم تحت سلطه خویش میکنند. طبعاً این امر پروسه امنیت و ثبات سیاسی را در کشور ناکام میسازد و سبب شکایات مردم و سازمانهای حقوق بشر از عملکرد دولت و فرماندهان محلی میگردد. (BBC، ۱۷ دسمبر ۲۰۰۲)

جان سفتن، مسئول بخش آسیائی ادارهٔ نظارت بر حقوق بشر در نیویارک و یکی از نویسندگان گزارش در مورد افغانستان گفته است: جامعه بین المللی میگوید که خواستار کاهش میزان قدرت و نفوذ فرماندهان محلی در افغانستان است، اما (در غرب کشور جامعه بین المللی دوست کسی است که از دشمنان حقوق بشر بشمار می آید). در این گزارش همچنان گفته شده است که در سال (۲۰۰۲ م) والی هرات، اسماعیل خان، شخصاً دستور بازداشت و ضرب و شتم مخالفان سیاسی خود را صادر کرده است. افراد زندانی شده توسط چوب و کیبل و قنداق تفنگ، لت و کوب گدیده و در بسا موارد زندانی ها از پا آویزان شده و بوسیله شوک های برقی شکنجه میشوند. این گزارش حاکی از خشونت علیه اقوام پشتون و تصفیه آنها در هرات حکایت دارد. راپور می افزاید: (اسماعیل خان و پیروانش ژورنالستان و ناشرین را اخطار داده و یک تعداد سازمان های داخلی را که اجازه فعالیت داده بشدت تحت کنترول دارند، گروه های غیر سیاسی از اجتماع کردن خود داری میکنند و محصلین پوهنتون از مباحثه پیرامون سیاست اجتناب مینمایند.

بگفته جان سیفتن، اسماعیل خان فرماندهای (۳۰) هزار ملیشه را بدوش دارد که از بهترین ارتش های شخصی در افغانستان از نگاه تعلیمات نظامی و سلاح میباشد. (بی بی سی، ۴ نومبر ۲۰۰۲، برنامهٔ مجله آسیای میانه) سازمان نظارت بر حقوق بشر سازمان ملل

متحد در گزارش سالانه خود در خصوص افغانستان نوشت که امریکا بجای تحکیم روابط و همکاری با نهادهای بین المللی صلح در جهان، مناسبات خود را با برخی از جنگ سالاران افغانستان که سوابق وحشتناکی در نقض حقوق بشر دارند، گسترش داده است. در اولین سال حکومت افغانستان بعد از طالبان فرصت های زیادی برای منزوی کردن فرماندهان محلی، خلع سلاح شبه نظامیان و حمایت از اقشار ضعیف جامعه بخصوص زنان از دست رفت. (BBC، ۱۴ نومبر، ۲۰۰۳)

گزارش دیدبان حقوق بشر در بخش دیگری به آنچه مشکل حضور نیرومند جنگسالاران و گروه های مسلح غیر قانونی در افغانستان می خواند، اشاره کرده و هشدار داده که این گروه های،مشکل یکسان با گروه های تروریستی طالبان و القاعده را برای مردم افغانستان فراهم کرده اند. آقای سام ظریفی مدیر سازمان نظارت بر حقوق بشر می گوید: "هم طالبان و هم جنگسالاران ائتلاف ضد طالبان یکسان با شهروندن افغان بدرفتاری می کنند". گزارش های سازمان نظارت بر حقوق بشر در مورد جنایات جنگی در افغانستان، اغلب با انکار رهبران سابق جهادی روبرو شده اند.

## بازی دوگانه پاکستان:

روز پنجشنبه ۲۶ مارچ ۲۰۰۹ م، روزنامه معتبر نیویارک تایمز، یکبار دیگر بصراحت نوشت: "افراد اوپراتیفی دستگاه استخبارات نظامی پاکستان به طالبان و سایر شورشیان از لحاظ مالی، تجهیزات و مشورتهای ستراتژیکی کمک می کند. این کمکها که به طالبان و سایر شورشیان صورت می گیرد، توسط شعبه "S" دستگاه استخبارات نظامی پاکستان یا "آی، اس، آی" هماهنگ

ساخته می شود. روزنامه از قول "چندین تن از مقامات نظامی امریکائی، پاکستانی و مقامات امنیتی آورده است که" این کمکها شامل پول، تجهیزات نظامی و برنامه گزاری و رهنماییهای ستراتژیک برای قوماندانهای طالبان می باشد" گزارش از قول مقامامت ایالات متحده امریکا تقویت میشود که ایشان این شواهد را از طریق "دیده بانی الکترونیکی و خبر رسانهای قابل اعتماد" جمع آوری کرده اند.

نیویارک تایمز نوشته است: حتی با وجود اینکه بیش از یک سال می شود ایالات متحده امریکا علیه این ارتباط بین دستگاه جاسوسی پاکستان و جنگجویان اعتراض می کند، تفصیلاتی که به تازگی در این مورد به دست آمده است "حاکی از آن است که دستگاه جاسوسی پاکستان به پیمانه گسترده تر و انواع متنوع تر نسبت به گذشته، به جنگجویان کمک می کند".

پاکستان مثل همیشه این ادعای روزنامه معتبر امریکائی را رد میکند و از حمایت و تماس دستگاه استخبارات آن کشور با شورشیان انکار مینماید، اما حمایت و تجهیز طالبان از سوی استخبارات نظامی پاکستان به همه سازمانهای اطلاعاتی غرب و از جمله استخبارات ناتو و استخبارات امریکا (سیا) از بدیهیات است و همه کشورهای ذیدخل در قضیه افغانستان بدین باور اند که سازمان استخبارات نظامی پاکستان در پشت سر طالبان و تندوران اسلامی قرار دارد و باید جلوتندوران اسلامی را در آنطرف مرز دیورند بند کنند.

از شرح نکات بالا بخوبی معلوم میشود که در بحران کنونی افغانستان، هم پاکستان و هم امریکا نقش و مسئولیت عمده دارند. و

علی الرغم این گفته بارک اوباما که امریکا نمیتواند چک سفید به پاکستان امضا کند، معهذا خود را مکلف میداند تا سالانه ۱/۵ ملیارد دالر به پاکستان باج بدهد و نامش را کمک بگذارد. و این یک نوع رشوه گیری است که دولتمردان پاکستان از کشورهای ثروتمند غرب به بهانه مبارزه با تروریزم بدست می آورند.

رابرت گیتس وزیر دفاع ایالت متحده که روز ۲۱ جنوری وارد پاکستان شد در مذاکره با وزیر دفاع پاکستان اشاره نمود که ایالات متحده می خواهد پاکستان تهاجمی را که در وزیرستان جنوبی آغاز کرده، در وزیرستان شمالی، هم سرحد از آن ساحه به حیث پایگاهی برای شروع حملات شان در افغانستان استفاده می کنند. مگر وزیر دفاع پاکستان گفت که تا یک سال دیگر در نظر ندارد کدام عملیات را برضد طالبان در وزیرستان شمالی اجرا کند. گیتس به یک روزنامه پاکستان گفته است: "مهم است تا به خاطر داشته باشیم که طالبان پاکستانی در تبانی با طالبان در افغانستان و القاعده عمل می کنند. از اینرو ناممکن است این گروهها را از همدیگر جدا کنیم. تنها با اعمال فشار بر همه این گروهها در هر دو سوی خط مرزی قادر خواهند شد خود را از ضربات این همه شلاقها رها سازند". نظامیان پاکستان با این اظهارات خود، در نظر دارند امریکا را وادار سازند تا سرکیسه را شل تر کنند و پول بیشتری به دهن آنها بریزد.

تحلیلگران فکر می کند که پاکستان طالبان افغانستان و سایر اسلام گرایان افراطی را وسیله ای برای تهدید هند و افغانستان دانسته و چون اهرم فشاری علیه هند و افغانستان بکار می برد. پایان

لیکونکی: محمد اقبال وزیري

# افغانستان څنګه د دې وضعې نه وتلای سي؟

دا یوه اساسي او ډېره مهمه پوښتنه ده تر څو افغانان او په تېره پښتانه دې پوښتني ته یو علمي جواب ونه مومي نو د خپلو ستونزو په حل کي به پاتي راسي. دا ډېره پېچلې موضوع ده او ژوره څېړنه غواړي. لومړی باید هغه لاملونه په ګوته سي، چي زموږ ټولنه ئې د دې ستونزو سره مخامخ کړې ده، بیا هغه لاري چاري ولټول سي، چي زموږ د هیواد ستونزو د حل له پاره تر ټولو اغیزمني وي تر څو د دې شوتنیا ومومو، چي په چټکي سره خپله ټولنه د دې وضعي نه وباسو. زه به هڅه وکړم، چي په لنډ ډول د دې مهمي او حیاتي موضوع په هکله خپل نظر وړاندي کړم.

زموږ هیواد په خپل اوږده تاریخ کي د یوې خوا د خپل حساس جیوستراتیژیک او جیوپولیتیک موقعیت له مخي زیات وخت د پردیو یرغلګرو او نیواک ګرو لکه لوی سکندر، چنګېز خان، ستري بریتانیا، تزاري روسیې بیا شوروي اتحاد او نورو د تېریو او یرغلونو او د بلي خوا د خپل منځي جګړو، تربوریو او ګوند یماریو ډګر ګرځېدلی دئ. له دې کبله زموږ د هیواد سیاسي تاریخ ډېر ډینامیک، ډېر ورانوونکی او لږ ودانوونکی دئ. ... له ویدي دورې را هیسي دغه هیواد د خونړیو جنګونو ډګر سوی... چي په بهیر کي ئې ورانۍ ډیري او ودانۍ لږ سوي او دغه لږ وداني هم، چي د سمندري لاري د موندلو نه د مخه په ځینو سیمو کي سوې وه د باندنیو یرغلګرو له خوا ونړول سوه.[1]

---

[1] محمد حسن کاکړ، د ثور کودتا او د هغې ژوري پایلي، ۱، کابل-۱۳۸۹ش.

په دې لړ کي زموږ په هيواد باندي د چنګيز خان تاړاکونه ډېر ورانوونکي ول. (د چنګيز په تاړاکونو سره د اباد افغانستان ډېر ښاري مرکزونه په کنډوالو بدل سول، د کرني سيستم ئې تر ډېره حده پوري وران سو، د وګړو ډېره برخه ئې تباه سوه او له پاتي ژوندیو نه ډيرو ئې د سلېمان غرو درو ته کډه وکړه. په دې ډول افغانستان په خپل ډېر اوږده تاريخ کي د لومړي ځل له پاره په يوه ستر معلوم انساني مصيبت واوښت. په دغه حال کي له ديارلسمي پېړۍ نه تر اتلسمي پېړۍ پوري د افغانستان تاريخ د پرديو تاريخ سو که څه هم په شپاړسمه پېړۍ کي پير روښان او په اوولسمه پېړۍ کي خوشال خان خټک، ايمل خان مومند او دريا خان اپريدي د مغلو په برابر کي د خپلواکۍ د ګټلو په لار کي په ټينګه پر له پسې مبارزې وکړې. خو په پای کي ټول نا بريالي سول).[٢]

د اتلسمي پېړۍ په لومړۍ نيمائي کي افغانانو لومړۍ د ميرويس نيکه په مشرۍ په کندهار کي د لومړي افغان دولت بنسټ کښېښود او بيا د ستر احمد شاه دراني په سروالي ئې د امو او اباسين تر منځ هيواد کي خپلواک دولت جوړ کړ، چي بيا په سيمه ايزه امپراطوري واوښت.

خو د بده مرغه په همدغه وخت کي د يوې خوا انګرېزانو په هند کي د ختيز هند د کمپنۍ په وجود کي خپل نفوذ ته پراختيا ورکوله او د بلې خوا تزاري روسيې د سهېل لوېديز او سوېل په لوري خپل پرمختګ ته دوام ورکاوه. د نولسمي پېړۍ په اوله نيمائي کي د سوېل لوېديز او لوېديز په لور د تزاري روسيې پرمختګ د انګرېزانو ګټي په هند او مديتراني کي په خطر کي واچولې او د دوی تر منځ ستره لوبه پيل سوه،

---

[٢] محمد حسن کاکړ، د پاچا امان الله خان واکمنۍ ته نوې کتنه، ٩، پېښور–٢٠٠٥ع.

چي مرکزئې زموږ ګران هيواد افغانستان وګرځېدئ.

د نولسمي پېړۍ په اوږدو کي افغانانو د يوې خوا د دغو دوو سترو اروپايي امپراطوريو تر منځ د ستري لوبي د سيالۍ او د بلي خوا د احمدشاه بابا د لمسيانو، د سدوزيو او محمدزيو او بيا د بارکزيو ورونو تر منځ د تخت او تاج په سر د کورنيو جګړو او ناندريو له امله ګام په ګام نه يوازي د خپلي امپراطورۍ د خاوري هغه برخي، چي د نورو څخه ئې نيولي وې، بلکي د امو او اباسين تر منځ د خپل هيواد ځيني برخي هم د لاسه ورکړې.

په دغه پېړۍ کي د انګرېزانو، روسانو او ايرانيانو تېرى، دسيسې او لمسوني او هم د افغانانو کورنۍ بې اتفاقۍ د دې سبب سوې، چي د افغانستان يو شمېر برخي د پنجدې په شمول روسان، يو شمېر برخي د افغاني سيستان د يوې برخي په شمول ايرانيان او يو شمېر برخي لکه سند، پنجاب، کشمير، بلوچستان، غازي خان ډېره، اسماعيل خان ډېره او پېښور انګرېزان ونيسي. د دې وروسته انګرېزانو لومړۍ او دوهمه افغان-انګليس جګړې په افغانانو وتپلې. بيا ئې په (۱۸۹۳ع) کال کي په افغانستان باندي د ډيورنډ د کرښي په تپلو سره د پښتنو تر منځ بېلتون راوست او زموږ لرغونى هيواد ئې ټوټې کړ، چي د افغانستان په راتلونکي سياسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنيزي ودي ئې ډېر ناوړه اغېز وکړ.

د شلمي پېړۍ په پيل کي د لومړۍ نړيوالي جګړې په جريان کي په (۱۹۱۷ع) کال کي په روسيه کي د اکتوبر انقلاب بريالى سو او نړۍ په دوو متضادو سيستمو ووېشل سوه او ستري لوبي په بله بڼه دوام وموند.

په (۱۹۱۹ع) کال کي افغانانو د امان الله خان په مشرۍ د

انګلیسانو څخه د افغانستان د یوې برخې آزادي وګټله. امان الله خان د افغاني ټولنې د مدني کولو او عصري کولو له پاره د بنسټیزو او پراخو سمونو پلي کولو ته ملا وتړله. خو امان الله خان د یوې خوا د ساتنپالو، روحانیونو او جمهوریت غوښتونکو د دسیسو او د بلې خوا د دوو سترو امپراطوریو د ستري لوبې د سیالۍ له امله واک وبایله.

د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د افغانستان ګاونډیو ایران او پاکستان په لویدیزو ډله ولګوله او د هغوی د ستراتیژیکو پلانونو سره ئې ځانونه عیار کړل، د دوی سره ئې په پوځي تړونو کې ګډون وکړ، د هغوی پراخه همکاري ئې تر لاسه کړه او زموږ د هیواد په پرتله ئې په بې ساري توګه پرمختګ وکړ. خو زموږ هیواد شوروي اتحاد ته په نژدې کیدو او هم د بې پرې سیاست له امله د خپلو ګاونډیو نه ډیر وروسته پاتې سو. دغه وروسته پاتې والی د افغانستا شته والی او پایښت د ګواښ سره مخامخ کړ او زموږ ګاونډیان په دې فکر سول، چې افغانستان لاندې کې.

په دې لړ کې شوروي اتحاد د (۱۳۵۹ل) کال د جدي په شپږمه نیټه په افغانستان وسله وال یرغل وکړ او زموږ هیواد ئې ونیوی. د شوروي اتحاد سره د جګړې په پایله کې نژدې یونیم ملیون افغانان ووژل سول، نژدې پنځه ملیونه افغانان د نړۍ په ګوټ - ګوټ کې مهاجرت ته اړ ایستل سول او هیواد په کنډواله بدل سو. خو په پایله کې د افغانانو د سترو سرښندنو او د هغوی سره د نړۍ والو پراخ ملاتړ روسان اړ کړل، چې خپل وسله وال ځواکونه د افغانستان څخه وباسي.

د افغانستان په تباه کولو کې د شورویانو نه وورسته د

پاکستان او ایران رول ډېر ستر وو. پاکستان او ایران په دوی پوري تړلي اسلامي ګوندونو له لاري د افغانستان په چارو کي پوره لاس بري سول او د افغانستان خپلواکي ئې د ګواښ سره مخامخ کړه. ایران خو لا ډېر د مخه د پښتنو سیاسي ناتوان کولو له پاره متې را نغړلي دي او پاکستان خو د شوروي د یرغل وروسته د افغانستان د لاندي کولو په منظور د ستراتیژیکي ژورتیا پلان جوړ او تر لاس لاندي ونیوی. په دې ترتیب زموږ ګاونډیو روسیې، پاکستان، ایران او نورو پخپلو لاس وهنو سره د افغانستان کورنۍ جګړه اوږده کړه، هیواد ئې نور هم وران کړ، زیات افغانان ئې د مرګ خولې ته ورکړل او د افغانستان د لاندي کولو هڅي ئې ګړندۍ کړې.

د افغانستان د لاندي کولو په موخه د دغو ټولو هیوادونو هڅي د افغانستان د جوړولو او ساتلو اساس ځواک یعني د پښتنو کمزوري کولو ته متوجه وي او دئ. په معاصر مهال کي د پښتنو پر ضد د سیسه لومړی انګرېزانو جوړه کړه او د ډیورنډ د کرښي په تېرولو سره ئې د دوی تر منځ بېلتون راوست. د شورویانو او د دوی د مریانو د سیسه دا سوه، چي لږکي د پښتنو په وړاندي جګ کړي. دا د سیسه په وړه پیمانه اول ایران شروع کړه او د اسلامي تنظیمونو په وخت کي ئې په ټینګه پرمخ بېوله. د دوی د ټولو مقصد یو وو هغه دا، چي د پښتنو په وېشلو او په ناتوان کولو د هغه مېنه ټوټه-ټوټه او لاندي کړه. دوی ټول پوهېدل، چي افغانستان په لومړۍ درجه دوی جوړ کړی او په اوله درجه دوی ورنه دفاع کړې ده.[۳]

په دې ترتیب افغانستان د خپلو غښتلو ګاونډیو د دښمنیو په کړۍ کي د یوه بې وزلي او ناتوانه هیواد په توګه را ګیر سوی دئ. د

---

[۳] محمد حسن کاکړ، زما غوره لیکني، کابل-۱۳۸۹ش.

وروستيو درې لسيزو غمنجنو پيښو د دې ادعا شاهد دي، چي زموږ ګاونډيانو د خپلو غير مشروع او ناروا ګټو په خاطر زموږ د لرغوني هيواد نابودولو او تباه کولو له پاره ټينګه ملا تړلې ده. خو موږ بايد د تاريخ نه دا زده کړو، چي زورتل په نړيوالو بدلونو کي ستر رول لوبولی دئ. هر څوک، چي زورور سوی دئ بيا ئې هاند کړی دئ، چي په نورو واکمن سي او خپل واک ته پراختيا ورکړي. زه ګومان نه کوم، چي زموږ ګاونډيان به تر هغه مهاله، چي په زور اړ نه سي، د افغانستان نه لاس واخلي.

اوس افغانان بايد فکر وکړي، چي د هغو ګواښونو په وړاندي، چي د خپلو ګاونډيو او د سيمي د هيوادو له خوا د هيواد مځکني تماميت او کورني امنيت ته متوجه دي څنګه مخنيوی وکړي؟

زما په اند افغانان د دې ګواښونو د مخنيوي له پاره بايد يوه داسي پرمختللې او بسيا ټولنه جوړه کړي، چي بې سوادۍ او بې وزلۍ ته د پای ټکی کښېږدي او داسي مادي او معنوي ځواک جوړ کړي، چي زموږ ګاونډيان دې ته اړ کړي، چي زموږ هيواد ته په کږه سترګه ونه ګوري.

ايا افغانان د دې توان او وس لري، چي دا کار په يوازي توګه ترسره کړي؟ فکر کوم، چي نه دا ځکه لکه پورته مي يادونه وکړه، چي د يوې خوا زموږ هيواد د بيلو-بيلو لاملونو له امله ډېر وروسته پاتی او هم ئې د وروستيو درې لسيزو په جګړو کي د مادي او معنوي شتنمۍ زياته برخه د لاسه ورکړې ده او د بلي خوا د خپلو بدنيته غښتلو ګاونډيانو په کړۍ کي د يوه بې وزله، ناتوانه او بې وسه هيواد په توګه را ګير سوی دئ او دوی په کړو سره ثابته کړه، چي د خپلو ناروا ګټو له پاره زموږ هيواد نابودولو ته ئې ټينګه ملا تړلې ده.

زه فکر کوم، چې افغانان داسې ټولنه یوازې هغه وخت جوړولای سي، چې په داسې سترو نړیوالو اتحادونو ورګډ سي، چې زموږ ملې ګټې په ښه توګه پکښې خوندي او وساتل سي او په دې توګه د دغو ځواکونو سره د ځانګړو اړیکو په پرانیستلو سره د هیواد د سیاسي خپلواکۍ د ټینګښت، د خپلې د لاسه وتلې خاورې د بیرته لاسته راوړلو، د هیواد اقتصادي پرمختګ او عصري کولو ته لار پرانیستل سي. د داسې اتحادونو له لارې په سیمه او نړۍ کې د ځواکنو داسې انډول منځ ته راتلای سي، چې د هغې په پایله کې به هیڅوک دې ته زړه ښه نه کړي، چې زموږ په هیواد کې خپلې نامشروع ګټې ولټوي. په دې هکله د ډیري مودې راهیسې د (لوړو دریځونو افغانانو) فکر کړی دئ، چې (د هیواد ساتنه یوازې او یوازې له کوم لوی ځواک سره په ګډه مرسته کې نغښتې ده).[۴]

د داسې لوی ځواک سره د ګډې مرستې شرایط ورو–ورو برابر سول. لومړی د شلمې پېړۍ په پای او د یویشتمې پېړۍ په پیل کې د نړیوال اقتصاد مرکز اسیا ته انتقال سو. د چین او هند اقتصادي پرمختګ د اسیا بازار اهمیت لا زیات کړی.د لویدیز له پاره د امریکا د متحده ایالاتو په مشرۍ په اسیا او په ځانګړې توګه په منځنۍ اسیا او منځني ختیز کې د خپلو ستراتیژیکو ګټو د خوندي کولو اړتیا لا ژوره سوه. دوهم هغه تشه، چې د شوروي اتحاد د پاشلو په پایله کې په منځنۍ اسیا کې منځ ته راغله د هغې د ډکولو له پاره هم مبارزه روانه ده. روسیه غواړي، چې په منځنۍ اسیا کې د شوروي د مهال نفوذ د

[۴] لودویک ادامیک، د شلمې پېړۍ تر نیمایي د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ، ۳۹۵، پېښور–۱۳۸۹ش.

هم ګټو هیوادو د سازمان له لاري بیر ته لاس ته راوړي، د سیمي ګاونډي هیوادونه چین، ایران، ترکیه، پاکستان او هندوستان هم هڅه کوي، چي په منځنۍ اسیا کي خپل نفوذ زیات کړي او دغي سیمي بازار ته لاره پیدا کړي. لوېدیز هم په منځنۍ اسیا کي د خپل نفوذ له پاره هلي ځلي کوي. تر ټولو مهمه دا ده، چي په دغه سیمه کي د انرژۍ ستري زېرمي پرتې دي، چي په هغو باندي لاس بری په سیمه ایزه او نړیواله توګه د ستر اهمیت وړ دئ. د انرژۍ د دې زېرمو نه د لاس بري په موخه د سیمي او نړۍ په کچه د سیالۍ له امله زموږ د هیواد جیوپولیتیک اهمیت نور هم لوړ سوی او د نړۍ پام ئې ځان ته را اړولی دئ. دا اوس افغانستان نه یوازي منځنۍ اسیا ته د ننوتو ور ګڼل کیږي بلکي افغانستان پخپله د کانو ستري زېرمي هم لري. د افغانستان د کانو زېرمي د افغانستان جیو اکانومیک اهمیت هم لوړ کړ. په دې ترتیب د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ د لوېدیز له پاره د افغانستان جیوپولیتیک، جیو ستراتیژیک او جیو اکانومیک موقعیت د زیات اهمیت وړ وګرځېدئ.

افغانستان د یوې خوا د نړیوالي همکارۍ د پراختیا له امله، چي د ګلوبالیزم یا جهاني کېدو د پروسې نه تومنه اخلي او د بلي خوا د سیمه ایزي همکارۍ د پراختیا له کبله، چي د سیمي د اقتصادي پرمختګ د اړتیا څخه خړوبه کیږي د منځنۍ اسیا او سهیلي اسیا د تړلو له پاره د ترانزیت د لنډي لاري د مرکز په توګه سر را پورته کوي او بیا د پخوا غوندي د وربښمو د لاري اهمیت تر لاسه کوي.

امریکا د افغانستان د دغه ستراتیژیک موقعیت په نظر کي نیولو سره غوښتل، چي د طالبانو سره د همکارۍ له لاري په سیمه کي خپلي ستراتیژیکي ګټي خوندي کړي. خو طالبانو د پردیو په لمسون د

اسامه بن لادن په مشرۍ بهرني تروریستان ترخپل وزر لاندي ونیول او دغو تروریستانو د (۲۰۰۱ ع) کال د سپتمبر په یوولسمه نېټه پر امریکا تروریستي برید وکړی، چي نژدې درې زره امریکایان پکښي ووژل سول. امریکې هم د وسلې په کارولو سره د طالبانو رژیم را نسکور او په افغانستان کي ئې د ملګرو ملتو په چوکاټ کي د ناټو پوځونه ځای پر ځای کړل. نژدې لس کاله کیږي، چي دا ځواکونه د تروریزم په وړاندي په جګړه او هم د افغانستان د بیا رغوني په چارو بوخت دي.

افغانستان د امریکا د متحده ایالاتو، انګلستان، اروپایي اتحاد او ناټو سره ستراتیژیکي اوږد مهاله تړونونه لاسلیک کړي او د جاپان سره ئې هم باید لاسلیک کړي. افغانستان به د دغو اوږد مهاله تړونونو په پایله کي وکړای سي، چي د ګاونډیو او د سیمي هیوادو له خوا د ګواښونو په وړاندي د خپلي خپلواکۍ، د خاوري د تمامیت، د کورني امنیت ساتنه وکړي او د هیواد د ټولنیز پرمختګ ته لاره پرانیزي.

په دغو لسو کلونو کي، چي نړیواله ټولنه په افغانستان کي شتون لري د پوهني، د بیان د آزادۍ، مخابراتو، د لارو د جوړولو، روغتیا، د دولتي اداري د جوړولو، د ښځو د حقوقو د تامین او ځینو نورو برخو کي د پام وړ کارونه سرته رسېدلي دي. افغانان د دغو لاس ته راوړنو نه باید ساتنه وکړي او دغه نظام نور هم غښتلی کړي. خو د دغو لاسته راوړنو سره-سره په هیواد کي بې امني لا زیاته سوې، په دولت کي فساد لوړي کچي ته رسېدلی او د نشه ئي توکو د کښت، قاچاق، سوداګري او انتقال مافیا را منځ ته سوي، چي هیواد ئې د سترو ننګوونو سره مخامخ کړی دئ.

د دغو ننګونو اساسي لامل په فساد ککړ چارواکي دي، چې د خپلو شخصي، ګروپي او ان د پردیو ګټو د تامین له کبله د هیواد ملي ګټې تر پښو لاندې کوي، د قانون پروا نه کوي او د خلکو او دولت تر منځ واټن زیاتوي. دا یوه مهمه ننګونه ده، چې که چاره ئې ونه سي نو هیواد به د سترو ستونزو سره مخامخ سي. د امنیت د ټینګښت، د نشه ئي توکو سره د مبارزې او په دولت کې د اداري فساد د مخنیوي په موخه باید په اداره کې بنسټیز سمون را منځ ته سي. د ورتیا د پرنسیپ پر بنسټ دې په دولتي پوستونو کې داسي مسلکي کسان وټاکل سي، چې لوړې زده کړې ئې کړې، د هیواد ملي ګټو ته ژمن، د هیواد په دوارو لویو ژبو ویل، لیکل او لوستل وکړای سي تر څو ناروا زور کاروني ته د پای ټکی کېښېښول سي، په دولت کې د قانون واکمني ټینګه سي، د بډې خوړلو، درغلۍ او هر ډول فساد مخه ډب کړي، د خلکو مال، جایداد او ناموس خوندي سي او د هیواد بیا رغونه په اغېزمنه توګه د متوازیني ودې له مخې په ټول هیواد کې تر سره سي.

دوهم لامل په افغانستان کې د بهرنیو پوځونو شتون په ګوته کیږي. یو شمېر افغانان او د دولت مخالفین وایي، چې د بې امنۍ اساسي لامل په هیواد کې د بهرنیو پوځونو شتون دئ او تر هغه، چې دا ځواکونه د افغانستان څخه ونه وزي امنیت به هیواد ته راستون نه سي. بل نظر دا دئ، چې تر څو افغان وسله وال ځواکونه د هیواد د ساتني جوګه نه سي د باندنیو پوځونو وتل به د هیواد پایښت د ګواښ سره مخامخ کړي. دوی وایي، چې د شوروي د یرغلګرو پوځ د وتلو وروسته په افغانستان کې بهرني پوځونه نه ول خو کورنۍ جګړه د طالبانو د رانسکوریدو پوري روانه وه. دا نظر سم دئ ځکه، چې لکه د مخه مې پوره دلایل وړاندې کړل. افغانستان د یوه لوی ځواک سره د

اوږد مهاله ستراتژیک اتحاد پرته د دې وضعي څخه ځان نه سي ایستلای. نو ځکه د بهرنیو پوځونو شتون د افغانستان له پاره یوه اړتیا ده تر هغه، چې د افغانستان وسله وال ځواکونه په پښو و نه دریږي د بهرنیو پوځونو وتل به د هیواد له پاره بدې پایلي ولري.

خو د لزبون د پریکړې پر بنسټ بهرني پوځونه به د (۲۰۱۴ع) کال ترپایه ووزي. د بهرنیو پوځونو وتل د افغانانو، پر ځای اندېښني رابرسېره کړي. هغه دا، چې ایا نړیواله ټولنه به بیا افغانانیوازي پرې نه ږدي؟ ایا افغانستان به بیا دخونړیو جګړو ډګر نه سي؟ ایا د افغانستان ګاونډي به بیا د افغانستان د لاندي کولو پلانونه پلي کولو ته بډي ونه وهي؟

خو د افغانانو دا پر ځای اندېښني ته بیا هغه مهال جواب وویل سو، چې د افغانستان او د امریکا د متحده ایالاتو په ستراتیژیکي تړون کي د امریکا اوږدمهاله پوځي اډو د جوړېدو موضوع په ډاګه سو. د امریکا د متحده ایالاتو د پوځي اډو د جوړېدو موضوع د افغانانو پراخ بحث راوپاروه. افغانانو په زغرده خپل نظریات څرګند کړل او د دې موضوع مثبت او منفي اړخونه ئې په ګوته کړل. د امریکا د اوږدمهاله اډو په هکله هم دوه ډوله نظرونه څرګند سول. یو نظر دا دئ، چې د امریکا اوږدمهاله اډې د افغانستان استقلال او ملي واکمني له منځه وړي او د سیمي او ګاونډي هیوادونه په افغانستان کي لاس وهني ته لمسوي. دوهم نظر دا دئ، چې دبهرنیو پوځونو په نشوالي کي به د سیمي او ګاونډي هیوادونه د افغانستان شته والی او پاینبت بیا د ګواښ سره مخامخ کړي. ما په دې هکله خپل نظر لا پخوا په خپل کتاب (د باچاخان اندونه او مبارزې ته لنډه کتنه) کي څرګند کړی دئ. زما په نظر افغانستان تر هرچا د مخه خپلو

ګاونډیو اړ کړی دئ، چي د امریکا متحده ایالاتو ته پخپل هیواد کي د اوږدمهاله اډو د جوړولو سره موافقه وکړي. د امریکا متحده ایالاتو پوځي اډې دنړۍ په نورو هیوادو کي لکه المان، جاپان او نورو کي شتون لري د امریکا پوځي اډې ددې هیوادو استقلال او د ځمکي تمامیت د ګواښ سره نه دئ متوجه کړی او نه زموږ خپلواکۍ او دځمکي تمامیت ته ګواښ دئ. د امریکا د متحده ایالاتو اوږدمهاله پوځي اډې د امریکا او افغانستان د دواړو په ګټه دي. زه باور لرم، چي د افغانستان خلک به د لویي جرګې له لاري د هیواد د ملي ګټو د ساتني په خاطر د دواړو هیوادو تر منځ یو متوازن ستراتیژیک تړون ته، چي دامریکا اوږدمهاله پوځي اډو شتون به ئې یوه برخه وي قانوني بڼه ورکړي تر څو افغانان د ګاونډیو او د سیمي د هیوادو په وړاندي د خپلي خپلواکۍ، ځمکني تمامیت، ملي امنیت د خوندي کولو جوګه سي او د هیواد د چټک پرمختګ ته لاره پرانیزي.

افغانان او په تېره پښتانه باید د تاریخ د یون د لوري سره په سمون کي ګامونه پورته کړي او په دې پوه سي، چي هغه هیوادونه او خلک چي د ټولني د پرمختګ او تمدن په وړاندي درېدلي دي د هغو ژوندیو موجوداتو غوندي، چي د چاپېریال سره د سمون وړتیا نه لري، د منځه تللي دي. نن د ګلوبالیزم یا جهاني کېدو پروسه په ګړندۍ توګه روانه ده او د اقتصادي، تخنیکي، ډله ایزو خپروونو بې ساري شوونتیاوي او کلتوري پرمختګ په پایله کي نړۍ په یوه کلي بدلیږي. نن هیڅ هیواد که هر څومره ستر او پیاوړی وي په یوازي توګه نه سي کولای خپلي ټولي ستونزي هواري کړي. ننۍ نړۍ د داسو سترو ننګونو سره لاس او ګرېوان ده لکه د چاپېریال ککړتیا او ناولتیا، د ځمکي د اوسېدونکو ګړندۍ زیاتوالی، یو پر بل اقتصادي تکیه او د نړیوال

امنیت د ټینګتیا په موخه د ذروي، کیمیاوي، بیالوژیکي او نورو تباه کوونکو وسلو نه د نړۍ پاکول، د بې وزلۍ سره مبارزه او نور داسې مسلې دي، چې د نړیوالو او سیمه ایزو همکاریو او ګډو هڅو پرته حل کېدای نه سي. نو ځکه موږ باید را ویښ سو او د خپل هیواد او خلکو په ګټه د دې بې ساري موقع نه، چې د سپټمبر د یوولسمي نېټې وروسته د افغانانو لاسته ورغلې ده، تر ټولو زیاته ګټه پورته کړو تر څو خپل هیواد د تمدن په لوري روان کړو او خلک د بې سوادۍ او بې وزلۍ څخه وژغورو.

نن افغانان د یوې خوا د تروریزم ضد جګړه کې د القاعدې، بهرنیو طالبانو او بهرنیو تروریستانو د جګړې او د خپلو بدنیته ګاونډیانو او سیمي د هیوادو د لاس وهني سره لاس او ګرېوان دئ او د بلي خوا د هیواد د بیا جوړولو او ابادولو په چارو لګیا دئ. په دغو شرایطو کي د ټولو افغانانو، چې د نړۍ په هر ګوټ کي ژوند کوي، تاریخي، ملي او وجداني دنده ده، چې په افغانستان کي د امن او سولي په ټینګولو او د هیواد بیا جوړولو په چارو کي خپل ټول توان او وس وکاروي.

افغانان په خپل وار د خپل وس او توان په کچه ملي دنده لري، چې د تاریخي واقعیت او د دې حقوقي اصل یعني قومونو او ملتونو ته د خپل سرنوشت د ټاکلو حق له مخي د ډیورنډ کرښې هغې خوا د پښتنو او بلوڅو وروڼو لاس نیوی وکړي تر څو دوی د سوله ایزو لارو له مخي پخپلو جغرافیایي واحدونو کي خپل قومي یووالی تامین کړي او د سوله ایزو لارو چارو او د نړیوالي ټولني په مرسته د ملتونو او قومونو د سرنوشت د ټاکلو د حق د اصل له مخي خپل سرنوشت وټاکي. د ډیورنډ د کرښې هغې خوا پښتانه او بلوڅ دي د خپل

سرنوشت د ټاکلو د حق پر بنسټ پرېکړه وکړي، چې خپلواک دولتونه جوړوي او یا د خپل پخواني هیواد افغانستان سره یوځای کیږي. د محمد افضل خان دې ټکي ته باید کلک پام وسي، چې وایي کوم قومونه، چې بنسکېلاک ګرو د خپلو ګټو په موخه ټوټې کړی دئ د هغوی د بیا یو کولو له پاره، چې د دوی ګټې هم پکښې خوندي وي د یوځای کولو لاري چاري پر انیستلای سي.[(۵)]

افغانان باید د خپل هیواد د دغه جیوپولیټیک او جیو اکانومیک موقعیت نه د خپل اقتصاد د ودې په موخه زیاته ګټه پورته کړي. څرنګه، چې افغانستان د یوې خوا د اوبو پرېمانه او د کانونو ستري زیرمي لري، چې د دغو زیرمو نه د ګټې اخیستلو له پاره د دغو بې ساري شونتیاوو نه، چې د (۲۰۰۱ع) کال د سپتمبر د یوولسمي نېټې د پیښو وروسته زموږ په ګټه منځ ته راغلي دي زیاته ګټه پورته کړي تر څو خپل اقتصادي انفراستروکتور جوړ او پیاوړی کړي او د بلې خوا د هند، چین، روسیې، منځنۍ اسیا او ایران تر منځ د اقتصادي ظرفیتونو تبادله زموږ د هیواد اقتصادي توان د لوړوالي له پاره زمینه برابروي. په دې ترتیب افغانستان د خپلو طبیعي زیرمو په کارولو او هم د منځنۍ اسیا، سهیلي اسیا، منځني ختیز او نړۍ د تړلو د اساسي کړۍ په توګه به په سیمه او نړۍ کې د دې ظرفیتونو د راکړې او ورکړې نه د ګټې د پورته کولو له امله زیات اقتصادي توان تر لاسه کړي. د افغانستان اقتصادي توان لوړوالی پخپل وار د افغانستان د

---

(۵) محمد افضل خان، پښتون قامي وحدت، ۴۲، پېښور-۱۹۹۶ع.

پر دې برسېره مې په دې مقاله کې د خپلو دوو اثارو: (د ثور پاڅون، د کې جي بي دسیسې او شوروي یرغل) او (د باچاخان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه) څخه هم استفاده کړې ده.

اوږدې مودې ګټې سمبالوي او د هیواد جیو ستراتیژیک اهمیت لوړوي.

د بن د پریکړو نه وروسته دا کار د امریکا، انګلستان، اروپایي اتحاد او ناټو سره د افغانستان د ستراتیژیکي تړونونو له امله شوني کیږي او دغه ستراتیژیکي اړیکي زموږ هیواد ته دا شونتیاوي ورکوي، چي د بهرنیو لاس وهنو د مخنیوي له پاره ئې امنیت سمبال سي. افغانان او په ځانګړې توګه حامد کرزی او د ده ټیم باید دې ته ښه ځیر سي، چي زموږ ملي ګټې د نړیوالي اغېزمني همکارۍ په منځ ته راتګ کي نغښتي دي او له دې امله د امریکا د متحده ایالاتو، اروپایي اتحاد، ناټو، جاپان او نورو سره ښو اړیکو ته کلک پام وکړي او د سیمي د هیوادو سره د سیمه ایزي همکارۍ د پراختیا زمینه جوړه کړي. خو اغېزمنه سیمه ایزه همکاري هغه مهال منځ ته راتلای سي، چي د سیمي هیوادونه خپلي لانجې د نړیوالو منل سوو نورمونو او اصولو له مخي حل، یو د بل مشروع ګټو ته متقابل درناوی وکړي تر څو د دې زمینه مساعده سي، چي د اروپا د اتحاد په څېر سرحدي پولي یو او بل ته پرانیزي او خلک په آزاد ډول د ویزې پرته تګ-راتګ او خپل فعالیتونه تر سره کړای سي.

دا اوس ښني ښیي، چي په سیمه کي د (۲۰۰۱ ع) کال د پیښو وروسته نوي ژور بدلونونه را روان دي. لراو بر افغانان د خپلو ستونزو د حل او د هیواد د لوړو ملي ګټو د تامین له پاره یوه اوږد مهاله ملي ستراتیژي جوړه کړي، چي د هغې پر له پسې هدفمند پلي کولو له پاره څو پراخ بنسټه ملي ګوندنه او نور ټولنیز سازمانونه جوړ کړي او د دې لاري د قوم ټول مادي او معنوي ځواک یو موټی کړي.

لیکوونکی: محمد ظاهر افق

# افغانستان څنګه آباد سي؟

د ښاغلي "باوري" څخه ډېر مننه کیږي، چي د افغانستان او جهان په ډیرو پیچلو او پراخو موضوعاتو کي ئې یوه مهمه موضوع (افغانستان څنګه آباد سي؟) د دې له پاره وټاکله، چي یو لړ لیکوالان او پوهان لیکنه پر وکړي او خپل نظریات ګرانو لوستونکو ته وړاندي کړي. دا خو ډېره ښه خبره ده، چي پر نوموړي موضوع باندي به لیکوالان او د قلم خاوندان لیکل وکړي خو نن ورځ به موثره لیکنه پر نوموړي عنوان باندي ځکه ډېر زور وغواړي او عملي نتیجې ته به ورسیږي، چي پر ګران هیواد افغانستان باندي (۲۸) تجاوزګرو ناټویي لښکرو تور چتر غوړولی دئ، چي باید بیله ناټویي پالیسۍ نه څوک څه ووایي او نه به هم څوک څه وکړي. د (اوباما) د تجاوزه ډکه پالیسي هم فقط د بوش هغه د تیري پالیسي ده، چي د عراق، افغانستان، ایران، شمالي کوریا او سوریې هیوادونه ئې د هغوی د استقلال او خپلواکۍ پر اساس د تروریستو هیوادونو په بهانه د "شرارت" ټکي وبلل. په عراق کي ئې د صدام حسین د لیري کولو له پاره پروژه تطبیق کړه؛ ډېر غیر انساني او وحشي تاوانونه ئې ورسول، خو د عراق مسله لا اوس هم لا بیحله پاته او ډېر مقاومتونه د عراقي رژیم په مقابل کي څرګند موجود دي.

پر افغانستان ئې هم حمله وکړه، خو د ټولو غیر انساني تلفاتو په نتیجه کې ئې دا سې دولت راو ستلی دئ، چې نه یوازې ټولنه نه په ارامېږي او نه هم د ده خپله نقشه په عملي کېدای سي.

دلته زما مقصد دا دئ، چې که د نوموړي عنوان په عوض کې (افغانستان څنګه خپلواک او آباد سي؟) راغلی وای نو به لیکوالانو ته د خارجي وحشت د توضیح لاره خلاصه سوې وای. دا هم ځکه، چې د ټولني ټولي چاري په همدغه شعار باندې تړلي او مربوطي دي. د افغانستان په شان یو هیواد، چې په سلګونو کلونو ئې آزادي درلوده او د هغې آزادۍ پر اساس ئې خلکو په مختلفو وختونو کې بېل-بېل دولتونه او نظامونه راوستلي او سمبال کړي دي، که به کوم بېګانه دولت حمله پر وکړه، هغه به ئې ژر جواب کړای سوای خو نن ورځ بیا ناټویي قدرتونو د امریکا په رهبرۍ هغه هیواد د ډېرو ځاني او مالي تاوانونو سره مخامخ کړ؛ په بلیونونو ډالرئې دا سي هیواد ته راوړل، چې بیرته ئې زیاته برخه اروپایي او امریکایي بانکونو ته ورسېدل؛ وسله په رانیول سوه او اولسي خلک ډېر په مړه سول. نوري ډېري خرابۍ ئې پوره رسولي او لا ئې هم رسوي. د هیواد په تاریخ کې داسي فاجعه پر هیواد نه ده راغلې، چې تر (۲۸) هیوادونو زیات قدرتونه دي پر دې بېچاره او ناتوانه خو د همت او غیرته ډکه هیواد باندي هجوم راوړی وي.

که څه هم په تاریخ کې څو واره انګرېزانو د هیواد د اشغال په خاطر کلکي او وحشي حملې کړي دي خو افغاني مبارزینو هغوی ته په نوبت سره ماته ورکړې او د هیواد څخه ئې په مختلفو شکلونو ایستلي دي. دا خبره رشتیا ده، چې د انګرېزانو د امپراتورۍ پراخوالی دومره زیات وو، چې پر مځکه ئې لمر نه لوېدی. کله چې افغانانو

نو موړي امپراتورۍ تــه مـاتــه ورکړه، تر هغـه وروســتــه ډيرو نورو مســتعمره هيوادنو د خپلو آزاديو له پاره تلابنــونه وکړل او ځانونه ئې آزادۍ ته وسپارل.

د انګرېزانو ســره د افغانانو لومړۍ جګړه په کال (۱۸۳۸ع) کال پيل سوه. د افغاني مبارزانو، چي رهبران ئې عبدالله خان اڅکزی، مير مســجدي خـان او داســي نور غښــتلي رهبران ول، چي همت او پيګيري ئې پـه هغـه وخت کي لا څرګنده وه او انګرېزانو تـه ئې مـاتـه ورکړه. دوهمه جګړه د انګرېزانو ســره د ميوند پر ســيمه پيل ســوه او مشــري ئې د محمد ايوب خان او نورو مشــرانو پر غاړه ول او ســخته ماته دانګرېزانو په نصيب سول او دا تاريخ (۱۸۷۸ع) کال وو.

پـه همدې ډول د افغـان او انګرېز دريمـه جګړه پـه دغـه کـال (۱۹۹۹ع) د غازي امان الله خان تر رهبرۍ لاندي پيل، چي د انګرېزانو په ماتي سره ختمه سوه. د دې خبري تذکر هم په کار دئ، چي انګرېزانو د سختو ماتو سره–سره د افغانستان د نيولو هوا د سره نه وه وتلې او تل به ئې دې فرصت ته کتل، چي کله به بيا پر ګران هيواد (افغانستان) حمله وکړي. هغه وو، چي په کال (۲۰۰۱ع) ئې د امريکا په رهبرۍ په ډېرو دسيسو سره پر هيواد حمله وکړه او د ناټو نوي او زاړه هيوادونه ئې ورته دعوت کړل. په دې حمله کي ئې نه يوازي خپلي ستراتيژيکي، اقتصادي، سيا سي او انتقامجويانه غوښتني په نظر کي ولرلې بلکي مهمه ئې دا هم ګڼلې ده، چي خپلو پخوانيو حريفانو ته لکه روســيه، چين او ايران تـه هم ځان نژدې کړي او خپلو پخوانيو هدفونو تـه ځان ورسوي.

دا دئ اوس ناټويي هيوادونه په خپل ټول قوت دقهرمانانو افغانانو د وهلو او ځپه کولو په خاطر د هيڅ ډول وحشــت څخه دريغ نه

دئ کړی او ادامه ورکوي، او د حکومت په ټولو مهمو چارو کي هغه ډول مداخله کوي څنګه، چي ئې زړه غواړي. تاسو خپله فکر وکړئ، چي دلته به آبادي او سمسورتیا څنګه راسي؟ امریکا یانو د هغو طالبانو پر ضد بهانه نیولې ده، چي په جوړښت کي ئې دوی پخپله برخه اخیستې ده. دا څرګنده ده، چي طالبان یو وخت د امریکا په خیر ول خو کله، چي د امریکا یانو پالیسي واوښتله بیا ئې نو د هغوی د لیري کولو په خاطر اقدامات پیل کړي او د خپلو شومو عملونو په واسطه ئې جنګ پراخ او د ښمنان ئې ډېر کړل. امریکا او انګلیس، چي په پورتني نزاکت پوهېدل نو ئې د تجاوزګرانو په څېر د هیواد ختیز او لوېدیز، شمال او سهیل ته په ټولو برخو کي خپل سنګرونه جوړ او سیمي ئې سره تقسیم کړې او په هر ځای کي ئې د لښکرو نظامي قطعات ووېشل.

اوس نو، چي د هیواد څخه ناټویي چتر لیري نه سي؛ د آزادۍ او خپلواکۍ په فضا کي نوی کار او فعالیت ونه وینو او د آزادۍ نوي پروګرامونه مو سترګي رو ښانه نه کړي د آبادۍ په خاطر به چنداني څه ونه لیدلای سو. ځکه، چي د دولت او خلکو د فعالیتونو تناو د همدغه ناټویي قوتونو په لاس کي دئ. اولس، چي هر څه وغواړي انجام ئې کړی نو ناټویي قوتونه د امریکا په رهبرۍ ئې، چي ونه غواړي انجام ته ئې نه پرېږدي. د دوی ظلمونه او وژني د خلکو د نفرت سبب سوي دي. هر ځای، چي ئې عسکر لیدل کیږي خلک په بده او نفرت ورته ګوري، ځیني بیریږي او چي په وس ئې وسي انتقام ځیني اخلي، چي ګواکي دغه د نفرت حالتونه ئه هیڅ وخت د انکشاف له پاره لاره خلاصه نه کړي. معنا دا چي خلک باید خپل پر مختللي کلتور په چوکاټ کي په نوي نظر داسي اعمال وړاندي کړي، چي د ټولني په ګټه

وي او د غربي ناوړه کلتور څخه خپله آينده وساتي.

افغانان بايد تر يوې موقتي رهبرۍ لاندي د اولسونو، مليتونو، قومونو، سياسي ګروپونو او ګوندونو په شمول او همداسي په خارجي برخه کي د همسايه هيوادونو او نورو دوستو هيوادونو په ګډون، د تجاوزګرانو هيوادونو سره په ارتباط کي د هيواد پر مشکلاتو پوره غور وکړي، څو د خارجي قوتونو تهاجمات ليري سي. بيا به د ټولو اولسونو د نمايندګانو په ګډه دولت جوړ سي. اساسي قانون به د شرايطو سره برابر وي رامنځ ته سي، وروسته به وړوکي قوانين د مطبوعاتو او ګوندونو او داسي نور قوانين تنظيم ومومي خو د ټولني سياسي ژوند به نوی رنګ واخلي او ټولنه به په تازه اقتصادي او اجتماعي کارونو لاس پوري کړي. څو دولت به د نورو دولتونو په شان د يوه سيال هيواد حيثيت ومومي او منځ ته به راسي. د بين المللي منشور څخه په استفادې سره به خپل ټول نړيوال ژوند را نوی او تازه کړي.

په ټولنه کي بايد ټولو غريبو او مظلومو خلکو ته زياته پاملرنه وسي. دا هم ځکه، چي د هري ټولني د څرخ ماشين د همدغو خلکو او اولسونو په لاس کي دئ. تعليم او تربيي، لوست او ليک ته ئې زياته پاملرنه په کار ده، ځکه د ژوند د غه فکتور د انسانانو په ټولنو کي زيات اهميت لري، خو په خاصه توګه افغاني ټولني ته ئې زيات ضرورت دئ. د هيواد غني معدنونه بايد د خارجي ماهرو او صادقو ماهرانو په مرسته او زحمت راووزي څو، چي د ټولني د توليد بنيادونه را ژوندي او قوي کړي او ټولنيزي چاري به هم پر مخ ولاړي سي. زراعت ته بايد کلکه توجه وسي څو شاړي مځکي، چي جنګونو خرابي کړي دي او يا هم پخوا لا د کښته څخه لوېدلي، شنې او زرغونې

سي؛ په نوو وسايلو، نوي اداري او متودونو سمبالي او آبادي سي، خلکو ته کارونه او کسبونه ډېر او د بې کاريو مخه ونيول سي.

البته تر هر څه مهمه دا ده، چې ټولنه د موجوده هغو جنګونو څخه خلاصه کړو، چې د ناټو ټول نمايندګان او د جنګ طرفدارانو ئې اور بل کړی دئ. همداسې به د داخلي او خارجي پراخ مرام د جوړښت او تنظيم له پاره ډيري خبري وسي او بيا ئې د تطبيق ډېر فارمولونه او موازين وړاندي سي. خو څو د آزادۍ او خپلواکۍ پر موضوع ټول اړخيزه او ژور فکر ونه سي او د سولي له پاره ناټويي قوتونو ته قناعت ونه رسيږي او په ټولنه کي د خپلواکۍ ستر شعار پرمختګ ونه مومي نو بېله شکه به د آبادۍ پر پروګرامونو ډېر څه ليکل او خلک په مصروفول چنداني ګټه ونه رسوي.

امريکا چي خپل هدفونه مخي ته وړاندي کړي دي بېله ويرانولو او خپل تسلط ټينګولو څخه ئې بل څه نه دي په نظر کي، خو بيا هم کله-کله دا خبره کوي، چي ګواکي د افغانانو له هيواده څخه به ووزي، خو دا خبره تراوسه پوري د تېر ايستلو په دوران کي ده، ځکه اوباما څو پلا ويلي دي، چي خارجي لښکري به له هيواده څخه وباسي، اما هيڅ ئې د عمل جامه نه ده اغوستې. په دې اخرو وختونو يعني د اپريل په اواخرو کي ئې د امريکايي پارلمان په دننه کي خبري داسي پر وکړې، چي امريکا به د افغانستان څخه خپل لښکر وباسي خو د خبرونو له مخي، چي اکثريت غړو ئې منفي جواب ورکړی دئ.

ناټو د خپلو منفي تبليغاتو په لړ کي دا هم ويلي او وايي، چي افغانستان د ډرګ او افينو ځای دئ، چي د نړۍ ٩٠% ډرګ او افيون توليدوي. په داسي حال کي، چي د افيونو ډېروالی د امريکايانو د راتګ سره ډېر سوی دئ، ځکه د دوی د راتګ څخه مخکي په

افغانستان کي دغه مقدار ۹% وو.

زه د هیواد پر آبادی باندي ډېر څه نه وایم او په همدغو لنډو خبرو کي مي هدف ته اشاره وکړه، چي تر هر څه مخکي باید خپلواک او آزاد سي. دا ښکاره خبره ده څو په هیواد کي خپلواکي او آزادي وجود و نه لري نو واقعي او اصلي آبادي او سمسورتیا هم نه سي راتلای. همداسي باید ووایم، چي د دولت د سیاسي ګروپونو او د مقاومت د قدرتونو تر منځ څټک یو ځای والی باید تامین سي او خارجي قدرتونه هم باید اضافه نه دا چي تاوانونه پیښ کړي باید د ټولني په یوځای والي کي پوره مرسته وکړي او بیا دي د آزاد افغانستان سره یوځای خپل سیاسي، اقتصادي او دیپلوماتیک روابط ټینګ کړي. او نوی دولت، چي د نوو شرایطو محصول وي د ټولني او دولت په جوړښت کي ملیتي، قومي او نوري ټولنیزي پیښي په رشتیا او صداقت سره په نظر کي ولري. دغه ډول جریان په پراخه پیمانه کېدای سي، چي د ټولني د ارامۍ او استقلال لومړنۍ ګټي څرګندي او د نور انکشاف له پاره بیا نوي ګامونه پورته سي.

ليکوونکی: محمد نسيم سليمي

# د افغانستان ترقي څنګه امکان لري؟

زما ګران او محترم ملګري يوه ورځ په تليفون کي د خبرو په ترڅ کي راته وويل، چي موږ په دې باره کي ډيري خبري کوو يا ئې اورو افغانستان خراب يا چا او څنګه خراب کړی، خو اوس راسئ، چي په دې باره کي خبري وکړو، چي افغانستان څنګه آبادېدلای سي يا افغانستان بايد څنګه آباد کړو.

واقعاً چي دا يوه داسي پوښتنه ده، چي د يوې يا دوو تليفوني مکالمو يا يوې يا دوو مقالو په ترڅ کي نه سي تشريح کېدلای، او زه لا په دې عقيده يم، چي د يوه يا دوو کسانو تر وس لا هم تېره خبره ده. په تېره بيا په دې دليل، چي افغانستان اوس يو داسي هيواد نه دئ، چي يوازي په اقتصادي لحاظ وروسته پاته دئ او يوازي ئې پر مختګ ته ضرورت سته.

د تيرو ديرشو کلونو حوادثو د افغانستان د ترقي موضوع ډېره مغلقه کړې ده. مخصوصاً دا، چي نن ورځ افغانستان په بيلو-بيلو پلمو د نورو هيوادو تر لڅو او برعلا نظامي، سياسي او کلتوري تيريو او تجاوزونو لاندي دئ. دا تېری په هيواد کي د ملي نفاق د ايجادولو او يو افغان ورور د بل افغان ورور په مقابل کي له جنګولو څخه نيولې تر مستقيمو، لڅو او بې پردې نظامي تجاوزنو او بيا د هيواد معنوي او مادي شتمنيو تر چورولو پوري رسيږي. دغه

تجاوزونه د افغانستان د یوې واقعي آزادۍ او آبادۍ مسله تر پخوا ډېره مغلقه کوي او پروسه ئې ډېره وراوږدوي.
د امریکا یو مشهور روشنفکر هاورډ زین به یو وخت ویل، چې ځیني وختونه د دې له پاره، چې یو ځای ته ولاړ سو، مجبوره یو، چې په دې پوه سو، چې دا اوس چیري یو. د افغانستان په باره کي د دې خبري تطبیقي معنا دا ده، چې لومړی باید دا راته معلومه سي، چې: "دا اوس چیري یو؟". ځکه نو دا مطالعه پر درو برخو وېشل کیږي:
۱. د اوسني حالت او وضعي یو ژور او هر اړخیز تحلیل او تجزیه.
۲. له حاضر حالت څخه د هیواد را ایستلو لاري چاري، یعني هغه طریقې، چې د هغو په واسطه وکولای سو، چې هیواد له حاضر نامطلوبه حالت څخه را وباسو.
۳. په هیواد کي د یوه داسي نظام منځ ته راوستل، چې د هیواد د اکثریت اولس ګټي پکښي نغښتي وي.
د افغانستان له اوسني حالت څخه نارضائیتونه تر اندازې زیات دي او هر څوک، هره ډله د خپل سیاسي او اجتماعي موقف سره مطابق نارضائیتونه لري. دا نارضائیتونه د مملکت د رئیس جمهور څخه نیولې بیا تر هغه ډلو ټپلو پوري، چې اوس ئې قدرت په لاس کي دئ، بیا عین د خارجي او تجاوزي قوتونو پوري رسیږي. تجاوزي قوتونه له دې څخه ناراضه دي، چې ولي دا مملکت ولي دوی ته بې ټک او پوه نه تسلیمیږي او ولي دوی نه سي کولای، چې د دوی د هیواد سرشاره منابع تر لاسه کړي. د دوی لاس پوڅي ډلي ټپلي هم د ورسېدلي ونډي څخه په کلکه ناراضه دي.
خو د هیواد د اوسېدونکو او د ملت د اکثریت نارضائیت په

دې کي دئ، چي هيواد ئې بهرنيو هيوادو په بيلو-بيلو پلمو اشغال کړی او نه يوازي دا، چي د هيواد شتمني ئې په سرعت چوروي، له هيواده ئې بهر ته باسي، بلکي د هيواد سرنوشت په ټاکلو کي ئې يو ځو بهرني هيوادونه اصلي برخه لري او پر قدرت ولاړي ډلي ټپلي د يو پياده ګانو حيثيت هم نه لري.

د مليت نارضائيتونه اصلي نارضائيتونه دي. او هر هغه ځوک، چي و خپلي خاوري او ملت ته احترام لري بايد، چي پر شکايت ئې غوږ ونيسي او له دغه جنجاله ئې د را وتلو لاري چاري وپلټي، او له دغه له سپکاويه ډک حالت د را ايستلو له پاره ئې يوه چاره ولټوي.

اوس نو دا پوښتنه منځ ته راځي، چي "آيا د پرديو او د هغو د لاس پوځو له تجاوز او تسلط ځخه د افغانستان خلاصېدل او بيا ئې پرمختګ او آبادي امکان لري؟". بايد ببله احساساتو ووايم، چي بالکل، کاملاً او مطمئناً. د افغانستان آزادي او آبادي، ترقي او پرمختګ کاملاً امکان لري او تاريخ زما د دغي ادعا شاهد دئ. زموږ د خپل هيواد تاريخ او د نورو هيوادو د آزادۍ اخيستلو تاريخ زما دغه ادعا ثابتوي. د هند آزادي د برتانيې ځخه، د جنوبي افريقا د اولسونو خلاصون د اپارتهايد له لاسه، او پخپله د امريکې د آزادۍ اخيستل له برتانويانو ځخه فقط يو ځو مثالونه دي.

آيا دا کار آسانه دئ؟ نه کاملاً نه. د متجاوزينو له لاسه د افغانستان آزادي او بيا ترقي او آبادي ئې هيڅ اسانه کار نه دئ. سخت کار دئ، خو نا ممکنه نه دئ.

پر افغانستان باندي اوسنی هر اړخيزه تجاوز او د هغه خرابي او بربادي يوه تصادفي پېښه نه ده، چي ځينو خير غوښتونکو هيوادو، يا د ځينو سياستمدارانو په اصطلاح "بين المللي جامعې" د

افغانستان ویجاړ حالت ته کتلي، خپل عسکر ئې رالېږلي او د جهل او بې علمۍ له قیده زموږ د هیواد د خلاصون له پاره لیښي راغبنتي وي، بلکي دا کار د دغو هیوادو د متخصـصـینو د یوې اوږدې مودې مطالعې، تحلیل او پلان جوړولو نتیجه ده، چي اوس ئې موږ وینو. د افغانستان اوسنی حالت د ډیرو هیوادونو د متفکرینو د ډلو ( Think tanks) د ګډو کوښښـونو په نتیجه کي منځ ته راغلی دئ نه د یوه شخص یا څو اشخاصو د عاجل تصمیم یا لېوتتوب په نتیجه کي، ځکه نو له دې بلا څخه د خلاصـون او لـه دې حـالت څخه د وتلو د وطن د ایسـتلو له پاره د وطن پالونکو ګډو کوښښـونو ته ضرورت سته څو د وطن حالات په منظم ډول وڅېړي او له دغه حالت څخه د وتلو له پاره یوه منظمه مطالعه، څېړنه او پلان جوړ کړه سي.

متهورانه اعمال که څه هم قهرمانانه وي د وطن درد نه سـي دوا کولای. له اوسـني حالت څخه د افغانسـتان را ایسـتل د ترقۍ پر لاره د هغه روانول د یوه یا یو څو نیک اندیشو یا نیک عمله او صادقو افرادو کار نه دئ بلکي د ډیرو، ګڼو، بې شـمېره افرادو، چي د وطن د آرامۍ، هوسـایي او پرمختګ سـره علاقه ولري، مشـترکو، ګډو، فکرونو او کارونو په نتیجه کي منځ ته راتلای سي. دا سي یوه ډله به د ملي منافعو، ډموکراسي او ټولنیز عدالت پر اساس را ټوله سوې وي.

د افغـانسـتـان آزادي، پـرمـختـګ او آبـادي د یـوه مـلـي او پرمختګ خوښـوونکي تنظیم بې له وجوده محال او نا ممکن دئ. که احیاناً هم کوم کار کیږي هغه به تصـادفي وي، بې له ملاتړه به وي، د وطن د دښـمنانو د بې شـمېره دسیسـو په نتیجه کي به له ناکامیو سـره مخامخ وي.

د هیواد پر شـا سـاتلو، د منابعو د چورولو کار په منظم ډول د

تنظیمونو له لاري روان دئ، چي داخلي، منطقوي دولتونو همکاري او شـرکت له ځانه سـره لري ځکه نو دا معقوله ښـکاري، چي د هیواد د خلاصون له پاره هم د هغو افرادو، نارینه وو، ښځو، ځوانانو، سپین ږیرو، یوه منظمه ډله جوړه کړه سي، چي په هیواد کي ډموکراسي، ملي اسـتقلال او اجتماعي عدالت ته عقیده من او عملي کار ته اماده و اوسي. دا کار د ډیرو عاجلو ضروریاتو له جملې څخه ګڼل کیږي.

هغه تنظیم به، چي د افغانستان آزادي، استقلال، اقتصادي او اجتماعي پرمختګ دنده به پر غاړه ولري پر لاندي فکري اساساتو ولاړ وي:

۱. د ملي استقلال حصول او د هغه ساتنه

۲. ډموکراسي

۳. ملت پالنه

۴. اجتماعي عدالت

د افغانستان د واقعیتونو په نظر کي درلودلو سره د دغسي ډلي د جوړولو په مقابل کي د هیواد په دننه او د باندي کي د ملي ضد، افغانستان ضد او تجاوزي قوتونو له خوا څخه په پخوا، اوس او اینده کي خنډونه جوړ سـوي او جوړیږي او نه پریږدي، چي دغسـي یوه ډله تشـکیله کړه سـي، خو له بلي خوا افغان اولس دغسـي یوه تنظیم ته ضـرورت لري، څو نه یوازي وطن پالونکي پر راټول سـي او د هیواد واقعي پرمختګ په لاره کي شعوري ګامونه پورته کړي بلکي:

-داسـي یو ګروپ بـه پـه وطن کي د همفکرو هیوادوالو د راټولېدلو له پاره یو ادرس وي.

-د دې واقعیت په نظر کي درلودلو سره، چي افغانسـتان یو کثیر الملیته هیواد دئ او هلته بېل-بېل ورونه ملیتونه لکه پښـتون،

تاجک، اوزبک، هزاره، ترکمن، بلوڅ، نورستانیان او نور ملیتو نه اوسیږي، نو داسي یو ګروپ به د افغانستان د ټولو ورونو ملیتونو د وطنپالونکو، استقلال او ترقۍ خوښونکو، ډموکراسۍ او اجتماعي عدالت پلویانو د راټولېدلو ځای وي، څو ټولي نړۍ ته داوښيي، چي افغانستان اوس هم یو ملت دئ او ټوله ملیتونه پکښي د ورونو په څېر یو د بل تر څنګ ولاړ دي. دغسي ګروپ به د افغانستان د ورونو ملیتونو د راټولېدلو او یووالي ځای وي او هره هغه سیمه به رسوا کوي، چي دغه ورونه ملیتونه یو له بله څخه جلا کوي او له یو بل سره ئې په جنګ اچوي.

-پر حکومت به د فشار یو ګروپ وي، چي پرې نږدي، چي د هیواد ملي منافع د شخصي ګټو قرباني سي.

-داسي ګروپ به د خارجي قوتونو سره د تماس او مذاکرې منبع او د فشار د واردولو وسیله وي، د هغو د خودسریو مانع به وي او نړیوالو ته به د هغو جنایاتو د رسوا کولو وسیله وي، چي په دننه هیواد کي د بهرنیو قواوو او د هغو د داخلي همکارانو په وسیله سر ته رسیږي.

-داسي یو ګروپ به د یوه ملي تنظیم په صفت د جمعي نشراتو او نورو وسایلو په واسطه نړیوال د افغانستان له حالت څخه خبروي.

-داسي ګروپ به په هیواد کي په ټولو هغو انتخاباتي پروسو کي ګډون کوي، چي په هیواد کي په محلي، منطقوي او د ټول هیواد په سطح کي سر ته رسیږي او تر خپله وسه به کوښښ کوي، چي انتخاباتي چوکۍ د خپل ځان، چارواکو، فاسدو، استفاده جویو اشخاصو له وجوده پاکي کړي او پر ځای ئې د پاکو، وطن پالونکو،

ملت دوستو او ترقي غوښتونکو کسانو د راوستلو په لاره کي مرسته وکړي.

-داسي ګروپ به نه يوازي دا چي خارجيان به خپلو ناوړو اعمالو ته متوجه کوي بلکي د داسي خبرو له پاره به يو واقعي ملي ادرس وي، چي د خارجي قواوو د وتلو له پاره لاره هواره کړي يا ئې ايستلو ته اړباسي.

-داسي ګروپ به د هيوادوالو له پاره د يوې داسي ښوونځی حيثيت ولري، چي په هغه کي به د هيواد د مشکلاتو څخه د خلاصون، هيواد د ترقۍ پر لاره برابرولو او د هيواد د واقعي سياسي او اقتصادي استقلال د حصول لاري چاري هيوادوالو ته ورښووي او په ملي ګډه، د هغو په لاس ته راوستلو او ساتلو ئې پوه کړي، او په هيواد کي د ډموکراسي، ملت پالني او اجتماعي عدالت روحيه خپره او هغې ته وده ورکړي.

-په داسي يوه ګروپ کي ټوله هغه هيوادوال راټوليږي، چي خپلي ګټي د هيواد په سترو ګټو کي نغښتي بولي.

-داسي يو ګروپ به د نورو ملي ډلو د راټولولو او يو موټي کولو په لاره کي هڅي کوي څو په افغانستان کي د يوه داسي سرتاسري ګوند بنياد کښيږدي، چي د ډموکراسۍ، ملت پالني او ټولنيز عدالت پر بنسټ ولاړ وي.

-د داسي يوه ګروپ تشکيل فقط د دوو همفکرو کسانو د يوځای کېدلو څخه شروع کېدای سي، چي د خپل کلي، کوڅې، محل، ښار او استوګني له ځايه څخه ئې پيل کړي او د ټوله هيواد سطحي ته ئې ورسوي.

-لکه څنګه چي ما مخکي وويل، چي دا کار اسانه نه دئ، خو

نا ممکن هم نه دئ. ډېره انرژي او زياتي هلي ځلي غواړي، خو د دغسي تشکيل بېله وجوده د افغانستان پر مختتګ يوه محاله او ناممکنه خبره ده.

زما په نظر په عين کال کي، چي هيوادوال د يوه هيواد شمولـه تنظيم د جوړولو په لاره کي هڅي کوي که وغواړو، چي په راتلونکي کي د خپل وطن سرنوشت پخپله وټاکو او په پرمختګ کي ئې مثبته او فعاله برخه واخلو نو نه يوازي دا، چي بايد په لومړي قدم کي خپله شخصي برخه کي د خپلي علمي سطحي د لوړولو له پاره اقدام وکړو، او نور هيوادوال د زده کړو ترلاسه کولو تشويق او وهڅوو، ځکه چي په هيواد کي د يوه وطن پالونکي دولت منځ ته راتګ، د هيواد رښتيني پرمختګ، د هيواد د ګټو ساتنه او د داخلي او خارجي داړه مارانو له لاسه د هغو نجات د هغو کسانو په واسطه په ښه ډول کېداى سي، چي ښه سواد ولري او د هيواد په خير او شر وپوهيږي.

په اخيره کي يو ځل بيا پر خپله خبره ټينګار کوم او دا وايم، چي د نړۍ د هيوادونو تاريخ ته په کتنه سره دا نتيجې ته رسيږو، چي په نړۍ کي د هيڅ هيواد پرمختګ تصادفي نه دئ پيښ سوى او نه هم د يو څو ښو او خير غوښتونکو افرادو په واسطه سر ته رسېدلى دئ بلکي د يوې منظمي او با شعوره ډلي د څېړني، پلان او عمل نتيجه وي ځکه نو افغانستان پر مختګ، ارامي، آبادي په تصادفي ډول نه سي پيښېداى. دا کار د يوې منظمي با شعوره ډلي په واسطه سر ته رسېدلاى سي، چي د يوه معقول پلان درلوونکى او د هغه د عملي لاري چاري ورته معلومي وي.

## وروستي ياد داښت:

کله چي ما دغه ځو کرښي ليکلې په عربي نړۍ کي د استبداد د ماڼۍ د ړنګولو له پاره د ملتونو پاڅونونه پيل سول، چي په هغو کي د عربي هيوادو ملتونو د خپلو هيوادو د مستبدو او د پردو د لاس پوڅو مشرانو، چي د خپل ملت سره ئې اړيکي پرې کړي او د پردو په مالي، سياسي او اقتصادي ملاتړ ئې ځان پر خپل ملت تحميل کړی او دولتي قدرت ئې غصب کړی دئ، راپورته سوه او په دې ډول ئې نه يوازي د خپلو فاسدو واکمنانو د قدرت ماڼۍ ور ولړزولې بلکي د هغو قدرتونو غارته ئې لاهم اوبه ور توی کړې، چي په پټه او ښکاره د دغو مستبدينو تر شا ولاړ ول. په داسي حال کي، چي په نوره نړۍ کي د آزادۍ او ډموکراسۍ پلويان د دغو جريانانو په برياليتوب خوښ دي، دا اندېښنه ورسره ده، چي د يوه با شعوره، بيداره، تکړه، سرتاسري، ملي او ترقي غوښتونکي او ترقي پالونکي ډلي د نه وجود په صورت کي به دا جنبش د يو ځو ماهرو ټګانو له خوا اختطاف او له اصلي لاري څخه به ئې وباسي. په داسي حال کي، چي زه صميمانه دا اميد کوم، چي داسي شی پېښ نه سي او د دغو هيوادو د زړګونو خلکو ويني بې ځايه ولاړې نه سي بيا هم وايم، چي دا به عاقبت انديشي وای، چي د دغو هيوادونو رښتينو ملي عناصرو له پخوا څخه يو بل ته لاس ورکړی وای او د يوه تکړه تنظيم په تشکيل سره ئې نه يوازي دغه ډول پاڅونونه سره يو کړي بلکي واقعي برياليتوب ته ئې رسولي وای.

لیکونکی: منشي عبدالقیوم
نېټه: ۲۰۱۱/۲/۱۱ع

# د افغانستان د لانجې د حل په منظور وړاندیز

ګرانو وطنوالو: لکه څنګه، چي تاسي ټولو ته تر ما بهتره معلومات سته، چي د افغان اولس د بدبختۍ اساسي عامل د زده کړو نه لرل دي. د پوهي او زده کړو د نه لرلو مسئولیت مو د کلونو مستبدو، ځان غوښتونکو (شاهانو) پر اوږو پروت بار دئ. اوس چي زموږ اولس له کوم مشکل سره لاس او ګرېوان دئ، دا د هغوی (شاهانو) د خیانتو او غفلتو نتیجه ده. اوس زموږ یو مشکل نه دئ بلکي د مشکلاتو شمېره مو خورا جګه ده. علاوه د کور دننه مشکلات او غمونه، چي لریو له کور څخه د باندي د همسایه ګانو او حتی ټول جهان سره دا دئ، په جوال کي ولوېدو. نن ورځ، چي په نړۍ کي د ساینس او تکنالوژۍ جهان دئ امکان نه لري، چي موږ په هغه پخواني دود او دستور (جرګه، جرګې) په کار اچولو دي په اوسنۍ زمانه کي ګټوري پریکړي او مثبتي نتیجې په لاس ځیني راوړو. ځکه زموږ د ټولنیز ژوند جوړښت او ترکیب اوس هغه د سلو کالو یا دوو سوو کالو مخ ته حالت نه لري. زموږ په هیواد کي هغه د سلو کلونو مخ ته د

قومونو د مشرانو، سیدانو، سپین ږیرو دبدبه، اعتبار او سپېڅل توب نسته، چي په یوه ږغ به ئې قوم په حرکت راتلی. هغسي ملا او پیر نسته، چي د اولسونو ډلي به ئې تر شا او مخ ته ځغستل. پس جرګه هغه نسخه ده، چي سل کاله مخ ته ئې لا لږ کار ورکاوه او که د تیرو جرګو سمه ارزونه وسي هلته او په هغه زمانه کي ډېر نور عوامل ول، چي د جرګو پریکړو ته ئې تحقق ورکاوه. بل موږ باید د پرمختللي جهان له سیاسي کلتور سره هم څه ځان جوړ او کرار-کرار نژدې کړو. اوس جهان د سیاست، سیاسي مبارزو، سیاسي حزبو د جوړېدو او په سیاسي ډګر کي د هغوی دنقش پر لور درومي. موږ باید شا ته ولاړ نه سو، موږ باید له قبیلوي حالته سیاست، دولت او حکومت را وباسو. موږ باید په هر ډول شرایطو کي د اولس رایو ته په ارزښت قایل و اوسو. علت زموږ د ناکامیو همدا دئ، چي هر حکومت مو اولسونه هېر کړي دي. ډیرو پر وطن مینو دوستان، پوهانو، عالمانو مو د خپل فکر، پوهي درک او درد په اساس د ټولني څخه د شناخت په زور د موجودو بدبختیو د علاج او تداوۍ له پاره نسخې ولیکلې، یا د روغي جوړي نقشې، طرحي، پلانونه او خپل نظرونه ئې بیان کړل. سره له دې، چي پوره اکثریت نه بلکي تر ۹۰٪ زیاته برخه د اولسونو (سوله) غواړي او واقعاً سوله د اولس یوه عاجله غوښتنه هم ده. مګر دا (تریخ) حقیقت باید ومنل سي، چي موږ افغانان باید د افغانستان اوسنۍ وضعي ته په کتو سره دا ومنو، چي په تنهایي یو حزب، یو ګروپ، یوه ټولنه، یوه اتحادیه، یو قوم، یو ملیت او حتی بېله خارجي مرستي د سولي راتګ ناشوني بریښي، ځکه د خارجي هیوادونو شتون خپله یوه ستونزه ده. خو په ډېر خفګان سره کله، چي د سولي کومه طرح د کوم افغان له لوري وړاندي سي، په هغه دم یو شمېر

دوستان ځانونه د اولس د نماينده ګانو تر نوم لاندي د کمپيوټرونو پر صفحو په اصلي او بدل نومونو او غلطو ادرسونو، پر هغو طرحو داسي تبصرې وکړي، چي د سولي و پروسې ته ئې تر ګټه تاوان زيات وي. تبصرې بايد د سمون په منظور، د ګونګو نقطو د روښانتيا په هدف وي نه د يو او بل د تهديد او يا خپلي قلمي برتري. زه فکر کوم، چي په غالب ګومان به د سولي دښمنان د دوستانو په جامو کي دا کارونه کوي، ځکه د دوی د لاسه طرح يا وړانديز خو څه، چي د طرحي پيشکش کونکي پر خوله سوکان وخوري. خپل افغانانو وروڼو مو نه دا، چي د پلان، طرحي يا نقشې نيمګړتيا وي ور پوره او تکميلي نه کړي، بلکي پيشکش کوونکي مو هم په ځان پوري حيران او په شلو نومونو تهمتي کړل او بل خپله مو د طرحي وړاندي کوونکي هم د دې وطن اولادونه دي د بل خبري ته غوږ نه نيسي، نو هغه دئ، چي ژر طرح له خولو ولوېږي. لا زموږ دوستان په ذهني توګه هغې مرحلې ته نه دي رسېدلي، چي خپله سهوه ومني، په دې، چي د دوی ژوند تقريباً په يوه محدوده حلقه (د خلکو) کي تېر سوی دئ. څوک چي د ژوند او مبارزې په جريان کي د خپل نظر له مخالفينو سره نه وي کښېنستلي، له هغوی سره په آزاده فضا کي نه وي ږغېدلي، رشتيا، ترخې او غلطي ئې د بل نه وي اورېدلي نو د داسې دوستانو پر نظر باندي د بل لخوا يوه عادي نيوکه هم ده ته غر سي. ژر هم ځان په قهر کړي او هم مقابل خفه، ځکه دوی ته چا، هيڅکله هم نه دي ويلي، چي پر مخ دي څو ګلله دي او يا ورته ووائي، چي داسي به نه وي، يا داسي به ښه وي. د دغو خبرو زغم لا پکښي نسته، يا ئې سياست کړی نه دئ که ئې سياست هم کړی وي يوازي ئې د سياست له خوږو ګټه وړې ده مګر له سختيو او ترخو ئې غوړپ هم نه دئ کړی. دوی فکر کوي، سياست يوازي

شیریني لري. خبر نه دي، چې سیاست د ننه په منځ کې ۸۰% تریخ دئ. دوستان ئې هغه ظاهري شکل ته ګوري نو همدا علت دئ هر څوک، چې یو نظر او طرح وړاندې کړي نور فکر کوي، چې دی مخ ته سو او ته پاته، که نور څه نه سي کولای، په کمپیوټر کې خو بد لیکل ورته اسانه کار وي. پر طرح او وړاندیز خبره پاته سي، د طرحې د مخ ته کوونکي یا انتقاد کوونکي پر شخصیت څېړني ته زور ورکړي. واقعیت خو دا دئ هره طرح او پیشنهاد، چې د سولې د راوستو په نیت دوستانو مخ ته کړې ده، د ستاینې وړ کار ئې کړی دئ. تر او سه، چې څه طرحې د افغانستان د بحران د ختم په منظور دوستانو مخ ته کړي دي، هغه داسې، چې له خارجه (امریکا او اروپا) ورته د حکومتو ټاکنه غواړي، چې زما په باور ښه او بریالۍ لارې نه دي او له تیرو سره توپیر به ئې څه وي. بل د ټولو تکیه ګاوي پر خارجي ملاتړ ولاړې وي. رشتیا هم دا خبره ئې زه هم منم، زموږ د هیواد لانجه خارجي ده او خارجیان په خاصه توګه هغه هیوادونه، چې د دې هیواد په جګړه کې ئې تاوان تر ګټو زیات وي باید د سولې له بهیر سره صادقانه همکاري وکړي. زه وایم دوستانو انتقاد وکړئ او که نه د بل خبرې ته په سړه سینه غوږ نیول هم د هوښیارانو کار دئ. ښو ته ئې نور تشویق کړئ، چې ښه فکر وکړي، څو په حوصله، ورورګلوي، صمیمیت (افغانیت) سره و مشترک مشکل ته د حل لاره پیدا کړو. په دې ډول به ئې د پیاده کولو له پاره په ګډه سره کار وکړو. په دې خبره هم ښه پوهېږم، چې یو شمېر خلک سته، چې پر یو شمېر افغانانو باندې مختلف اتهامات، تورونه لګوي او نه غواړي، چې ټول افغانان سره متحد د سولې پر خوا ولاړ سي. هدف د دغسې اتهاماتو ئې دا وي، چې د هغو خلکو په شتون کې د نوموړي (انتقاد کوونکو) وزن کمېږي او بل د سولې مخالفین په خپل ټول

قوت دې تخريبي کار ته ترجح ورکوي، چي هلځ او جنايت کاران محکمه کړئ. زه وايم په دې شرايطو کي، چي ټول هيواد پردی دئ، د شپې تېر ځای پکښي نسته په چاه؟ چيري؟ او کوم قوت؟ دغه جنايت کاران محکمه کوئ؟ بل ټول د پوهي او تجربې خاوندان بايد په دې نوم د سولي په بهيره ليري پاته نه سي. زه وايم د اسلام ستر پيغمبر محمد ﷺ د مکې مکرمې تر فتحي وروسته له خپلو سر سختو دښمنانو، چي د محمد ﷺ د وژلو پلان ئې عملي کاوه د هغوی په وړاندي څه وکړل؟ که څوک ځان مسلمانان وبولي بايد هغه لاره تعقيب کړي.

لومړی: پر دې خبره توافق په کار دئ، چي دا خبره لڅه او دقيقه سي، چي آيا دغه د افغانستان اوسنی (جګړييز حالت) خپله د افغانانو او بيا خارجيانو په منځ کي د چا په ګټه او چا په ضرر دئ؟ متضرر ډېر دي که ګټندويان؟

زما په باور د کرزي حکومت د ټولو مفسيدو، رشوت خورو، قاتلانو، د بشري حقونو تر پښو لاندي کوونکو، جنګي مجرمينو، تروريستانو له پاره يوه د امن ځاله سوې ده. يوه برخه افغانان، چي بېله لياقته، د خپلوي، شناخت، قومي، حزبي او تنظيمي اړيکو په اساس د موجوده حکومت په خېټه کي دننه د (ژورو) په شان ژوند لري، هلته ارام او هر څه ور رسيږي، ثروتونه ئې ډيريږي او په هيڅ صورت د سولي د رېغ سره مينه وال نه دي. بل ګروپ هغه برخه افغانان دي، چي له خارجي هيوادو ورغلي، دلته ئې پر ساعت (لس ډالره) نه سوای پيدا کولای اوس په امنيت کي په زرهاوو ډالره معاش لري نو هغه سوله څه کوي. بل ګروپ د افغانانو سته، چي له حکومتي چارواکو سره په ګډه دهيروينو په کار او بار دولتي ځمکو، شخصي او ملي

شتمنيو په چور کي شريک او مصروف دي، کله په ډوبۍ، امريکا او کله په اروپا کي وي، ګټې کوي هره ورځ ئې د تلويزونو پر مخ ناوړه څېرې ښکاري هغه سوله نه غواړي. د چا په لاس کي، چي توپک دئ، کلي او د کلي اولس ئې په قبضه کي دئ، هغه ئې هم د توپک له برکته خوري او د سولي سره مخالف دئ. د جهان د ټولو تروريستانو، القاعده او تند روانو له پاره افغانستان په يوه ښه جغرافيايي موقعيت د اسيا په زړه کي مناسب ځای دئ. په دې ډول د ناټو د غړو هيوادو له پاره هم په ستراتيژيک لحاظ افغانستان د اهميته ډکه نقطه ده. په دې خبره زيات خلک اوس پوهيږي. هو دا خلک، چي د جګړې په دوام کي ئې ګټې سته د ټول اولس د نفوس د فيصدۍ له مخي به لږ خلک وي. خو حکومت، هستي شتمني، توپک او سياسي برتري، د خارجي هيوادو ملاتړ اوس د دوی په لاس کي دئ. موږ بايد په داسي مسايلو کي د ټول ملت د نفوس په حساب قضاوت ونه کړو. هلته د ټول ملت د نفوس پر سر خبره درسته راتلل، چي (ملت په ځان پوهېدلای، ملت د ځان واک لرلای). ملت مو دې خلکو را ته د قوم، ژبې، منطقې، سمت او مذهب پر اساس ټوټه-ټوټه کړی دئ. هغه د پوهي نا خبره او ليري ساتل سوی اولس خو څه، چي (پوهان، پروفيسران، ډاکټران، اکاډميسنان او ډېر زيات نور...) مو اوس پر ژبه، قوم، مذهب او سمت باندي ځانونه تقسيم کړي دي. لاسته داسي خلک، چي ځانونه افغانان نه بولي، يا ځانونه تر نورو ښه بولي. خدای ﷻ دي وکړي، چي افغانان مو واقعي افغانان سي.

دوهم: د افغانستان جغرافيايي موقعيت داسي راغلی دئ، چي د تاريخ په اوږدو کي ئې له غمه (ارام) نه دئ پاته سوی. هر زبر ځواک يو ځلي څه، چي څو-څو ځلي ئې دلته خپل بختونه ازمايلي

دي. خپلي نوي جوړي سلاح ګاني ئې امتحان کړي دي، خو تر اوسه داسي نه وه سوې، چي د شپږ ځلو ښت هيوادونو تر مستقيم تېري او تر دوی لږ کم په غيري مستقيمه توګه د مداخلو په لومو کي دي راګير سوي وي. زموږ په هيواد کي جګړه د ډيرو خارجي هيوادو په خاص ډول (همسايه ګانو) په ګټه او لږ هيوادو په ضرر بولم. دا بل هغه مشکل دئ، چي د سولي د راوستلو په لاره کي مو پرمختګ ته نه پريږدي. مثلاً پاکستان: دا په منطقه کي هغه هيواد دئ، چي د افغانستان او هند د همښتنۍ زوروني له پاره انګرېزانو په همدې هدف جوړ کړی، که نه د پاکستان د جوړېدو ضرورت څه وو؟ زه پاکستان و افغانستان ته يوه انګريزي تلکه بولم. هيڅ کله به پاکستان په دې راضي نه سي او له دې سره به توافق و نه کړي، چي موږ يو مرکزي او غښتلی حکومت ولرو...

## د پښتونستان مسله ئې محوري ټکی دئ:

له ايران سره علاوه پر مذهبي جلاوالي د هلمند د اوبو پر سر مشکل د ايران لاس وهنو او زموږ په هيواد کي د قوي حکومت د جوړېدو مخه نيولې ده.

هند په هيڅ صورت د يو اسلامي غښتلي حکومت د جوړېدو سره په افغانستان کي مينه وال نه دئ، د کشمير د لانجې په خاطر.

چين نه غواړي، چي په افغانستان کي دي يو قوي حکومت وي په خاصه توګه اسلامي، د ترکمنستان د مسلې پر بنياد.

پخواني شوروي او سنۍ روسيه او هغه مستقل هيوادونه ئې، چي د افغانستان سره پولي لري لا د روس سره اخښلي دي، نه غواړي، چي په افغانستان کي يو قوي او غښتلی حکومت وي

همداسې نه ده؟ خپله ناټو غړي هیوادونه هم په افغانستان کې د یو کمزوري، متزلزل، چاپلوس حکومت غوښتونکي دي. د مترقي پر ځان متکي یا غښتلي اسلامي حکومت خو بلکل هیڅ هیواد لیري او نژدې ټول خارجي هیوادونه نه غواړي. که دا ټولي خبري پوره وشنو ډېر وخت غواړي دلته مې ئې یوازي یو ذکر وکړی.

ښه دا خبري، واقعیتونه او مشکلات په مخ کي لرو خو افغانانو یو متل لري وایي: غر چي هر څونه لوړ هم سي پر سر ئې لار سته. نو که د افغانستان مشکل هم هر څونه لوی وي پر مشکل د بري لاره سته. موږ باید اول داسي کار وکړو، چي نه سیخ وسوځل سي او نه کباب. زه به د خپل لږ پوهي او شناخت، چي د خپلي ټولني څخه ئې لرم یو څه ولیکم بیا به ئې د دوستانو مخ ته کښېږدم. دوستان به ئې وګوري، که د حالاتو او شرایطو سره ئې سر نه خوړی نور به تر دې ښه وړاندیزونه وکړي. هغه به د ټول اولس په ګټه ون تر بري رسوو او که چیري دوستان سوالونه ولري، انتقادونه ولري، پیشنهادونه ولري، نرم او سخت هر څه ته به جواب د خپل عقل برابر ورکړم او که نه پوهېدم بخښنه به وغواړم را وبه ئې ښیي. خو په دې باوریم، چي سوالو ته به جوابونه وایم.

## د سولي د راوستلو په هکله د افغانستان ټول ملت ته وړاندیز کوم:

۱. هر څوک، چي د افغانستان په جغرافیایي قلمرو کي اوسي هغو ته د افغان په نوم خطاب کول ګناه نه ده. پس هیڅ کله یو افغان نه سي کولای بل افغان له افغانیته وباسي. افغانستان د افغانانو مشترک کور دئ. په او سنیو خاصو شرایطو کي، چي یو شخص پر بل

شخص، یو حزب او یا هم یوه حزب پر بل حزب، یا یوه ډله پر بله ډله، یا یو تنظیم پر بل تنظیم، یا یو ملیت پر بل ملیت، یو قوم پر بل قوم او یا د یوې ژبي ویونکی پر بلي ژبي ویونکو باندي انتقادونه لري او یا اتهامات واردوي، دا ټولي خبري زه منم. هو په دې انتقادونو کي څه واقعیتونه هم سته، خیانتونه سوي دي، جنایتونه سوي دي او لا دا دئ کیږي. د جنایت کارانو شمېر محدود دئ، مګر داسي نه هیڅوک زموږ په هیواد کي نه وه او نه سته که رشتیا وویل سي، چي په یوه له دغو حزب، ګروپو، تنظیمو، ډلو او حکومتو کي دي ئې په شکل د اشکالو لاس نه لاره. ساده ئې وایم، له یوه نفرت او پر بل لور پېرزوینه دا خپل په سیاست کي ګډون دئ او بې طرفي له منځه وړي. که فرضاً په دغه دونه اوږده غمیزه کي بیا هم کوم شخص ادعا لري، چي زه خو یوه طرف ته نه وم نو له هغه شخصه اوس هم د کار امید مه کوئ، ځکه رشتیا نه وائي. هغه نو یوازي بېچاره په کلیوالي ژبه (کاریګر) دئ او وي دي. د ترازو پلې ته ګورئ، چي کومه خوا درنه ده. نو په لومړي قدم کي باید د موقت وخت له پاره تر ټولو لوی هدف (سوله) ته رسو، د خلکو نماینده حکومت رازي، حساب او کتاب به بیا هغه حکومت کوي. د اوس له پاره، چي هیڅ په لاس کي نه لرو پر دې خبرو وخت تېرول د اولس زورونه، د اوسني فاسدي حاکمي ادارې او د سولي د د ښمنانو په ګټه خبري دي، چي ځیني د همدې ادارې پلویان په بدلو نومونو په کمپیوټرونو او تلویزونونو کي ورته خدمات او نشریات کوي. او به خړوي ماهیان نیسي، چي هدف ئې د ناروا حکومت نور پر ځای پاته کېده دي او په واقعیت کي د خاینانو و محکمې ته د راکښولو مخه نیسي. زه وایم ښه دا ده، چي راځئ اول به په ګډه دا بل اور مړ کړو بیا به نور اقدامات، ځکه موږ ولیدل، چي په تنهایي څوک دا اور نه سي

وژلای.

د دې له پاره، چې هیڅ افغان د سولي له پروسې ونه ایستل سي، هیڅ شخص د مشر یا کشر په نوم ونه نومول سي. د راتلونکي مشر پر ښه سړیتوب او نه سړیتوب خبره هم پرېږدو، ځکه تر وخت مخکي خبره ده. د خدای ﷻ د رسول محمد مصطفی ﷺ د هغه څلور یارانو په شان دغه د مشرتوب خبره موکلینو ته پرېږدئ، و لو که موقته اداره هم وي. هر څوک خپل بخت و ازمایئ خپل ځان د ملت په هینداره کي وګورئ، چې د قوم، ملیت، ژبي، تنظیم، حزب، ګروپ، ادبي او فرهنګي ټولنو، اتحادیو او علاقه مندو مسله پکښې حل سي. په افغانستان کي دننه او خارج له افغانستان ټول وګړي پکښې سهم لري.

د یوه معین شمېر افغانانو پر سر یو نماینده خپله د هغو خلکو لخوا تعین سي. دغه تعین سوي او معلوم نماینده ګانو ته په کابل کي د خوندي توب شرایط د ملګرو ملتونو لخوا برابر سي څو دغه نماینده ګان خپل تر منځ په انتخاباتي ډول د موقت حکومت د چارو له پاره له هغو نماینده ګانو له منځه مسئولین انتخاب کړي.

د توافق په صورت کي بېله قید او شرط د درګیرو لخوا اوربند، د نماینده ګانو د تعین وخت باید تر درې میاشتي زیات نه وي.

الف: یو نماینده باید د پنځه زرو افغانو نماینده ګي په رسمي اسنادو ولري یعني (۵۰۰۰) افغانانو پر سر یو نماینده کېدای سي دا شمېره زیاته کړو مګر لږ نه.

ب: نماینده باید حد اقل دوولس کاله زده کړي کړي وي. په پښتو او دري ژبو لوست او رواني خبري وکولای سي. د نماینده عمر

باید له پنځه دیرشو کلونو نه کم نه وي.

ج: د پښتوانیو حزبونو او تنظیمونو د لوړي کچي د رهبرۍ غړي، د کرزي د حکومت د کابینې غړي، عالي رتبه مامورین، د اوسني برحال پارلمان او سنا غړي د نمایندهګانو په حیث په موقته مرحله کي د منلو وړ نه دي.

د: هر نماینده به د خپلو موکلینو په ملاتړ او مصرف په غونډه کي ګډون کوي.

ذ: د غونډي د دایرېدو وخت باید حد اقل (۱۰) ورځي وي تر څو نمایندهګان په ښه توګه یو بل سره وپېژني، وحدتونه، اتحادونه او ملګري سره وکړي. په دغو غونډو کي به هیڅ خارجي تبعه اشتراک او ګډون نه لري.

ر: تر لسو ورځو جر و بحث او تصمیم وروسته، چي د موقتي دورې له پاره ئې مشر او کاري کمېټه (کابینه) ټول په انتخاباتي توګه وټاکل، دوی نوري ورځي باید وخت ولري، چي د (امنیت د شورا د دایمي غړو هیوادو نمایندهګان، د همسایه هیوادو نمایندهګان) به د دوی پر کړو د تایید مهر ونه لګوي او په صداقت به د پریکړو ملاتړ کوي او د افغانستان په کورنیو چارو کي به د نوري مداخلې هوډ کوي.

موقت حکومت به علاوه پر خپلو دولتي وظایفو، چي لري ئې دغه دري اساسي وظیفې د ټولو درګیریو خواوو په صادقانه همکارۍ سره سرته رسوي.

الف: بېله استثنا عمومي خلع سلاح د ټول ملت او د ټولو سیاسي بندیانو آزادول.

ب: د نوي پارلمان او جمهوري ریاست د چوکیو له پاره

انتخابات به تر سره کوي.

ج: له هیوا د څخه د خارجي نظامي قواوو د وتلو محالوېش به جوړوي، چې په همدغو درو کلونو کي ئې وتل تکمیل سي یعني د انتخاباتي جمهور رئیس د لوړي مراسیمو وروسته به په افغانستان کي خارجي عسکر نه وي.

د همدغي د موقتي اداري مشر او د کابینې غړو ته د یو ځل له پاره په لومړي انتخاباتي دوره کي باید د جمهوري ریاست له پاره د کاندیدولو حق ورنه کړل سي، څو د نوموړي تر مشری لاندي انتخابات بېله تقلبه سرته ورسیږي.

پاته سول د جنګي مجرمینو، قاتلانو، د بشري حقونو د پایمالوونکو او نورو سره د حساب، محکمې، جزاء او عدالت خبره دا د منتخب حکومت په وظیفو کي اولنی ځای لري.

د پورته خبرو هره ماده څه تفصیل ته اړتیا لري، هر ډول مثبت نظر ته پکښې ځای سته. د کار میکانیزم به ډېر مغلق او پېچلی نه وي. مثلاً بېله قید او شرط اوربند، چې نماینده ګان وکولای سي خپل د طرفدارانو لیست د تذکرو سره په تعین سوي دفترو کي ثبت کړي. زه امید لرم د تیري او د کرزي د حکومت مخالف لوري هم ورته باید ښه راغلاست ووائي. زه تر کومه ځایه، چې پوهېږم د جهان ټول حکومتونه لکه، چې پورته مي ورته اشاره هم کړې ده، یو ځل بیا په تکرار سره تاکید کوم، چې نني جهان په افغانستان کي د یوه قوي مستقل او پر خپلو پښو ولاړ حکومت نه غواړي. نور دا خبره نه اوږدوم پر الله ﷻ مو سپارم ستاسي د ښو نظرونو په امید.

عبدالقیوم–امریکا

ليکونکی: ولي عبدالله

# افغانستان څرنګه له روان بحران څخه وژغورو؟

(زه فکر کوم، چې دغې پوښتني ته جواب، عقل او وجدان ضرورت لري).

افغانستان او افغان جوړونه يوازي او يوازي خپله د هر افغان کار دئ او بس. په دې باب په نړيوالو باندي زړه تړل د خپل زړه د يوې برخي د له لاسه ورکولو په معنا ده، خو له نړيوالو سره د ښو اړيکو، او د خپلي دايمي بې طرفۍ خوندي ساتل کېداى سي، چې د افغانستان په بيا رغونه او دايمي ثبات کي ډېره مرسته وکړي که څه هم له بله پلوه دا کار کېداى سي، چې د مداخله ګرو هيوادونو له پاره بيا د پټو لاس وهنو زمينه برابره کړي، خو د غه اوسني ويجاړ افغانان بايد دهري بهرنۍ توطئې په وړاندي په هر وخت او زمان کي هوښيار، يو موټى او تيار و اوسي تر څو د تېر په څېر د پرديو د توطئو قربانيان نه سي. چينانيان يو مثل لري، چې وايي: که يو ځل دي وغولولم پر تا دي لعنت

وي او که دي د دوهم ځل له پاره وغولولم پر ما دي لعنت سي.

افغانانو باید له خپل کورني او بهرني تاریخ څخه نورنو د خپلي سبا ورځي دبرخلیک د ټاکلو په باب حتماً یو څه زده کړي وي.

په تیرو پېړیو او لسیزو کي افغانستان خپل ځان او نړیوال ډېر ځلي ازمایلي دي او اوس د دې وخت را رسېدلی دئ، چي د اشتباه ګانو تکرار پر تکرار ته د پای ټکی کښېښودي او افغانانو ته لازمه ده، چي د نړۍ په هینداره کي خپل ملي شرافت وپېژني او د ملت جوړوني کار پیل کړي.

افغانستان همدا اوس عملاً د ناپېیلو هیوادنو د غورځنګ غیر فعال غړی دئ او افغانستان ته لازمه ده، چي ورو-ورو د خپلي بې طرفۍ د موقف د بیرته احیا کولو پر لور وخوځي، له یو معین او مشخص هیواد سره تر ستوني پوري نژدې کېدل او له بل هیواد سره سیالي هیڅ د افغانستان په ګټه نه دي، خصوصاً په داسي حال کي، چي همدا اوس په نړۍ کي د قدرت نړیواله خلا موجوده ده، نړیوال قوانین د هغو د موسسینو لخوا تر پښو لاندي کیږي، نړیوالو سازمانونو خپل حاکمیت د لاسه ورکړی دئ، نړیوال سازمانونه لاس پوځي سوي دي، دیپلوماسي په استخباراتو او ژورنالیزم هم په پروپاګندو اوښتی دئ. په نړۍ کي بې عدالتي، فقر او بې امنیتي اوج ته رسېدلې ده او دنړۍ ستر ځواکونه هر وخت او هر چیري، چي وغواړي په خپل سر پوځي، سیاسي او اقتصادي عمل کوي.

که د نړۍ اوسنی روان حالت ته ښه ځیر سو نو ګورو، چي نړیوال زاړه ځواکونه د زوال او نوي ځواکونه د راپورته کېدو په حال کي دي، د نړۍ سیاسي، اقتصادي او پوځي روان حالت د نوي شکل د موندلو په حال کي دئ، له همدې کبله افغانستان باید له نوي بهیر سره د حرکت له پاره پوره هوښیار او چمتو وي، خصوصاً په افغانستان کي

د اوسني دموکراسۍ له روان بهير سره، چې عمل د شعار قرباني نه کړو او دموکراسي هم د کپيټاليزم.

په اوسني حالت کې افغانان تر هر څه د مخه بايد د يوه ملت د جوړوني له پاره هغه فورمولونه ولټوي کوم، چې هر افغان پکښې خپلې مادي، معنوي، فردي او ملي گټې ومونډلای سي او داسې اميدونه د دوی په زړونو کې راوخوځوي، چې افغانستان د هر افغان او هر افغان د افغانستان له پاره ژوند کوي.

زما په عقيده د افغانستان خلک بايد په دې پوه سي، چې د دوی دنده له حکومت څخه اطاعت نه دئ او حکومت هم بايد په دې پوه سي، چې دنده ئې په خلکو باندې يوازې او يوازې حاکميت نه دئ، حکومت د خلکو خادم دئ او د افغانستان حکومت د درې گونو قواوو د پلي کولو مامور دئ.

زه غواړم، چې په مختصره توگه دغو لاندنيو ټکو ته په اشاره سره (چې هر يو ئې د پراخو توضيحاتو وړ دئ) د افغانستان د خلکو، حاکم ځواک، سياسي او ټولنيزو سازمانونو، فرهنگي، سياسي او ملي شخصيتونو او مطبوعات چيانو پام راوگرځوم:

۱. د ملي روغې جوړې څخه کور په کور، د دفاع د تداوم هڅې تر هغه وخته، چې ټول افغانان د سولې او نه کړکېچ د دستور پر يوه ټغر سره راغونډ سي.

۲. د (۱۹۸۸ع) کال د اپريل د (۱۴) مې نېټې د ژينو د موافقه ليکونکو د پلي کېدو هغه مواد، چې د افغانستان، پاکستان، روسيې او امريکې لخوا پرې موافقه سوې وه، خو عمده برخې ئې لا تر اوسه هم نه دي عملي سوي.

۳. د نړيوالې ټولنې او د امنيت شورا د پنځو دايمي غړو لخوا

د افغانســتان د دايمي غير پوځي کېدو مســله، د افغانســتان د دايمي بې طرفۍ سياست، د افغانستان د طبعي جغرافيه او ارضي تماميت خوندي ســاتل او پــه نړيوال ســتيژ کي د ســويس د هيواد پــه څېر د افغانستان د نړيوال سياسي موقف ټاکل، په رسميت پېژندل او امنيتي تضمين.

۴. د ســياســي (Plurralism) مســلې تــه جدي پاملرنــه: افغانستان ته ضرور دئ، چي له روان سياسي پلوه له سره چاڼ سي، په دې معنی، چي افغانستان له سياسي، قومي، ديني او عقيدتي پلوه په داسي څو عمده او محدودو سياسي ګوندونو يا برخو تحليل او تجزيه سي، چي د اجتماعي، سياسي او عقيدتي حقوقو له پلوه په رو ښانه او بشپړه توګه د هر افغان ځای پکښي څرګند وي تر څو د فريکسيوني او مسلح مبارزو پر ځای د علني سياست مبارزې ډګر ته داخل سي.

په افغانســتان کي له ډېر پخوا راهيســي دغو لاندنيو تجربه لرونکو ســياســي ګوندونو فعاليت کړی، چي له نړيوال او ملي پلوه تر نن پوري په منظمه توګه روان دئ او اوس هم همدی کولای سي، چي د افغانانو پر ټپونو د مرحمو پټۍ کښېږدي.

الف: د افغانستان د اسلامي متحد ګوند په نامه يوه حزب ته اجازه، او د ټولو اســلامي تنظيمونو د يو ځای کېدو او ملي وحدت د لارو اواری.

ب: د افغانســتان د خلک دموکرات ګوند بيرته احيا او فعال کېدل او له دغه ګوند څخه د راڅخېدلو فريکسونونو الغا او بنديز.

ج: د شــعله يانو د ګو ند فعالېدل، چي په افغانســتان کي د چينيايي اقتصادي سياسي نظام د تجربو ښکارندويي وکړي.

د: دافغان ملت واحد ګو ند فعالېدل او د دغه ګو ند له هغو

غړو څخه، چي په نورو سياسي سازشونو کي ښکېل سوي دي د يوه ثابت، معين او يو مخي درځي را منځ ته کول.

ه: د ستم ملي په نامه سياسي ګوند ته د سياسي فعاليت د لاري اواری، چي د لړکيو د ملي او سياسي حقونو ښکارندويي وکړي.

و: د طالبانو نهضت ته په دننه افغانستان کي سياسي ګوند د بنهي د ورکولو هڅي، د سياسي فعاليت اجازه او په اوسني حالت کي د طالبانو د سياسي ګوند د غړو د ځان او مال د خوندي توب تضمين تر څو په عملي توګه د بهرنيو بنسټپالو ډلو او القاعده څخه جلا او ګوښه کړای سي.

ز: د افغانستان د ښځو نهضت په نامه سياسي ګوند را منځ ته کېدل.

ح: د افغانستان د ځوانانو د ملي سياسي تفکر د روزلو په نيت د يوه ملي سراسري ځوان سازمان جوړېدل، چي په ټول افغانستان کي خاصي نمايندګۍ ولري او تر اتلس کلنۍ پوري افغان ځوانانو ته د ملي سياسي شعور روزنه ورکړي، چي وروسته تر اتلس کلنۍ په سياسي ګوندونو کي د شمول له پاره د دوی سياسي تفکر ښه وروزل سي.

ط: د دموکراسي په نامه د لوېديز پلوو روشنفکرانو د سياسي ګوند جوړېدل، تر څو د اوسني حالت پلويان په يوه ټغر، په يوه معين هويت، ځواک او هدف سره را غونډ کړي.

ي: د تش په نامه سياسي احزابو له تراکم څخه جدي مخنيوی.

زما هدف له دغي صنف بندۍ څخه دا دئ، چي په افغانستان کي د افرادو د حکومت کولو رسم ته د پای ټکی کښېښول سي او د سياسي ګوندونو د حاکميت سيستم را منځ ته سي. زه داسي ادعا نه

کوم، چي دغه صنف بندي د افغانستان د خلکو د سياسي عقيدتي وېش له پاره کافي ده، بلکي له ټولو مي اګاه، سياسي او فرهنګي شخصيتونو څخه هيله دا ده، چي دغو نظريو ته پراختيا ورکړي او په دې توګه د افغانستان د ستونزي له پاره د خپل هيواد د مرض د علاج نسخه په خپلو لاسونو وليکي.

يوه خبره بايد په ياد ولرو، چي افغانانو له خپلو، ملي، سياسي او فرهنګي شخصيتونو څخه اعظمي ګټې نه دي ترلاسه کړي. زه داسي وړانديز کوم، چي د افغانستان ملي، سياسي او فرهنګي هغه لوړ شخصيتونه، چي د ماموريت رسمي، سياسي او دولتي موده ئې پای ته رسېدلي وي، پرته له دې، چي کوم سياسي ګوند پوري تړلی وو، د ملي شخصيتونو د تفکر په يوې ملي کمېټې کي سره را غونډ سي، تر څو د ملي او نړيوالو بحرانونو پر مهال د ملي مصلحت په نيت د حاکمو حکومتونو مشاورت وکړي.
له بهر څخه د ملي،سياسي، فرهنګي شخصيتونو او کارپوهانو بيرته ستنېدلو ته جدي پاملرنه. افغان مستعد شخصيتونه، د وطن مادي او معنوي شتمني ده.

په افغانستان کي د مطبوعاتي شبکو خصوصاً راډيوګانو او تلويزونو د تراکم مخنيوی.

د سياستوالو او دولتي عالي مقام کارکوونکو له پاره د تقاعد د سن ټاکل.

د خصومت او ملي نفاق په تبليغاتو باندي جدي بنديز، په اوسني

وخت کي د پخوانيو ناخوالو د راتازه کولو مخنيوی او د مطبوعاتو ټوله پاملرنه راتلونکي، بيارغوني، ملي يووالي او د ملت سالمي روزني ته را اړول.

له بهرنيو مطبوعاتي شبکو څخه په ټينګه داسي هيله، چي د افغانستان د ملي مصلحت پاليسۍ ته په پاملرني سره، له نفاق څخه د ډکو تبليغاتي پروګرامونو خپرولو ته د پای ټکی کښيږدي.

په افغانستان کي دننه او بهر په هغو د نظر خاوند، سياسي، فرهنګي او ملي شخصيتونو باندي د مطبوعاتي بنديزونو ليري کول، چي د کورنيو او بهرنيو مطبوعاتي کړيو لخوا پرې لګول سوي دي.

په افغانستان کي د مختلط اقتصادي سيستم تعقيبول، د افغانستان حکومت ته لازمه ده، چي زير بينايي دولتي انحصاري اقتصاد او ملي تجارانو ته لازمه ده، چي په آزاد بازار کي ګډون ولري.

د افغانستان لخوا د افغانستان د خشخاشو د کروندو دولتي کول او د افغانستان د زراعتي توليد په توګه رسماً د دولت تر انحصار لاندي راوستل او په نړۍ کي د هغه د نړيوال تجارت قانوني کول.

په افغانستان کي د بهرنيو مرستندويو ټولنو د کار او فعاليت مقرره، چي د هغه پر اساس دي د غه مرستندويي ټولني يوازي او يوازي د افغانستان د زير بينايي بيا رغوني په برخو لکه زراعت، کاناليزسيون،

اوبه او برېښنا، صحت او روغتيا، ودانولو چاري او داسي نورو برخو کي، چي د عملي کار ساحې وي د ونډي اخيستلو اجازه ورکړل سي او هغه افغانان، چي په دغو بهرنيو موسسو کي کار کوي د بهرنيو چارو وزارت لخوا تر ښووني او روزني وروسته به بهرنيو موسسو کي د کار اجازه تر لاسه کړي. په افغانستان کي د بهرنيو موسسو لخوا په خپل سر د افغانانو د کار ګمارل دي غير قانوني اعلان سي.

نړيوالي مرستي دي مستقيماً د افغانستان حکومت ته ورکړل سي.

له افغانستان څخه بهر ته د نقدو پيسو د ايستلو بنديز.

د افغانستان حکومت لومړنی مکلفيت، چي خلکو ته کار پيدا کړي.

د ملي اردو د جلب او احضار د سيستم بيا احيا کول او غيري سياسي کول.

د بهرنيو استخباراتي (Security) نمايندګيو لخوا د امنيتي چارو له پاره د استخدام د سيستم بندول.

د تعليم او تربيې، روغتيا، زراعت او ساختمان برخو ته په اوسني وخت کي د هيواد د بيا رغوني لومړيتوب حق ورکول.

د فساد پر ضد جدي مبارزه: خصوصاً رشوت، د مخدره موادو قاچاق، خرڅلاو او استفاده، د ماشوم تښتول، د ماشوم شاقه کاري، له ماشوم څخه جنسي استفاده ته د افغانستان په قانون کي د لومړۍ د رجې

جرمونو په توګه پېژندل او د سختي سزا ټاکل.

قتل، غلا او جنسي تېري ته د سخت تريني جزا ټاکل او په قانون کي هغه د لومړۍ درجې جرم په توګه پېژندل.

د پوځ او بهرنيو ځواکونو لخوا د ماشوم، ښځي او ملکي افرادو د وژلو پر سر د مالي ډېر ګران ټاکل، چي له پنځوسو زرو ډالرو څخه کم نه وي.

له طالبانو سره د ريښتني پخلايني د خبرو د پيل د ښه نيت په نامه افغان طالبانو ته د ځينو ولايتونو سپارل، چي خپل وطن او د سولي له بهير سره عملاً نژدې او له بهرنيو طالبانو څخه جلا سي. دغه سمبوليکه خود مختاري کېداى سي، چي حتى له کورنيو او بهرنيو ځواکونو سره د مستقيمو خبرو په ګډون وي.

په افغانستان کي حکومتونه تل په زور او نيرنګ قدرت ته رسېدلي او په زور او نيرنګ هم له منځه تللي دي. دغه عمل ته د سياسي پلوراليزم (Pluralism) له لاري د پاى ټکى کېښېښولاى سو او هر هغه کسان، چي د افغانستان جهموري رياست او نورو عالي رتبه مقامونو خوب ويني بايد د سياسي ګوند له لاري قدرت تر لاسه کړي نه د پردو پر وزرونو يا تش په نامه په مستقله توګه. هر هغه څوک، چي د افغانستان حکومتي مقامونو ته کانديدېږي بايد خپل سياسي ګوند له نامه نه ځان کانديد کړي، نه د يوه شخص په توګه.

په افغانستان کي تل مترقي، ملي او منلي حکومتونه د بهرنیو توطئه گرو حکومتونو لخوا تر فشار لاندي راغلي او ړنګ سوي دي، او غیر ملي، ضعیف او رتېل سوي حکومتونه ئې تقویه کړي دي، دغه ناوړه اصل ته باید خپله افغان اولس د پای ټکی کښېږدي او چاته اجازه ورنه کړي، چي د دوی د ملي هویت سپکاوی وکړي.

زه وسله والو مخالفینو ته د جګړي پر ځای د سیاسي مبارزې د کولو وړاندیز کوم ښايي، چي د افغانانو له پاره به دغه موقع د عدم تشدد د سیاست له نامه نه د ښې ګټي اخیستني موقع وي او یا هم په بل تعبیر، چي (B۵۲) په غولکه نه راغور ځي.

په افغانستان کي د حکومت مخالف سیاستوال داسي کلتور لري، چي د حاکم رژیم پر ضد د پردیو پر مټ پریکسوني تخریبوي د سیسه گر سیاست کوي، افغان سیاستوالو ته لازمه ده، چي د یوه ملي سپېڅلي سیاسي ګوند په توګه له خپل سیاسي سیال او اولس سره د ستیژ پر سر سپیني خبري وکړي نه د پردو تر شا په فریکسوني محالفو او یا هم په ډیري سرټیټي سره په پټه له بهرنیو استازو سره.

د افغانستان حاکم رژیم ته لازمه ده، چي د مخالف سیاسي ګوند په روزلو کي جوړونکي هڅي وکړي او د مخالفینو له نیکو څخه جوړونکي ګټي واخلي، نه دا چي د هغو پر ضد له زورګویي، توطئه ګري او فشار څخه کار واخلي.

ما په خپلو خبرو کي دې اشاره وکړه، چي افغانستان په دغه حساس حالت کي، چي د نړۍ سياسي، پوځي او اقتصادي حالت د بدلون په حال کي دئ، په يوه ځانګړي طاقت پوري د دغه هيواد تړل د افغانستان په ګټه نه دئ، زه غواړم، چي په دې باب خپلو خلکو ته دا خبره ور په ياد کړم، چي:

د اتو سترو صنعتي هيوادونو په غونډه کي، چي په روسيه کي جوړه سوې وه د روسيې لخوا د نړۍ بډايو هيوادونو ته دا وړانديز وسو، چي د دريمي نړۍ د خوارو هيوادونو اقتصادي پروژې دي د معينو بډايو هيوادونو تر قيموميت لاندي راسي او په هرو لسو کلونو کي دي هر بډای هيواد د خپل انکشافي پروګرام راپور نړۍ ته وړاندي کړي، تر څو د بډايو هيوادونو کار په دريمه نړۍ کي معلوم وي، خو له بده مرغه په دې باب د نړۍ د مغرضو هيوادنو لخوا د غه پلان هماغسي پټ او غلی پاته سو. اوس افغانستان ته لازمه ده، چي بايد پخپله صنعتي بډايو هيواونو ته په مستقيمه توګه مراجعه وکړي او د دوی تر اقتصادي قيموميت لاندي د افغانستان د ولاياتو د راوستلو غوښتنه وکړي، تر څو افغانستان د زير بنايي پروژو په برخو لکه د زراعت، صنعت، مخابرات، ودانولو، روغتيا او ښوونې روزنې په برخو کي په وېشل سويو ولاياتو کي خپل کار پيل کړي، چي دا کار په خپله افغانستان د يوه هيواد له نفوذ څخه را باسي او افغانستان ته د رښتيني نړيوال او بې طرف هيواد هويت ور بخښي.

زموږ هغه ملي شخصيتونه، چي له هيواد څخه ګوښه او د پردو تر لاس لاندي انتهاري ژوند کوي دې ته رابولم، چي هر چيري چي ياست بايد بيرته په خپل وطن کي سره راغونډ سئ او يو ځای له خپلو خلکو

سره د خپل مرګ او ژوند سرنوشت وټاکئ او له پردیو څخه دا اختیار واخلئ، چي له بهر څخه پر دغه ملت باندي نور مصنوعي شخصیتونه ور وتپي.

او په پای کي هم له وطنپاله، اګاه او بې طرفه ژورنالستانو څخه هیله کوم، چي خپل انساني او ژورنالیستي رسالت ته متوجه وي او د ستیژ پر سر دي هر ځوان، زوړ، نارینه، ښځینه، پوځي، غیر پوځي، سیاسي او فرهنګي، ملي شخصیتونه، ملي سوداګر، خوار او بډای د خپلو راډیویي، تلویزوني، انټرنیټ پاڼو او کاغذ او قلم له لارو د حقیقت، سولي او ملي وحدت لوري ته را وهڅوي او په دې توګه د افغانستان له پاره افغان رښتیني قهرمانان را برسېره کړي.

په درنښت
ولي عبدالله

Download from:aghalibrary.com